# شهامت

د دوحې تړون په اړه دې
امریکا خپل مسؤلیتونه درک کړي!

دیارلسم کال، لومړی، پرلپسې ۸۱مه گڼه،
ذي القعده ۱۴۴۱هـ ق، مئ – جون ۲۰۲۰م



# اسلامي نظام

د افغانستان د مسئلې یوازینی او اساسي حل

○ سنگین، د فاجعې ورځینی انځور
○ د عبدالله او اشرف غني د واک او وېش خبره چېرته ده ؟
○ اشرف غني د ښځو په کمارلو غرب او امریکا راضي کوي !
○ (د پېښو خونه) په افغانستان کې د امریکایي ماتې یو بل تصویر
○ دتمدن تر چتر لاندې به نور استعمارپاتې شي؟

دام استعماری آی ام اف

## اتلانو آزادي مو مبارك شه !

# شهامت

## علمي، کلتوري او اسلامي مجله

دیارلسم کال، لومړی، پرلپسې۸۱مه ګڼه، ذي القعده۱۴۴۱هق، مئ-جون ۲۰۲۰م

## لـــړلیـــک


| ګڼه | عـــنـــوان | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | سرلیکنه........................................................ | ۱ |
| ۲ | سنګین، د فاجعې ورځینی انځور....................................... | ۲ |
| ۳ | اتلانو آزادي مو مبارک شه ! .................................... | ۳ |
| ٤ | د عبدالله او اشرف غني د واک وېش خبره چېرته ده ؟ ................ | ۴ |
| ٥ | اسلامي نظام د افغانستان د مسئلې یوازینی او اساسي حل .......... | ۶ |
| ٦ | دام استعماري آی ام اف ............................................ | ۸ |
| ۷ | (د پېښو خونه) په افغانستان کې د امریکایي ماتې یو بل انځور...... | ۱۱ |
| ۸ | اشرف غني د ښځو په ګمارلو غرب او امریکا راضي کوي................ | ۱۳ |
| ۹ | اشرف غني ولې د بهرنیانو له پرشاتګ نه ګیله من دی؟! ............ | ۱۴ |
| ۱۰ | ټرمپ د کرزي او اشرف غني ترمنځ توپیر نه شي کولای.................. | ۱٦ |
| ۱۱ | د اشغال په وړاندې د صبر او زغم وروستۍ مرحله ........................ | ۱۷ |
| ۱۲ | افغان عسکره! د اوربند غوښتنې پرځای د ې خپل مسیر مطالعه کړه | ۱۹ |
| ۱۳ | په افغانستان کې داعشي مافیا ....................................... | ۲۱ |
| ۱٤ | د تمدن ترچتر لاندې به نور استعمار پاتې شي؟ ......................... | ۲۴ |
| ۱٥ | د غني نجیب احتمالي برخلیک او ورته والی !............................ | ۲۸ |
| ۱٥ | اداره که تپل شوی، تور سهام ې شرکت؟!................................ | ۳۰ |
| ۱٦ | رازئ له رازه خبر شو !................................................ | ۳۲ |
| ۱۷ | پیام به جوانان !..................................................... | ۳٦ |
| ۱۸ | ګلورینې پاڼې ....................................................... | ۳۹ |
| ۱۹ | د فکري جګړې اصول ، اهمیت او ضرورت!.................................. | ۴۱ |
| ۲۰ | د شهید قاري سیف الله فاتح ژوند او کارنامو ته کتنه.................. | ۴٦ |
| ۲۱ | غامدیت د اوسني عصر لویه فتنه........................................ | ۵۱ |
| ۲۲ | د سوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه د اسلامي حکومت مسئولیتونه | ۵۵ |
| ۲۳ | تاریخ سره بلدتیا له فکري رنځونو دمغز وینځنې غوره لاره .......... | ۵۹ |
| ۲٤ | د مفتي قلم الدین (متوکل) ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه .......... | ٦۱ |
| ۲٥ | له کرامتونو او الهي نصرتونو ډک جهاد................................. | ٦۴ |
| ۲٦ | د لداخ پېښه او دلوی جنګ د راپېښېدو اټکلونه ........................ | ٦۷ |
| ۲۷ | د ذبح حلالولو اړوند مسائل............................................ | ۷۰ |
| ۲۸ | طالب بندي خپل مشر ته !.............................................. | ۷۱ |
| ۲۹ | اعلامیې .............................................................. | ۷۲ |



**دامتیازخاوند :**

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

**مسؤل مدیر:**

ابو ظهیر

**کتـنـپـلاوی :**

لطیف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحید''
نعیم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبیب

**بـیـــــه :**

یوه ګڼه ۳۵ افغانۍ او ٦۰
کلدارې په پاکستان کې

**تخنیکي مسؤل :**

تخنیکي څانګه


**یـــادونـــه**

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
لیکنو مسؤلیت په غاړه نه اخلي.

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان      بریښنالیک: Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

# د دوحې تړون په اړه دې امریکا خپل مسؤلیتونه درک کړي!

له هغه وروسته چې دچنګاښ په ۱۳ مه(۱۳۹۹ل) دقطر په پلازمینه «دوحه» کې دامریکا د بهرنیوچاروو‌زارت د ځانګړي استازي «زلمي خلیل زاد» او د افغانستان اسلامي امارت دسیاسي مرستیال اودقطر دفتر دمشر«ملا عبد الغني برادراخند» ترمنځ لیدل وشول

دکابل اداري دیوتن ویاند «صدیق صدیقي» لخوا رسنیوته وویل شول :چې دیکشنبې په ورځ به څوسوه نوربندیان هم له بندځخه خوشي شي، په وینا یې څودطالبانو(اسلامي امارت) اوامریکا ترمنځ دلاسلیک شوي هوکړه لیک وروسته دسولې په باب دمستقیموخبروفرصت رامنځته شي .

دیادونې وړده چې له دینه وړاندې دکابل اداري مشر»اشرف غني» هم ویلي وو چې تر راتلونکي یکشنبې به دپنځه زره خلاصیدونکوبندیانو له ډلې دپاته شمیر هم پوره کړي.

دادی یکشنبه تیره شوه!خود بندیانودخلاصون څرک ونه لګیده، ښکاري چې دکابل اداري دمشرپه سویه چارواکي هم خپلو ژمنو اووینااووته ځانونه ژمن اومتعهد نه بولي اونه په اړه یې کوم اخلاقي مسؤلیت احساسوي.

دکتونکوپه اند څنګه چې کابل اداره دمختلفو ډلو ټپلو اوباندونوڅخه ترکیب ده، دچارواکو ترمنځ یې وحدت اوهماهنګې شتون نلري، په ګڼو مواردو اوقضایااووکې له یوبل سره لاس وګریوان دي،امرالله صالح اونور چې بندیانوخوشي کولو سره دمخالفت سربیره دجګړې په دوام هم ټینګار لري نه غواړي چې د دوحې تړون باندې دعمل کولوفرصت برابرشي اوپه قصدي توګه هڅه کوي چې دتطبیق په وړاندې یې موانع اوخنډونه واچوي چې یوله هغوڅخه دبندیانوخوشي کولو د پروسې تخریب اوتعطل دی.

ښکاره ده چې دوحې په تړون کې دامریکا متحده ایالاتو اودافغانستان اسلامي امارت ترمنځ توافق شوی وچې دلاسلیک له نیټې څخه وروسته په لسو ورځوکې دننه به دواړه غاړې ۶زره بندیان خوشي کوي او دځنډ پرته به بین الافغاني مذاکرات شروع کیږي، خومتاسفانه چې امریکایې لوري نه یوازې چې څنګه ژمنه کړې وه هغسې یې دتطبیق په لړکې خپل مسؤلیت اداء نکړ بلکې دکابل اداري لخوا ددوحې تړون د نه عملي کولو په جسارت یې هم سترګې پټې کړې خودافغانستان اسلامي امارت ددې باوجود پخپل ټول توان،تدبر اوبصیرت سره د دوحې تړون ته ژمن پاته شو اواجازه یې ورنکړه چې امریکا اودهغې لاسپوڅې اداره یې نقض یا لغوه کړي .

لنډه داچې چې ددې اوسني ځنډ او تعطل مسؤلیت هم دامریکا په غاړه دی ،داپوښتنه له ډیرو خلکوسره شته چې ولې امریکا دخپلې کړې ژمنې سره سم تراوسه دپنځه زره بندیانو خوشي کولووعده پوره نکړه ؟ نواړتیاده چې دافغانستان اسلامي امارت په څیرامریکاهم د دوحې تړون ته ژمنه اومتعهده پاته شي او چاته یې دنقضولو اجازه ورنکړي، هو! دکابل اداري په عنوان دسولې ضد هغه عوامل دي له منځه یوسي کوم چې ددواړولوروترمنځ درامنځته شوي باور او اعتمادفضا تخریبوي او دحقوقي او اخلاقي مسؤلیت له مخې دي دسولې دښمن عناصروته سرزنشت اوتنبیه ورکړي څو په عامه توګه افغان ولس اونړیوال درک او وفهموي چې امریکا ریښتیاهم د اشغال پای‌ته رسولوترځنګ افغانستان ته د سولې د راتلو سره علاقمندې لري.

# سنګین، د فاجعې ورځنی انځور

میوند سادات

د جون پر ۲۹مه هلمند د نولس کلنې فاجعې د یوې بلې غمیزې شاهد و. هره خوا د ماشومانو، سپین ږیرو او ځوانانو اندامونه او د غوښو ټوټې پرتې وې. د یو پنځه کلن کوچني ښایسته مخ په خپلو وینو سور و. یو تنکی ځوان په وینو کې لژند پروت و او ساه یې لنډه لنډه کیده. د پاخه عمر څو مېړه ځوانان پر مځکه پراته وو، کالي یې په وینو لړلي وو، پر لاسونو، پښو او نس یې سپینې ټوټې تاو شوې وې، بدن کې یې د پورته کیدو توان نه و، دسر په خوځولو یې پوښتنې ځوابولې او یو سپین ږیری چې خپلې ماتې څنګلې ته یې کتل، په چورتونو کې ډوب و او د ډیموکراسۍ د عسکرو بشردوستۍ ته ګوته په غاښ و!!

د تېرې دوشنبې په ورځ د هلمند دسنګین دزاړه بازار دحیواناتو په ګنج باندې د ډې سي توپ څو مرمۍ ولګیدلې، دهمدې برید له امله ۲۳ تنه ملکي وګړي چې زیاتره یې سپین ږیري او ماشومان وو، شهیدان او ۴۰ تنه نور ټپیان شول او دخلکو ډېر مالونه او مواشي هم له منځه ولاړل.

د عیني شاهدانو په وینا همدا توغندي په سیمه کې دمیوند قول اردو ددوهمې لېوا څخه توغول شوي او پراخه ملکي مرګ ژوبله یې اړولې ده، یو عیني شاهد وویل چې: یوه مرمۍ پر هاغه پله ولګېده او بله دلته (ګنج) کې دخلکو منځ کې ولګیده، ډېر خلک بې شهیدان او ټپیان کړل، د انسانانو او حیوانانو غوښې سره ګډې شوې، کوچنیان، سپین ږیري او ځوانان په وینو کې پراته وو او یو ډېر بد حالت و.

یو بل عیني شاهد وویل: دلته طالبان نه وو، ټول ولسي خلک وو، دې ګنج کې رایو ځای شوي وو، مالونه یې رانیول او خرڅول او همدغه یې کاروبار و، دا د کافرانو او د کافرانو دسپیانو کار دی، له اشرف غني تر چپړاسي رادې شي، ودې ګوري!، دا ګرده ملکي خلک وو، که یې یو طالب پکې پیدا کړ، ما دې ضربه کړي او.....

په همدې ورځ د سنګین پر غمیزې سربیره د واشنګټن د ساتونکي (مفکر) په قومانده دهیواد په مختلفو سیمو او سمتونو کې هم ډېر ولسي وګړي شهیدان او ژوبل شول، د ببلګې په توګه په لوګر، میدان وردګ، بلخ، بادغیس، ارزګان، کندز، بدخشان او پکتیا کې هم د ډیموکراسي ټوپکمارود میرمنو او ماشومان په ګډون ګڼ هیوادوال شهیدان او ټپیان کړل، کورونه او کارځایونه یې ویجاړ کړل او د غریب ولس شتمنۍ یې لوټ کړې!!

له کومې ورځې راهیسې چې داسلامي امارت او امریکا ترمنځ داشغال دخاتمې ترون لاسلیک شوی، د سولې پر دښمنانو اور بل شوی، د همدې کسانو سرلاری ارګمشر غني دی، اشرف غني له بیلابیلو لارو د سولې د سبوتاژ هڅې وکړې، د طالبانو پر ضد یې تهاجمي عملیات اعلان او پیل کړل، د سولې ملاتړي او فعالان یې ترور کړل، په بازارونو او مسجدونو کې یې چاودنې وکړې، داسلامي امارت د مشرتابه د شخصیت وژنې ناکامې غورځې پرځې یې تکرار کړې، په ګران هیواد کې یې دامریکایي وسله والو د پاته کیدو او د اشغال د دوام ډیرې طرحې جوړې کړې او دبې دفاع او عام ولس پر ضد یې فوق العاده ظلم او وحشت ته ملاوتړله، چې همدا دسنګین وروستۍ عام وژنه یې یو مثال دی.

د سنګین وروستۍ غمیزه د ډیموکراسۍ د عسکرو او د سیکولر مفکر دوحشت او دهشت ورځنی انځور دی، له تېرو ۱۹ کلونو راهیسې افغانان د همدغسې بوږونکي حالت سره لاس او ګریوان دي، ټوپکسالاران، له غرب څخه راپراشوت شوي لیبرالان، تکنوکرات او دمات شوي کمونیزم پاته شوني یې په برخلیک لوبې کوي او د نیویارک او واشنګټن دساتنې او ګټو لپاره خپل ولس قتلوي، اسلامي ارزښتونه او ملي نوامیس تر پښو لاندې کوي او د افغان ولس همدا نمک حرامه بچیان دشخصي ګټو او غلامۍ د پایښت لپاره له هیڅ راز ملي خیانت، دین دښمنۍ، قتلونو، فساد او وحشت له تکرار څخه مخ نه اړوي.

# اتلانو آزادي مو مبارك شه !

شاهد(غزنیوال)

د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ د اشغال د خاتمې او سولې تړون د مندرجاتو له جملې څخه یو اساسي بند د کابل رژیم له زندانونو څخه د اسلامي امارت د (۵۰۰۰) بندیانوآزادي وه چې د سولې تړون د نورو مندرجاتو تر پیلیدو وړاندې باید پوره شي.

د کابل رژیم لکه په مجموع کې چې د اشغال د خاتمې له تړون سره سخت مخالف و د اسلامي امارت د بندیانو د آزادي له پروسې سره یې هم کلک مخالفت درلود.

خو دا چې په دې اړه د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ خبره نهایي شوې نو د دوي موافقت او مخالفت وړاندې څه اغیز نه درلود.

هماغه و چې د روان کال د حمل د میاشتې په ۲۰ نیټه د کابل رژیم له لوري د بندي طالبانو د آزادي لړۍ پیل او په لومړي ځل له څرخي پله او بګرام زندان څخه ۱۰۰ نفره طالبان آزاد شول.

د دې په تعقیب یې یوه ورځ وروسته یوه بله سل کېزه ډله طالب زندانیان نور هم خلاص کړل.

د کابل رژیم له مخالفت سره سره له تیرو دوومیاشتو راهیسې په متعددو دفعاتو کې تر ۳۵۰۰ زیات طالبان آزاد او خپلو کورنیو او خپلوانو ته ورسیدل.

دا ټول بندیان په تیرو ۱۹ کلونو کې د امریکایانو او دهغوی د مزدورانو د شپنیو عملیاتو په ترڅ کې نیول شوي او په ډیر وحشت او ظلم سره د هغوي په زندانونو کې ساتل شوي وو.

په هغوی کې یې ډیری داسې اتلان هم شته چې د اسارت په ټوله موده کې یې په زندان کې هم د اشغال خلاف مبارزه او مجاهده علنا جاري ساتلې او حتی د وحشي امریکایي مستنطیقنو او د هغوي د داخلي غلامانو د سختو شکنجو په حال کې یې هم د هغوي خلاف له جهاد او مقاومت څخه انکار نه دی کړی.

امریکایانو او داخلي مزدورانو یې له دغو جهادي اتلانو سره د وحشت هیڅ بیلګه نه ده پرې ایښې چې وړاندې عملي کړې یې نه ده ، آن تر دې چې د دغو بندیانو مطلق اکثریت یې داسې کسان وو چې ترلسو پنځلسو کلونو یې زیات وخت په اسارت کې پاتې مګر بیا یې هم نه د اسارت لامل ، نه قانوني دوسیه او نه هم د اسارت وخت ورته معلوم کړی و.

ځکه امریکایان او د هغوی مزدوران په دې نظر وو چې دا کسان به نور د تل لپاره د دوی په قید کې بندیان او بیا به کله هم په آزادي کې خپلو کلیو او کورونو ته و لاړ نه شي.

خو الهی فیصلې بیا بدلې وي او هغه دا چې د مقدس جهاد د تداوم له برکته یې د افغانستان د ټول اشغال په اړه اشغالګران د پرشاتګ تصمیم ته اړکړل.

هماغه و چې د اسلامي امارت له مجاهدینو سره یې د اشغال د خاتمې تړون لاسلیک او د خپل ګوداګي رژیم د رأیې او نظر بر خلاف یې د اسلامي امارت د ټولو بندیانو خلاصون ومانه.

نو ای د خپلواکۍ او سربښندنې اتلانو !

آزادي مو مبارک شه ...

تاسو د اسلام او خاورې اتلان یاستئ!

ستاسي د اتکړیو شرنګ اشغالګران وارخطا او له افغانستان څخه پرشاتګ ته مجبور کړل.

ټول افغان ولس ستاسي د شهامت، قربانیو او کړاوونو مرهون دی. ستاسي ټولې قرباني او کړوونه دې الله قبولې او په نتیجه کې دې الله تعالی پر افغانستان اسلامي حکومت قائم کړي !

اللهم آمین !



عابد

# د عبدالله او اشرف غني

## د واک او وېش خبره چېرته ده؟

د دې هیواد هرڅه له نورو هیوادو بېل دي، حتی چې خلک یې هم دنورې نړۍ له خلکوبیخي بدل دي، همدا لامل دی چې په دې هیواد کې دپردیو ټول هغه فلانونه فلجیږي چې دوی یې په جوړولو کې د ماغزو، لګښت، وسایلو او شرایطو په نظرکې نیولو سره په وروستي حد کې بولي او د دوی په فکر په هیڅ لحاظ نیمګړتیایې نه وي، خو دلته په عملي کولو کې یې یواځې دلګښت برخه ښه کار ورکوي اونور هیڅ نه ترې جوړیږي .

که دبلې هرې وچې په هر هیواد په دومره پیمانه داشغال او لاندې کولو فلانونه ترسره شوي وای ، له شک پرته چې اوس به ټول په ټوله د دوی وای هیڅ ستونزه او خنډ به یې په مخ کې نه و، خو دا افغانستان دی چې له اټکل په څو برابره زیات ورته فلانونه، لګښتونه، ستراتیژۍ بدلې شوې، خو بیا یې هم کار ورنه کړ او له شل کاله وروسته حالت داشغال تر لومړیو ډېر بد دی.

د اشرف غني د دویمې دورې انتخابات لکه دلومړۍ په څېر ډېر جنجالي، له فریب اوجعل ډک انتخابات و او حتی چې دلومړۍ دورې په پرتله ولس ورسره تحریم اعلان کړ، خودا چې امریکایانو ته دویمې وفاداره ډلې هم ځان دواک همدومره مستحق باله، نو ځکه د واک دوېش مسئله هم دلومړۍ دورې په پرتله داځل همدومره کړکېچنه وه، تردې چې دانتخاباتو په تاریخ کې یې ریکارډ جوړ کړ اوپه یوه ارګ کې دوه ولسمشران اعلان شول .

داچې د ولسمشرۍ په یوه ګدۍ دوه نه ځایېدل، نو لکه دتېر په شان بیا امریکایانو اشرف غني ته په ګوت ښڼه عبدالله په قدرت ورګډ کړ، هغه چې دقدرت په ٪۵۰ سلنه واک له ولسمشرۍ تېر شو او سپېدار ماڼۍ یې دجمهورۍ ریاست! په ځای د صلحې .... د داسې کمېټې مقر کړه چې په واک کې به له ارګ سره مساوي وي ؛ په دغه وېش خوښ او خپل مقاومت یې بریالی باله، که څه هم دغه جوړ جاړي خورا ډېر وخت واخیست او تر یولړرسمي مراسمو هم ورسېدل، خو اوس چې د وزارتونو وېش او پنځوس سلنې واک اصلي ځای ته راورسېدل، نو بیا سره برګ دي او یوبل ته ګواښونه کوي، تردې چې عبدالله پراشرف غني دفشار لپاره دقطر له دفتر سره دمخامخ اړیکو نیولو دمکۍ ورکړې اولکه چې وینو دمؤقت حکومت او بندیانو په اړه دعبدالله له وروستیو څرګندونو هم همداسې ښکاري .

مؤثق منابع وايي چې اشرف غني په خپل ټيم کې د درز او اختلاف له امله عبدالله ته دواک سلنه ٪۳۰ دېرشوته راټيټه کړي، ځکه دهغه په ټيم کې امرالله صالح او فضلي په دې وېش راضي نه دي . بل لور ته محب او اشرف غني بيا دامريکايانو اونړيوال فشار له امله په ډېرو نورو مواردو کې له هغوی دواړو سره اختلاف ته اړ وي .

په ټوله کې دکابل اداره چې په خپل ټول قوت سره کوښښ کوي دخپلې بقا لپاره هيواد ته دبين الافغاني مذاکراتو له لارې د راتلونکې سولې مخه ونيسي ؛ دامريکايانو له يوداسې ډول تعامل اوبرخورد سره مخ دي چې له دوی يې لاره ورکه کړې، له يوې خوا د دوی ترمنځ ديووالي او اختلاف دحل لپاره د دوی جوړ جاړي او واک دوېش هڅې کوي او دوی ته په صريحو ټکو وايي چې مونږ نور دلته په هيڅ صورت د پاته کېدو نه يو، خو بل لورته چې دوی د واک په وېش کې د وزارتونو خبره رامنځته کړه او عبدالله وغوښتل چې د پنځوس سلنې د وېش له مخې بايد د کورنيو چارو وزارت د ده وي او دده دخوښې سړی يې وزير شي، نو دامريکايي قواوو قوماندان "ميلر" پرې خبر شو سمدستي يې دواړو ته تليفونونه وکړل چې نور هر تقسيم کوئ ويې کړئ، خو په امنيتي سکتور کې دمداخلې حق نه لرئ ، د دوی داخبره پټه پاته نه شوه او رسنيو هم خپره کړه .

امريکايانو فکر کاوه لکه په نورو هيوادو کې يې چې په ډېره اسانۍ سره عملي کوي؛ دلته به هم دخپل فکر" ديمکراسي!" ژر ځکه پياده کړي چې نظامي حضور لري، خوله شل کاله نظامي حضور سره يې نه يواځې داچې دغه غم لړلې ديمکراسي پياده نه کړه ، بلکې داسې ترې بوينه شوه چې ټولې نړۍ ورپورې وخندل، دغني اوعبدالله جوړ جاړی يې يوه بېلګه ده .






# اسلامي نظام

## د افغانستان د مسئلې يوازينی او اساسي حل

زخمي افغان

هر ولس او ملت خپل ځانګړې هويت، تشخص او بيلوونکي خاصيتونه لري. که سياسي حاکميت د ولس له ديني، فکري او کلتوري تشخص سره اړخ ولګوي، نو هلته د حاکميت پر سر د جنجال او نزاع لپاره هيڅ دليل نه موندل کيږي. ځکه سياسي قيادت او نظام د ولس د تشخص هنداره وي. خلک په دې هنداره کې خپل هويت، هيلې او اميدونهويني. نظام د خپل ځان نماينده او ممثل ګڼي او د تقويې او پراختيا لپاره يې هڅې او تلاش کوي.

خو سياسي جنجالونه ډير ځله له دې امله پيښيږي کله چې په يو ولس د هغوی د تشخص، مفکورې او ارزښتونو څخه خلاف يو بيګانه او نا آشنا نظام وتپل شي. دا لکه يو نابللی ميلمه چې په کوم کور کې د مشرۍ او واکمنۍ دعوه وکړي. له ځان سره يو داسې فکر، دستور او مقررات راوړي چې د کور خلکو په ټول عمر نه اوريدلي او نه ليدلي وي. د هغوی د ژوند له شرائطو، افکارو او متعقداتو سره ټکر وي نو طبعا يې په وړاندې د مخالفت غبرګ پورته کوي او خبره جنجال ته رسيږي.

په افغانستان کې د وروستۍ پيړۍ د سياسي نزاع ګڼ بهرني او داخلي عوامل شميرل کيږي. اما يو له مهمو عواملو يې دا دی چې دلته هم د نورو تر استعمار لاندې هيوادونو په شان هڅه شوې چې له مؤمن ولس څخه د خپل سياسي سرنوشت د تعين حق واخيستل شي او پر ځای يې له زور، زر او تزوير څخه په استفاده په مؤمن ولس داسې سياسي نسخې او رژيمونه تپل کيږي چې د دې هيواد د خلکو د له ديني معتقداتو، کلتور او مزاج سره اړخ نه لګوي.

افغانستان چې اوږدو جګړو او مسلسلو تحولاتو ځپلی، يو ځل بيا په کې هغه تاريخي او مهمه مرحله را رسيدلې چې په دې هيواد کې د نظام په څرنګوالي بحث کيږي. له امريکا سره د قطر په دوحه کې د اشغال د خاتمې تړون د نزاع د خارجي بعد غوټولو ته لار هواره کړې او اوس به د بين الافغاني مذاکراتو له لارې د نزاع په داخلي اړخونو بحث کيږي تر څو د مفاهمې له لارې يوه داسې

نتیجه را وایستل شي چې دواړو خواوو ته د منلو وړ وي.

خو دا چې د دې مذاکراتو یوه مهمه موضوع به د نظام په اړه بحث وي نو ځکه سر له اوسه په دې اړه خبرې پیل شوې دي. په دې لړ کې اسلامي امارت په اسلامي نظام ټینګار لري او بالمقابل د کابل ادارې چارواکي د دموکراتیک نظام په دوام تاکید کوي. څه موده وړاندې د کابل ادارې مشر اشرف غني په ارګ کې یوې غونډې ته وویل چې په بین الافغاني مذاکراتو کې د ارګ مهم موقف د جمهوریت د دوام په اړه دی او نورې ټولې خبرې فرعي دي.

البته مسلم حقیقت دا دی چې د افغانستان موضوع یوازې هغه وخت حل موندلی شي چې په دې هیواد کې د ولس له دیني هویت او معنوي تشخص سره سم یو اسلامي نظام رامنځته شي. که موږ د افغانستان د نزاع شالید را وسپړو نو پوهیږو چې په دې هیواد کې د ولس او واکمنو تر منځ جنجال او نارضایتي له هغه وخته را پیل شوې کله چې واکمنو خپلو دیني ارزښتونو ته شا اړولې او هڅه یې کړې چې په ولس پردی نظام او پردي اقدار تحمیل کړي.

د افغانستان پخواني تاریخي شاهان لکه سلطان محمود غزنوي، میرویس خان نیکه او احمد شاه ابدالي چې د خپل ولس له فکر او هیلو سره سم یې په صراط مستقیم تګ کاوه، ولس په ټول اخلاص ورسره ولاړ و، ویښ ولس نذرانه کولې او د شاهي په تخت دوی ناست ول، د ولس عالمان، روحانیون، قومي مخور او نور اقشار ټول له حکومت څخه خوښ ول او په هیواد کې د جنجال او شخړو لپاره هیڅ دلیل نه پیدا کیده.

*اما له کله چې د د وروستیو لسیزو واکمنو د خپل ولس دیني هویت ته شا واړوله او د پردیو تر اغیز لاندې راغلل، له هماغې ورځ د ارګ او مسجد تر منځ فاصله هم زیاته شوه. د واکمنو او ولس تر منځ اوبه خړې شوې او یو پر بل بې باوره شول، چې له همدې امله نزاع کله په یو او کله په بل شکل دوام پیدا کړ.*

که چېرې واقعا د هیواد د اوږدې نزاع د حل او فصل اراده موجوده وي، نو اساسي حل یې دا دی چې د وروستیو لسیزو د لیبرال، کمونیست او دموکرات اوښتونونو په پایله کې د هیواد منحرف شوی قیادت باید بیرته خپل اسلامي او افغاني اصل ته راوګرځول شي. د الله تعالی کتاب او نبوي شریعت باید د اساسي مرجع او قانون په حیث انتخاب شي. معارف، قضاء، فرهنګ، رسنۍ، اقتصاد او د ژوند ټول اړخونه باید اسلامي شي. په دې سره به هم په دنیوي کچه د نزاع علت ختنی شي او هیوادوال به سر تاسري سولې او جوړجاړي ته ورسیږي او هم به په دیني لحاظ زموږ ولس له ټولو هغو نیکمرغیو برخمن شي چې په اسلامي عادلانه نظام کې نغښتې دي.

هغه له پردیو افکارو متأثر خلک چې اسلامي نظام نه شي زغملای، دوی کولای نورو لیبرال هیوادونو ته لاړ شي، ځکه د دنیا په هر کونج کې د دوی د هوسونو لپاره فضاء اماده ده. دوی باید دغه یوه ټوټه ځمکه ( افغانستان) د الله تعالی هغو صالحو او فرمانبردارو بندګانوته پریږدي چې د ځمکې پر مخ د متدین ژوند بل ځای نه لري او غواړي په یو کاملا اسلامي ماحول کې د الله تعالی بندګي وکړي.

او که چیرې په افغانستان کې اسلامي نظام را نه شي، معنی یې دا ده چې د جنجال اصلي لامل لا هم پر ځای پاته دی، بیا به هم د اسلام غوښتنې لپاره مبارزه جاري وي او د ارګ واکمن به هیڅکله د آرام ساه وانخلي. نو ځکه ښه دا ده چې له دې فرصت څخه سمه استفاده وشي او له وضعیت سره د واقعګرایي په اساس چلند وشي.

International
Monetary
Fund (IMF)

# دام استعماری آی ام اف

حبیبی سمنگانی

با گذشت نزده سال، هنوز هم بیش از نصف بودجه اداره کابل را جامعه جهانی (امریکا، بانک جهانی، بانک توسعه آسیایی، اروپا، استرالیا و دیگران) به عنوان کمک می پردازد. آمار رسمی نشان می دهد که ۵۵٪ بودجه سال ۱۳۹۷ و ۵۱٪ بودجه سال ۱۳۹۸ اداره کابل را جامعه جهانی پرداخته است. البته، با آن هم هر دو بودجه کسری بوده است. تقریبا تمام بودجه ارتش اداره کابل را (که سالانه بیش از پنج ملیارد دالر می شود) نیز امریکا و متحدان آن می پردازند. ثابت می شود که قسمت بزرگ مصارف نظامی و ملکی اداره کابل، هنوز هم به دوش دیگران است.

اما اداره ارگ باز هم به بهانه مبارزه با پیامدهای بیماری کوود۱۹ از صندوق بین المللی پول یا آی ام اف ۲۲۰ ملیون دالر قرضه می گیرد. در حالی که اداره کابل تا اکنون بیش از ۵۰۰ ملیون دالر به عنوان کمک برای مبارزه با کوود۱۹ از جامعه جهانی دریافت کرده است، و بالمقابل به جز برنامه های توزیع چهار و نیم کیلو گندم (و آن هم تنها به بعضی از شهروندان پایتخت)، چند عدد نان خشک و دیگر پروژه های سطحی، هیچ کارنامه ای نداشته است. بلکه چنانکه ترس برده می شد، تا هنوز چندین رویدادهای اختلاس از بودجه مبارزه با کوود۱۹، رسانه یی شده است.

صندوق بین المللی پول درخواست قرضه از سوی دولت کابل را با کمال منت گذاری و به حیث «کمک اضطراری به افغانستان» به تاریخ ۳۰ اپریل تصویب کرد. سپس این طرح شرمناک ارگ از سوی پارلمان و سنای کابل نیز تائید شد. قابل ذکر است که پارلمان کابل در ماه اول سال جاری میلادی، قرضه ۶۰ ملیون یورویی کشور ایتالیا را نیز، به هدف تعمیر بخش چهارم راه آهن خواف - هرات تصویب کرده بود.

گرفتن قرضه از صندوق بین المللی پول سبب نگرانی جدی افغان ها شده است. تجربات تلخ کشورهای همسایه و منطقه واضح می سازد که بیمار آی ام ایف، هرگز شفایاب نشده است. پاکستان تا اکنون ۲۱ بار به دروازه آی ام اف رفته و در مجموع ده ها ملیارد دالر قرضه گرفته است. همین اکنون نیز پاکستان زیر تداوی آیم ام ایف قرار دارد، و حتی یک مامور آی ام اف به حیث رئیس بانک مرکزی پاکستان گماشته شده است. اما وضعیت اقتصادی پاکستان روز بروز بدتر می شود. پس از ۱۹۵۲ میلادی، رشد اقتصادی پاکستان برای نخستین بار منفی شده است.

بعضی ها فکر می کنند شاید افغانستان به تازگی به آی ام اف پیوسته است. واقعیت اینست که افغانستان در سال ۱۹۵۵ عضو صندوق بین المللی پول شد. البته از سال ۲۰۰۱، یعنی پس از اشغال افغانستان از سوی امریکا و ناتو، آی ام اف زمام اقتصاد افغانستان را عملا به دست گرفت و گویا به اصطلاحات آغاز کرد. عیان است که آن زمان، ملیاردها دالر به عناوین کمک، آبادی و بازسازی به افغانستان سرازیر شد و گویا بر افغانستان دالر می بارید. آی ام اف با انتشار مقاله ای در سال ۲۰۱۷ میلادی، که نوشته «کریستوف دیونوالد» بود، اقتصاد افغانستان را روشن، امیدوار کننده و در حال رشد خواند.

پرسش اینست که با وصف سرازیر شدن صدها ملیارد دالر کمک در دهه اول اشغال، و با همه اصلاحات، رهنمایی و اطمینان دهی آی ام اف، امروز چرا وضعیت اقتصادی افغانستان آنقدر خراب شد، که بدون قرضه آی ام اف، چاره

ای دیگری نماند. در حالی که از نگاه آگاهان اقتصادی ؛ رفتن به دروازه آی ام اف، آخرین چاره ای برای زنده ماندن اقتصاد یک کشور می باشد. این پرسشی بسیار مهم است که چاره گری نزده ساله آی ام اف، چه سودی برای افغانستان داشت؟

سازمان صندوق بین المللی پول ( International Monetary Fund) به تاریخ ۷ دسمبر ۱۹۴۵ میلادی به وجود آمد و از سال ۱۹۴۷ کار رسمی خود را آغاز کرد. پس از بحران بزرگ اقتصادی دهه ۱۹۳۰ و ویرانی های گسترده جنگ جهانی دوم، هرگاه ساختار و نظم جدید اقتصادی جهان در حال تشکیل بود، طرح ایجاد این صندوق در «کنفرانس برتون وودز» تصویب شد. نظم جدید اقتصادی جهان که به سیستم برتون وودز هم یاد می شود، در حقیقت کاپی نظام سرمایه داری/کاپیتالیسم امریکا بود. صندوق تازه تاسیس شده وظیفه داشت که نظم جدید اقتصادی جهان را نظارت کند و نیز افزایش همکاری اقتصادی بین المللی، تسهیلات لازم برای تجارت خارجی و قرضه دادن برای کشورهای مترقی، از اهداف این سازمان بود. قابل ذکر است که سیستم برتون وودز در سال ۱۹۷۱ میلادی از سوی امریکا پایان داده شد.

حالا این سازمان ۱۸۹ عضو دارد. هر عضو طبق توان اقتصادی خود سهمیه تعیین شده اش را به صورت ارز به این سازمان می پردازد. و سپس از همان ارز، به کشورهای عضو در صورت ضرورت قرضه داده می شود.

امور سازمان صندوق بین المللی از سوی شورای حکام ( board of governors) به پیش برده می شود. هر کشوری که بیشتر پول بدهد سهمیه اش بیشتر و رای آن هم نیز قوی تر می باشد. تصامیم اجراآت قرضه نیز بر بنیاد آراء صورت می گیرد. سهمیه امریکا با ۱۱۸ ملیارد دالر، که ٪۱۷ تمام بودجه صندوق بین المللی پول را تشکیل می دهد، از همه بیشتر است. بنا برین رای امریکا نیز مساوی با ٪۱۷ آراء و از سائر اعضا قوی تر است. تنها امریکا، کانادا، فرانسه، آلمان، ایتالیا، جاپان، روسیه و بریتانیا، ٪۵۰ آرای این سازمان را به دست دارند و ٪۵۰ متباقی در دست ۱۸۱ اعضای باقی مانده است. گویا آرای کشورهای ضعیف اصلا اعتباری ندارد.

بازسازی کشورهای ویران شدهء اروپا بر اثر جنگ جهانی دوم، به حیث یگانه دستاورد و کامیابی بزرگ صندوق بین المللی پول یاد می شود.

صندوق بین المللی پول در ابتدا کشورها را با قرضه های بدون سود، آسان و درازمدت، به گرفتن قرضه تشویق می کند. چنانکه قرضه ۲۲۰ ملیون دالری برای افغانستان بدون سود، درازمدت و به شرایط آسان فراهم می شود. اما هرگاه کشوری یکبار در دام این سازمان گرفتار شود، به تدریج با مشکلات بزرگ اقتصادی دچار می شود. آی ام اف به بهانه اصلاحات و بازنگری، وضعیت اقتصادی کشورها را بدتر می سازد و نیز امور اقتصادی و حتی پالیسی خارجی کشورها را به تدریج در کنترل خود می آورد. حتی گفته می شود که وزیر خارجه ترکیه در دهه ۲۰۰۰ میلادی به خواست آی ام اف تعیین شد. نیز رئیس کنونی بانک مرکزی پاکستان کسی است که از ماموریت آی ام اف به این سمت رسیده است. از همین سبب مردم آن کشور می گویند که مذاکرات میان پاکستان و آی ام اف نه، بلکه میان آی ام اف و آی ام اف می شود. زیرا نمایندگان دولت پاکستان، در حقیقت کارمندان آی ام اف هستند.

کشورهای که قرضه های صندوق بین المللی پول را با همه شرایط آن پذیرفتند، دچار بحران های اقتصادی شدند. اقتصاد کشورهای امریکای لاتین در دهه ۸۰ میلادی و کشورهای جنوب شرقی آسیا در ۱۹۹۷ به سبب تطبیق شرایط سنگین آی ام اف، از پا افتیدند.

شرایط عمده آی ام اف بر قرضه گیرندگان اینست که ارزش پول خود را در برابر دالر پایین بیاورند، مصارف غیر انکشافی دولت را کاهش دهند، یارانه یا کمک های مالی (Subsidy) به مردم را پایان بخشند و گراف مالیات را اضافه و مالیات جدید وضع کنند. این همه سبب گرانی اجناس می شود و مردم کم درآمد کشور بیشتر زیان می بینند. بالمقابل اقتصاد کشور ظاهرا به پا ایستاده

مـی شـود، امـا در درازمـدت پیامدهای زهر آگینی می داشته باشـد. بیشـتر کشـورهای کـه از این سازمان قرضـه گرفتـه انـد و پروگرام های اقتصادی آن را هـم عملـی کـرده انـد، پـس از مـدتی وادار به این شده اند که دوباره و با وضعیت بـدتر اقتصادی، بـه ایـن سـازمان بـرای قرضـه رجـوع کنند.

کشـور مصرـ در سـال ۲۰۱۶ بـرای قرضـه ۱۲ میلیـارد دالـری بـا صـندوق بـین المللـی پـول بـه توافق رسید. ایـن پـول گـزاف در ظـرف سـه سـال و بـا تطبیـق تـدریجی شرایـط آی ام اف بـه مصرـ داده شـد. مصرـ بنـا بـر برنامـه «اصـلاحاتی» آی ام اف، ارزش پـول را پـایین آورد، یارانـه هـا را حتـی از مـواد و اجنـاس ضروریه ختم کرد. و مالیات را به گونـه بـی پیشـینه بـالا بـرد. حـالا حامیـان ایـن سـازمان اسـتعماری، وضعیت اقتصادی مصرـ را خـوب توصـیف مـی کننـد و آن را بـه حیث نمونـه ای از کامیـابی آی ام اف، یـاد مـی کننـد. چنانچـه روزنامه فایننشیال تایمز، یکی از مهم ترین روزنامه های اقتصادی جهـان، مـی گویـد کـه رشـد اقتصـادی مصرـ پـس از ۲۰۱۰ میلادی برای اولـین بـار بـه ۵،۶٪ بالا رفته است.

اما رخ دیگری قضیه از این قـرار اسـت کـه بـه اسـاس راپـور هفته نامه اکونومیست؛ دکانداران در بازارهای کمرنگ مصر بیکار نشسته انـد و با افزایش نرخ برق، به جز روشنی موبایل همه چراغ هـا خـاموش اسـت. پـیش از رجوع به آی ام اف سی در صد جمعیت مصر زیر خط فقر زنـدگی مـی کردنـد، امـا حالا ۵۵٪ مصری ها به زیر خط فقر رفتـه انـد. مصـارف خـانگی مصری هـا بـر اثـر پایین آمدن نرخ پوند مصری و گران شدن اجناس ۴۳٪ بالا رفتـه اسـت. گوشـت به جنس بیش بها و لوکس تبدیل شده است. دولت از حلق مردم پول می کشد. ناگفته نماند که مصرـ از ۱۹۷۰ بـه اینسـو در دام آی ام اف گرفتـار اسـت و هنـوز هم وضعیت اقتصادی آن، قابل اطمینان نیست.

خانم کریستین لاگارد، رئـیس پیشـین صـندوق بـین المللـی پـول در سـال ۲۰۱۲ گفته بود : «هرگاه دنیا با بحران دچار شود، ما پیشرفت می کنیم و فعـال تـر مـی شویم. زیرا آنگاه قرضه می دهیم، سود می گیریم و سازمان مـا خـوب رشـد مـی کند. اما هرگـاه اوضـاع دنیـا خـوب تـر شـود و چنـد سـال پـیهم خـوب رشـد کنـد، عملکرد ما از نگاه اقتصادی ضعیف می شود». گویا پیشرفت این سازمان وابسـته به اوضاع خراب جهان است. پس فکر کنید که این سازمان چه اهـدافی را دنبـال می کند.

آیم ام اف در حقیقت یکی از سازمان های مهم استعماری در جهـان معـاصر اسـت. زمانیکـه پاکسـتان در سـال ۲۰۰۲ بـه آی ام اف درخواسـت قرضـه داد، آن زمان چون پاکستان به حیث متحـد خـارج از نـاتوی امریکـا، نقـش عمـده ای را در جنگ افغانستان ایفا می کرد، امریکا سفارشگر قوی پاکسـتان در آی ام اف بـود و پاکستان توانست به شرایط آسان تر قرضه بگیـرد. همچنـان هرگـاه پاکسـتان در سال ۲۰۰۸ به آی ام اف رفت، باز هم پاکستان به سـفارش امریکـا بـدون چنـدان مشـکلی ۷ ملیـارد دالـر قرضـه گرفـت. امـا در ۲۰۱۹ چـون روابـط دولـت ترامـپ بـا پاکستان چندان خوب نبود، پاکستان بسیار به شرایـط دشـوار و پـس از نشسـت های بسیار، توانست بر قرضه ۶ ملیارد دالری به توافق برسـد. ایـن هـم واقعیـت است که چون آی ام اف می دانست پاکستان به جز چاره جوی از آی ام اف، دیگـر چاره ای ندارد، شرایط خود را سخت تر ساخت.

آگاهان می دانند تا هنگامیکـه منـافع اسـتراتژیک امریکـا بـه افغانسـتان و اداره کابل وابسته است، این قرضـه هـا چنـدان مشـکلی را بـه بـار نخواهـد آورد. زیرا امریکا در بدل این پول ها، منافع خود را تامین می کند. اما هرگاه استراتژی امریکا تغییر بخورد و یا اداره دیگری، که در فکـر منـافع امریکـا نباشـد، جـاگزین این اداره دست نشانده شود، آنگاه اینگونه قرضه ها، به دردسر مسـتقلی بـرای افغانستان تبدیل خواهد شد.

قابل ذکر است که این نخستین قرضه اداره کابل نیست، بلکه حـالا قرضـه این اداره فاسد به حدود سه ملیارد دالر می رسد.





# «د پيښو خونه» په افغانستان کې

## د امريکايي ماتې يو بل تصوير

احمد مختار

په دې وروستيو کې د امريکا د ملي امنيت د پخواني مشاور جان بولټن په قلم ليکل شوی کتاب د پيښو اطاق (« The Room Where It Happened ») چاپ او بازارته راوتلو په نړيوالو رسنيو کې هنګامه جوړه کړې ده.

جان بولټن د امريکا د جمهوري خواهانو په منځ کې د افغانستان ، عراق ، ايران او شمالي کوريا په اړه د جګړه ييزې تګلارې پلوی دی.

نوموړي په کال ۲۰۱۶ کې د ولسمشر ټرمپ لپاره په تبليغاتي کمپاين کې موثر رول درلود، ځکه خو ده ته د ټرمپ په حکومت کې د بهرنيو چارو وزارت چوکۍ په پام کې نيول شوې وه.

خو ټرمپ تر خپل بريالیتوب وروسته د بهرنيو چارو د وزير په حيث د بولټن له ټاکلو څخه صرف نظر او هغه يې تر يوه نيم کال انتظار وروسته د ملي امنيت د مشاور په توګه مقرر کړ.

د ولسمشري لپاره په ټاکنيزو کمپاينونو کې د ټرمپ اساسي شعار داوه چې دی به د افغانستان جګړه ختموي.

هغه جګړه چې د امريکا په تاريخ کې تر ټولو اوږده او د امريکايانو ورباندې ډېر زيات مالي او بشري تاوان شوی دی.

دا هغه جګړه وه چې د هغې په پيل کې امريکايانو ياده جګړه د تقدس تر کچې معتبره او د امريکا اسبق ولسمشر جورج ډبليوبوش د سپينې ماڼۍ تر څنګ له سانت جون تاريخي کليسا (St. John's Church) څخه هغه د صليبي جګړې په نوم اعلان کړه.

ټوله نړۍ يې په يادې جګړې کې د ګډون لپاره را وبلله او څوک چې ترې بهر پاتې کېدو هغوی يې د ځمکې له مخې په محو کولو وګواښل.

**خو د تاريخ هم عجب تکرار دی ، پر يادې جګړې تر ۱۹ تاواني کلونو تيريدو وروسته د امريکا اوسنی ولسمشرـ ډونلډ ټرمپ هم هماغې د سانت جون کليسا ته ورغی له هغه ځايه يې دا تاواني جګړه پردۍ او لعنتي جګړه وبلله او د امريکا د تر پښو لاندې شوي حيثيت د بيرته راګرځولو په غرض يې د هغې د ژر پايته رسيدو خبره تکرار کړه.**

په افغانستان کې د امريکا او د هغې د پوځي متحد ناټو ټرون ۱۹ کاله ښکيل کيدل او په دې جګړې

کې پر تریلونونو ډالرو لګښت سربېره د خواوشا ۴۰۰۰ بهرنیانو سرباېللو د سپینې ماڼۍ او پنټاګان د چارواکو تر منځ ژور اختلافات راپیدا کړل.

په دې اختلافاتو کې د نوموتي مشهور جنرال ستانلي مکرستل او جګړه خوښي جان بولتن په څېر ډېرو مهمو پوځي او استخباراتي چارواکو مهم پوځي او امنیتي مسؤلیتونه بایلودل.

جان بولتن په داسې حال کې د سپینې ماڼۍ د ملي امنیت د مشاور په حیث وټاکل شو چې تر ده وړاندې په عین همدې وظیفه کې اچ آر مک مستر ناکامه شوی و ؛ ځکه ټرمپ مک مسټر په بولټن تعویض کړ.

جان بولتن د یوه جګړه پلوي شخص په توګه ټرمپ ته په افغانستان کې د مزید وحشت کارولو مشوره ورکړې.

د نوموړي له همدې وحشیانه مشورو څخه یې لومړی په افغانستان کې امریکایي پوځیانو ته د جګړې په ډګر کې د وژلو پراخ صلاحیت او د همدې عام وژنې له امله د امریکایي سرتیرو د نه محاسبه کولو مشوره کړه .

دوهمه هغه یې د افغانستان او جنوبي آسیا لپاره د ټرمپ جنګي ستراتیژي وه چې هغه هم سراسر د ولسي خلګو په بمبارولو ، وژلو او ځورولو شامله وه.

خلاصه دا چې ټرمپ ، بولټن او لیوني سپي (جیمز میټیس) د هغه وخت د دفاع وزیر په ګډه پوره اولس میاشتې د افغان مظلوم ولس پر خلاف په پوره وحشت کارولو کې تیرکړل خو د الله په فضل چې د صلیبي اشغالګرو په مقابل کې د افغانانو په جهادي عزم او اراده کې هیڅ تغیر را نغی.

وحشي جان بولتن چې د حماقت او حشت کچه یې د ټرمپ تر وحشت او حماقت ډېره لوړه وه لا هم په خپل حماقت ټینګ او غوښتل یې چې نور هم د وحشت له لارې په افغانستان کې خپل اشغال غزولو ته دوام ورکړي.

خو ټرمپ چې د دغه ډول وحشي ستراتیژي کارول ورته د امریکا د مزیدې تباهي لامل ښکاریده د بولټن مخه یې ونیوله او هغه یې د ملي امنیت له سلاکارۍ څخه وشاړه.

په داسې حال کې چې د ستر نړیوال ځواک په توګه د امریکا متحده ایالات د ناټو ترون له پوځي او سیاسي مرستې سره په افغانستان کې له پوره شکست سره مخ شول نو د سپینې ماڼي او پنټاګان ترمنځ مخالفتونو نورهم زور واخیست.

حتی د بولټن له کتاب خپریدو وروسته ټرمپ هغه د یوه بد اخلاقه او ماجرا جو لیوني انسان په حیث یاد کړ.

بولتن د ټرمپ له قوله د خپل کتاب په یوه برخه کې داسې وایي:

(( مونږ هرڅه بایللي او اوس له یوه مطلق شکست سره مخ یو.

په افغانستان کې زمونږ ټول مالي او پوځي لګښتونه زمونږ لپاره لوی شرم دي، نور زه د دغو تلفاتو او لګښتونو د اوریدو زغم نه لرم ، زه اصلا د دې لپاره ټاکل شوی یم چې دا بې ګټې جګړه پایته ورسوم.

د بولټن یاد کتاب د امریکایي پوځي او امنیتي چارواکو له منځه لومړی لیکنه ده چې د افغانستان په جګړه کې د امریکایانو د شکست، بې نظمي او اختلافاتو یو ژوندی تصویر ترسیموي.

لیږ به منتظر شو چې د یادې جګړې نور شکست خوړلي امریکایي جنرالان د پخواني شوروي هغو جنرال بوریس ګروموف او سترجنرال الکساندر مایوروف په څیر په خپلو خاطراتو کې څه لیکي؟



# اشرف غني د ښځو په ګمارلو غرب او امریکا راضي کوي !

خلیل ـ عزیز

پهٔ ملکي او امنیتي سکتورونو کې د ښځو او نجونو وروستی ګمارنې په اصطلاح د هغو اصلاحاتو لهٔ ډلې څخه دي چې کابل نیمه خوا اداره لهٔ نړیوالې ټولنې سره پهٔ جنیوا کنفرانس کې وعده کړې ده.

په ژمنو کې یې راغلي چې پهٔ دولتي برخو کې به د ښځو ونډه پهٔ پراخه کچه زیاتوي. پهٔ بدل کې یې نړیوالې ټولنې هم خپلې مرستې تر دغو وعدو مشروطې ګڼې.

دلته څرګندیږي چې ښځې د یوې نورمالې او طبعي پروسې لهٔ مخې نه، بلکې د خارجیانو د فشار پهٔ نتیجه کې د لوړو پوستونو خاوږهٔ تر خولې کوي.

ستونزه دا نه ده چې ښځه لهٔ کوره بهر کار کوي؛ ځکه اسلام ښځې ته د زده کړې، تحصیل، تجارت او یولړ دولتي مسئولیتونو د اخیستو حق ورکړی. مګر دا هر څهٔ د ځانګړو شرایطو پهٔ نظر کې نیولو سره د یو قانون پهٔ ډول داسې پېیل شوي چې پهٔ هغهٔ کې د مسلمانې ښځې عزت او عفت خوندي پاتې کیږي.

پهٔ افغانستان کې اصلي ستونزه دا ده چې دداسې ګمارنو تر شا بهرني فشارونه او ګڼ ناولي اهداف لکه: د نامحرمو ښځو او سړیو تر منځ اختلاط عادي کول، فحشا او بدلمني ته لار جوړول، د ښځو لهٔ مغزو څخه اسلامي ارزښتونه غورځول، د جنسیت او مساوات مسائل راپورته کول او داسې نور…

پهٔ حقیقت کې دیموکراسي د مسلمانو ښځو هغه لوړ مقام او منزلت چې خپل دین او فرهنګ ورکړی لهٔ هغوی څخه اخلي، او د فاسدو سیاسي اشخاصو د ساعت تېریو جنسي اړتیاو د مشبوع یوه وسیله ځنې جوړوي.

لکه څنګه چې وینی د ارګ وروستی رسوایانې(لهٔ ښځو څخه د د پارلمان و وزارت خانو د څوکیو پهٔ مقابل کې جنسي غوښتنې) د نجونو فوټبال ټیم پهٔ غړو جنسي تېري او پهٔ زرګونو نورو پېښو لهٔ دغې پلټې پروژې څخه پرده پورته کړې.

چې د ځینو بهرنیو حلقو او داخلي ګمارونکو لکه مدني ټولنې او د ښځو د حقوقو مدافعینو لهٔ خوا پهٔ ښکاره ډول د فساد او بدلمنی پهٔ سیستماتیک ډول دودولو باندې دلالت کوي.



# اشرف غني ولې

## د بهرنیانو له پرشاتګ نه ګیله من دی؟!

معین احمد ( معین )

د جون میاشت چې په تیرو کلونو کې به د کال د نورو میاشتو په پرتله د طالبانو او امریکايي پوځیانو ترمنځ د سختو جګړو شاهده وه اوس د جګړو په ځای له افغانستان څخه د امریکايي ځواکونو د پرشاتګ په میاشت بدله شوې.

د امریکا مشهورې تلویزوني شبکې «سي ان ان» د دوو امریکايي چارواکو له قوله راپور ورکړی چې د ټرمپ اداره له افغانستانه د څلور زره نورو امریکایي عسکرو په ایستلو غور کوي او په دې برخه کې یې پلان په وروستي کېدو دی.

تر دې وړاندې د امریکا د مرکزي قومندانۍ مشر جنرال کېټ مک کنزي رسنیو ته ویلي و چې د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې تړون په اساس امریکا په افغانستان کې د خپلو ځواکونو شمېر له خواو شا ۱۲۰۰۰ زرو څخه ۸ زره او ۶۰۰ تنو ته را کم کړی دی.

مک کنزي دا هم ویلي و چې که شرایط برابر شي، امریکا تیاره ده په افغانستان کې د خپل نظامي حضور کچه صفر ته راټیټه کړي.

د امریکا او طالبانو تر منځ د شوې توافقنامې په اساس باید امریکايي ځواکونه د راتلونکې جولای میاشتې تر نیمايي پورې د خپلو ځواکونو شمېر ۸۶۰۰ ته را کم او په څوارلس میاشتو کې دننه باید ټول بهرني عسکر له افغانستانه وباسي.

له افغانستانه د امریکايي ځواکونو د وتلو راپورونه داسې مهال ورکول کیږي، چې د کابل حکومت مشر «اشرف غني» د بهرنیو ځواکونو چټک وتلو ته اندېښمن دی او دا کار د افغانستان او امریکا په زیان بولي.

نوموړي په دې وروستيو کې له ټي ، اي ډي په نوم بنسټ سره په خپلې ويډيويي مرکه کې ادعا کړې ، چې د امريکايي عسکرو چټک وتل به تر افغانستان امريکا ډېره تاواني کړي.

نوموړي دا هم ويلي چې تر ټاکلي وخت وړاندې له افغانستان څخه د بهرنيو ځواکونو وتل د سولې پروسه زيانمنه وي، بايد امريکايان د افغانستان د شرائطو په پام کې نيولو سره په تدريجي ډول له افغانستانه ووځي.

خو د اشرف غني د انديښنې برخلاف بهرنۍ مداخله په تيره پوځي هغه يې په افغانستان کې د جګړې او بې ثباتي اساسي لامل ده او ځومره ژر چې د دې مداخلې کچه کمېږي په هغه اندازه ورسره د سولې د ټينګښت امکانات زياتيږي.

که واقعا هم لکه امريکايي جنرالان چې وايي د دوي (۴۰۰۰) سرتيري تر ټاکلي وخت پنځه ويشت ورځې وړاندې له افغانستانه وتلي دا به په افغانستان کې د سولې د عملي کيدو په لاره کې يو تر ټولو مهم او عملي ګام وي چې د امريکايانو لخوا اخيستل کيږي.

د سولې تړون نورو مؤيدينو ، ناټو ـ او ملګروملتونو ـ ته هم په کار دي چې د دې تړون د تائيد او تکميل ترڅنګ د هغه د مثبتو اړخونو را څرګندولو په غرض دغه ډول څرګندونې وکړي؛ نه دا چې د يو شمير مغرضو حلقاتو په دستور د هغه د تخريب او تضعيف هڅه وشي.

پر کابل رژيم د بهرنيو ځواکونو ژر پرشاتګ ځکه منفي اغيز لري چې د هغوی اعتماد او باور په همدې ځواکونو دی.

همدا بهرني ځواکونه وو چې کابل رژيم ته يې په لامشروع ډول په افغانستان کې د تحميل کيدو زمينه مساعده کړه.

که نن بهرني ځواکونه له افغانستانه وزي د هغوی په ټانګونو او الوتکو کې راوړل شوي ښاغلي نور دلته د پاتې کيدو کوم چانس نه لري.

ځکه نو هغوی تل په افغانستان کې د بهرنيانو شتون ضروري او وتل يې د افغانستان او امريکا په تاوان بولي.

خو واقعيت دادی چې له افغانستان څخه د بهرنيانو پرشاتګ او د افغانستان د اشغال پايته رسول نه د افغانستان په زيان دی او نه هم د امريکا ؛ بلکې د زيان په ځای د افغانستان او ټولې سيمې لپاره د ثبات او امنيت پيغام له ځانه سره لري.





# ټرمپ دکرزي او اشرف غني ترمنځ توپير نه شي کولای

م مبصر

دکابل اداري شړيدلی او شرميدلی ولسمشر که مونږ ته هر څومره لاپې شاپې ووهي چې خپلو بادارانو ته ډير ورنيږدي او ورباندې ګران دی او تردې چې دنړۍ ددوهم مفکر نوم يې ورکړی، خو د امريکا دولسمشر دملي امنيت پخوانی سلاکار جان بولټن وايي چې ډونالډ ټرمپ د ولسمشر اشرف غني او پخواني ولسمشر حامد کرزي ترمنځ توپير نه شوای کولای او ډېر وخت به يې د دوی نومونه غلطول.

بولټن دا خبرې په خپل يوه کتاب کې کړي چې اوس يې پر چاپ لانجه روانه ده او ټرمپ ددغه کتاب د چاپ د مخنيوي هڅه کوي.

بولټن وايي اشرف غني خپله اعظمی هڅه وکړه ترڅو دټرمپ له امريکايي اداري سره خپله ځاني راشه درشه تودو وساتي او امريکاته په خپل سفر ټرمپ اداري ته هغه ټکي چې مطلقا ديوه مامور او امريکايي منافعو ته دژمن نوکر مکلفيت څرګندوي ورپه زړه کړي، خو په هغو سربيره يې هم دټرمپ توجه جلب نکړه او دکوم شاباسی وړ ونګرځيد.

د کرزي له دورو رانيولي د اشرف غني تر ادارو پوري خاص د امريکا يی منافعو لپاره پوره پنځه لکه مظلوم افغانان له تيغه تير شول يو ميلون تنه شکنجه او وربړول شول او په ميلونه تنه افغانان په کوردننه کي مهاجرت او کډوالی ته اړ کړل شول ترڅو داشرف غني په وينا د نيويارک او واشنګټن کوڅې خوندي کړي ولې لدغو ټولو غلاميو اوحلقه بګوشيو باوجود ټرمپ خپل دغه علمبردار تاليخټي نه پيژني.

داسې هم نده چې دکرزي، اشرف غني نومونه ډير سخت او په حافظه کي ځای نشي نيولای اصلا خبره داده چې کوم ارزښت او اهميت ورته نلري او وخت ورباندي نه ضائع کوي.

مسلمانان او باغروره افغانان د داسې چارواکو لايق نه دي، دوی بايد داسې واکمن ولري چې د نوم په اخيستو يې د ټرمپ او نورو غربيانو پښې ولړزيږي او د ويرې احساس وکړي او دايو حقيقت دی چې داشرف غني خيلو اوګل مرجانوالو څخه لږ ترلږه دکابل دناحيو او حوزو دعسکرو هم سترګي نه شرميګي ځکه هغوي پوهيږي چې واکمن يې تشې نانځکي او دپرديو لاسپوڅي دي.

له بلې خوا دکابل بې ضميره ولسمشر اشرف غني ځو ځله ويلي : مونګ په دې فخر کوو چې دده په دوره کې کم شمير امريکايي عسکر وژل شوي او په دې ټکي هيڅ ډول خفګان نه ښيی چې داشغالګرو دې ساتلو په خاطر يی په زرهاوو عسکر ووژل شول

يعنې دخپلو عسکرو په مرګ ژوبله چې دامريکايانو په نسبت څو برابره زيات له منځه تللی افتخار کوي او لويه توره يې ګڼي؟!

بياهم په دومره پلنې او سوروري چاپلوسی او غلامی خپل بادار ته ددوتوتو هومره ارزښت او قدر نلري حتی هغوئ پيژني هم نه چې کرزی يې څوک ده او اشرف غني يې څوک ده ؟

اوس دې افغانان خپله قضاوت وکړي چې ددغو کثيفو چارواکو په مذيد اقتدار او واکمنی کې ميړني ټاټوبي او اتل ولس ته کوم خير او سوکالي ويني؟!



# د اشغال په وړاندې

## د صبر او زغم وروستۍ مرحله

عبدالولي خلیل

د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپتمبر په ۷ نیټه امریکا او ملګرو یې پر افغانستان یو خونړی یرغل وکړ او پر دې ځمکه یې هغه اسلامي نظام ړنګ کړ، چې په دې نږدې پېړیو کې یې د نړۍ پر مخ ساری نه درلود.

له شک پرته، چې د نړۍ د دې ستر زبرځواک سره ډغره وهل او سیالي ورسره کول به د چا د وس خبره نه وه خو بیا هم د امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی یو معجزانه ابتکار و، چې د دوی په وړاندې یې نظامي قیام وکړ.

د دې انقلاب ترخې خاطرې، آهونه او دردونه، خوارۍ دربدرۍ، ظلمونه وحشتونه، زخمونه شهادتونه، زندان، زولنې او نور هغه څه چې تاریخ به یې کله هم له خپلې پاڼې لرې نه کړي، د همدې قربانیو برکت دی، چې امریکا له خپله غروره کښته او پر تېره کړنه افسوس وکړ. له طالبانو سره یې د خبرو له لارې دغه جګړه پای ته رسول غوره وګڼل او مذاکرات یې پیل کړل.

لا جوته نه ده، چې د سولې بهیر به له کومو پایلو سره مخ شي، خو دې خبرو د خلکو فکرونه په دوو لورو وېشلي، ځینې به د انقلاب دغه سختو پړاونو ته په کتو سره زیاته خوشبیني ښودله چې ګنې هیواد مو څه د امن ساه واخلي. یو شمېر یې تاریخ ته په کتو (چې تل د یهودوانو او نصرانیانو لخوا له کړو ژمنو سره تاریخي غدر دی) ناهیلي ځرګندوله چې دا به د کفارو یو فلان سوې دسیسه وي چې پکې راګیر مو کړي.

لنډه دا چې امریکا او طالبانو د یوولس پړاوه مذاکراتو وروسته یوې موافقې ته سره ورسېدل او امریکا خپل ځان ته د اطمنان په خاطر له طالبانو د یوې اونۍ اورکم غوښتنه وکړه ، دغه کړنه یې د یوې ازموینې په توګه ترسره کړه، چې آیا طالبان په دې مذاکراتو کې ریښتیني دي او که نه؟

طالبانو دغه اونۍ په ډېر دیانت او ریښتینولۍ سره پای ته ورسوله چې که څه هم د اورکم په نوم نومول سوې وه خو په عمل کې یې د اوربند غوندې تېره کړه.

له دې وروسته د تېر کال د کب یا حوت میاشتې پر لسمه په قطري پلازمېنه دوحه ښار کې د امریکا او

طالبانو تر منځ موافقه لاسلیک سوه ، په موافقه کې پرېکړه وسوه چې امریکا به خپل ټول عسکر په بشپړه توګه په ۱۴ میاشتو کې له افغانستانه باسي او دغه موده به د امریکا او طالبانو تر منځ اوربند وي.

له دې ۱۴میاشتنۍ مودې دا مهال څلور میاشتې تېرې سوې دي، چې د طالبانو له لوري نه کوم امریکایې عسکر وژل سوی او نه پر کوم امریکایې بېس یا نورو مراکزو بریدونه سوي، خو د امریکا له لوري د هیواد په ګڼو ولایتونو؛ کندهار، هلمند، غزنی، بغلان، پکتیا، پکتیکا او ځینو نورو ولایتونو کې په لسګونه داسې پیښې ثبت سوې چې دوی له توافق نامې څخه سرغړونه کړې او پر مجاهدینو یې هوایي وارونه کړي، چې له امله یې لسګونه مجاهدین او عام وګړي په شهادت رسولې چې د ځینو یادونه طالبانو کړې ده او د ځینو په اړه امریکایانو خپله وضاحت ورکړی د ځینو نورو په اړه بیا چوپ پاتې سوي دي، له دې ټولو سربېره د دښمن کشفي الوتکې هر وخت د ښار لپاره په پروازو بوختې او ترصد کوي.

د دې بریدونو په وړاندې طالبانو تر اوسه کوم نظامي اقدام نه دی کړی پرته له دې چې د دوی د مذاکراتي ټیم سره به ضرور پر دې خبرې کړي وي.

له اوربند سره، سره د یو مجاهد طالب شهیدول به زموږ د مجاهدو ځوانانو او مشرانو په زړونو ځومره دردمن تېرېږي، الله تعالی پرې ښه علم لري، له دې امله د ځینې ځوانانو د زړه احساسات دا وایې چې باید طالبان د دوی په وړاندې کومه نظامي پرېکړه او له توافقنامې څخه د سرغړونې ځواب وکړي، څو تر څو به د دوی سره حوصله کوو؟

په دې برخه کې باید له طالبانو ګیله ونه سي، چې دوی ولې د امریکا د سرغړونو په وړاندې کوم نظامي اقدام نه کوي او له صبر او زغم څخه کار اخلي، ممکن طالبانو دغه ټکی په پام کې نیولی وي چې نړۍ ټوله موږ ته متوجه ده، او نړیوال مو ټول مخالفین دي، په دې معنا چې دوی هیڅ کله هم نه داسې پر دین مین قوم زغملای سې او نه هم دوی ته د اسلامي نظام نفاذ د منلو وړ دی، خو دا چې یو ډول یې موږ ته غاړه ایښې هغه هم زموږ د بېسارو قربانیو برکت دی، اوس که طالبان دغه د اوربند په مرحله کې د دوی په وړاندې کوم ادنی نظامي اقدام وکړي نو نړیوال به ټول طالب ته مخ ور اړوي چې تاسو سولې ته ژمن نه یاست او نه هم په دې پروسه کې ریښیني یاست بل خوا ټولې رسنۍ د دوی تر لاس لاندې دي چې زموږ یو کمکې اقدام ته ډېر کوریج ورکولای سې او د بدنامولو هڅه به مو کوي.

اوسمهال، چې مشرانو کوم دریځ غوره کړی دی، هغه دا چې۱۴ میاشتې د روان اشغال وروستۍ مرحله ده، همدا حل لاره ده او باید په نهایي صبر او زغم تېره سې. دا هغه موده ده، چې له لومړي سر څخه سولې ته زموږ خوش باوري او له مقابل لوري د امریکا له فرېبونو څخه وېره په ډاګه کوي، له دې مودې وروسته به د دوی په دغه پروسه کې صدق او کذب نړۍ ته په ډاګه کیږي، که اشغال پای ته ونه رسېږي، شونې ده له دوی سره له توافقنامې څخه د ټولو سرغړونو حساب وسې، هغه چې تل به یې زموږ په زړونو کې د غچ او انتقام لمبې بلولې.

وما ذالک علی الله بعزیز



# افغان عسکره!

## د اوربند غوښتنې پرځای لږ خپل مسیر مطالعه کړه

بدرځلاند

### عسکره!

زه پوهېږم ته یو مسلمان افغان یې، د دې خاورې بچی یې، ستا وژنه زه هم د یو افغان وژنه بولم ستا کونړه او یتیم مې زوروي،

مګر زه هم افغان یم د دیني مدرسې طالب یم، ځان د افغان خاورې وارث بولم، افغان ملت خپل وجود بولم، په خپله خاوره او ملت باندې د ظالمانو ناروا تجاوز دې ته مجبوره کړی یم چې د خپل ژوندانه او ځوانۍ خوږې خاطرې تر پښو لاندې کړم او د مظلوم ملت او خاورې د ازادۍ لپاره تورو غرونو ته پورته شم، د صلیبیانو هرې مرمۍ او زهرې بم ته خپله نازکه سینه ونیسم،

کله خو مې د ملت سوي اهونه دې ته مجبور کړي چې په خپله نازکه سینه باروت وتړم او د مظلوم ولس انتقام په خپلو غوښو او هډوکو واخلم، له خپلو خپلوانو مې جنازه او قبر هم نادرکه شي،

### عسکره !

ایا تا کله هم خپل ځان سره فکر کړی چې ته څوک یې په څه دنده لګیا یې ؟

دلته صلیبیان راغلي هغوی زما او ستا ځمکه او فضا اشغال کړې ده زما او ستا اسلامي مقدسات مسجدونه، مدرسې ، جنازې او قران کریم یې راته په اورونو وسوزول،

زما او ستا د ملت سلګونه زره ځوانان، ښځې او ماشومان یې شهیدان کړل، زما او ستا د ولس وژلو لپاره یې زرګونه طیارې ټانګونه او توپونه راوړي دي، زما او ستا افغاني درونډ کلتور یې په لغړ او سپک کلتور بدل کړو زما او ستا عزتمنې خوندې یې لغړې په اروپایي او هندي لباس کې بازار ته را وایستلې

### افغان عسکره!

لږ خپل مسیر مطالعه کړه ته د چا پرضد، د څه لپاره ،چا مسلح کړی یې؟ او چاته یې په سنګر کې کینولی یې؟

تاته یې ستا دښمن څوک معرفي کړی ده؟

ایا ستا ټوله مبارزه د خپل افغان ملت پرخلاف نه ده؟ ایا ته شپه او ورځ د خپلو افغانانو په وژلو نه یې لګیا؟ ایا ته دصلیبي یرغلګرو سره خپل افغانان نه وژنې؟ او خپل مقدسات تر پښو نه لاندې کوې؟ ته پوهیږې چې ته دغو مکارو د خپل افغان ورور په وژنه د قهرمان او جنرال رتبې ته رسولی یې؟

که ته خپل افغانان ونه وژنې ایا تاته به څوک د جنرال او قهرمان لقب درکړي او ته به بیا دا د وطن ساتنې په نوم تنخوا ترلاسه کړې؟

ته خو همدغو صلیبیانو په تنخوا باندې زما د ولس وژلو او اسلامي مقدساتو له منځه وړلو لپاره پـه اجـرت نیـولی یـې، ستا ټوله دنده په همدې راڅرخي

تنخوا، اسلحه، قومنده هر څه دوی درکوي او تـه یـې د خپل صلیبي هدف مخته بیولو لپاره خپل ملت ته په سنګر کـې کینولی یې

که همدا نن امریکایان او دا څو تنه لنډغر د اروپـایي تابعیـت لرونکي غربي ایجنټان لاړل ته به بیا دا دنده پر مخ یوسې ؟

نه هیڅ کله هم نه ،

ته صرف د امریکایانو او ددې څو تنو غربي ایجنټانو تـر موجودګي پورې ملي اردو، جنرال او قهرمان یې، اوس هـم سـتا دا جعلي القاب صرف ستا ترخدمت پورې محدود دي، که دغـه د افغانانو دښمنان لاړل سبا به بیا د سرک پرغاړه ټماټر خرڅوې هلته بیا نه د وطن غم درسره وي نه د کفن

## افغان عسکره!

که ته بندي شې یا زخمي او یا ووژل شې سـتا دا نمـک حرامـه مشران بیا تا نه پیژني

د خپل سنګر سلګونه ملګري به دې لیدلي وي چې ددوی په ژوند یې کورنیو ته پردی، جنـازې وروړلـې، د سـتا د سـنګر هغه بایومیټریک شوي ملګري چې کلونه کلونه بندیان دي ستا دغو نمک حرامه مشرانو سره یې لیست هم نشته او منکـر دي، ستا هغه زخمیان همسنګره ملګري به دې هم په میډیا لیدلي وي چې ګـوډ او مـات خپلـو وړو بچیـانو او تـورسرو سره د میـډیا پرمخ ژاړي چې خپلو مشرانو ورسره جفا کړې ده،

هغه د خپلو همسنګره ملګـرو کونـډې بـه دې پـه میـډیا لیدلي وي چې د ډیرې ناچارۍ څخه د غیرې واړه ماشـومان پـه بازارونو کې پلوري او ستا بې رحمه مشران یې په سترګو وینـي خو رحم نه پرې کوي

زه هم ستا د لاسه در بدره یم، صلیبیانو ته مې ته په تنخوا وژنې هغوی ارام بیسونو کې ناست دي، زما بچیـان تـه وژنـې، زما کور ته ورانوې، تا زه بې کوره کړی یم، تـا زه پـه زنـدانونو کې په کلونو کلونو بندي کړی او شکنجه کړی یم، زما د کـور په حریم له صلیبیانو مخته ته را ننوزې، همدا ته یې چې زما او د صلیبي یرغلګرو ترمنځ ولاړ یې او زما مرمۍ هغو تـه نـه ور پریږدې، همدا ته زما لپاره په پوسته او سـنګر کـې ګوتـه پـه ماشه ناست یې

که ته افغان یې ته باید د افغان ملت ساتونکی وای ته خو د خپل ملت وژونکی یې زه او ته خو د همدې خاورې یـو سـتا له ما سره دومره کلکه دښمني ولې ده ، زه خو ستا دښمن نه یـم زه خو د راغلو یرغلګرو دښمن یم

ته که افغان وای خو له ماسره به څنګ کې د یرغلګرو کفـارو پرخلاف دریدلی وای ته خو برعکس د کفارو سره پـه څنـګ کې د خپل ملت پر خلاف ولاړ یې

ته خپل ټوپک له اوګې لرې کړه زما همغه پخوانی افغان ورور یې ،

ته زما له وژلو لاس واخله تا زه نه وژنم

ته زما مخته زما ددښمن په ملګرتیـا مـه راځـه زه تاپسـې ستا کور ته نه درځم

ته د خپل ولس له وژلو تیر شه، ته نور د یرغلګـرو او د هغوی د غربي ایجنټانو له ملاتړه تیر شه ته نـور د خپـل افغـان ملت پرخلاف له ماشې ګوته لرې کړه زما همغه پخوانی افغـان ورور یې

هرکله چې ته لاهم په خپل جهـل ټینګـار کـوې د افغـان ولس وژنه نه پریږدې، د خپل ملـت پـر وړانـدې د کفـارو لـه لوري په مورچه کې ناست یې لاهم خپل ولس د کفارو لپاره په توپونو ولې، او لا هم د خپل مجاهد ولس مخې ته ناست یې نو بیا ستا دا اوربند غوښتل ستا په حماقت او جهالت باندې دلالت کوي،

ته خپله نورو ته په مزدوري په جګړه بوخت یې او له ما څخه اوربند غواړې دا منطق دې ډیر نه منونکی ده او نه په دې منطق ځان خلاصولای شې او نه دا د حل لاره ده

راشه زمونږ د عفوې غیږه درته خلاصـه ده د کفـر صـف پریږده خپلو بچیانو سره ارام ژوندګي وکړه



# په افغانستان کې داعشي مافیا !

کفایت الله شباب

له کله چي په عراق کي د اشغالګرو او د هغوی د لاسپوڅو په وړاندي جنګېدونکو مجاهدینو پر ګڼ دښمن خورا بریمن بریدونه و عملیات وکړل، له دښمن څخه یې لار ورکه او هلته د اشغالګرو په لاس جوړي شوي ملیشې هم کار ورنکړ، دارنه تلفات یې ور واړول؛ بیا نو عرب استخباراتو (هغه عرب هیوادونه چي د امریکا اوامر په پټو سترګو مني)، امریکا او متحدینو یې د داعش (اسلامي دولت) تر عنوان لاندي خپله ګډه استخباراتي مافیا او ملېشه په دې موخه د جګړې میدان ته را ښکته کړه؛ ترڅو له یو لوري د اشغال په وړاندي جنګېدونکو مجاهدینو په منځ کي نفاق واچوي او ماتي ورکړي او همدارنګه له بله اړخه په عراق و سوریه کي د سني و شعیه ترمنځ د جګړې اور تازه او په عربي هیوادونو کي د ایران نفوذ زیانمن او مات کړي. دوی داعش مافیایي ډله په خورا مهارت تنظیم او له نا اشنا شعارونو سره د جګړې میدان ته را شوه کړه. دغه درې واړه لوریو () د دې لپاره په همدې ملېشې د اسلامي دولت نوم کېښود او یوه مشخصه جغرافیه یې په واک کي ورکړه؛ ترڅو نړۍ او مسلمانانو ته د اسلامي نظام و دولت رامنځته کېدل په وحشتناکه توګه معرفي او دوی ترې ووېروي، چي که چیرته د مجاهدینو له بریا وروسته اسلامي نظامونه رامنځته شي، نو دغه ډول ناوړه کړني او ظلمونه به ترسره کوي. دغه مافیایي ملېشې د عرب، امریکا او نورو غربي متحدینو د اسخباراتو نیمګړي کارونه بشپړول پیل او د هغه هیواد د شعیه و سوني مجاهدینو ترمنځ یې د نفاق اور تازه او بلاخره یې د سوریې شعیه و سونیان له خورا بد حالت او د یو بل په مقابل کي جګړې ته وهڅول او دوی ترې بچ پاتي شول او همدا راز یې بیا د کُرد بېلتون پالو د مرستي له کبله دا وښوده چي ګواکي دوی د دغې مافیا اصلي دښمنان دي. همدارنګه په عراق کي یې د اشغالګرو د لاسپوڅي حکومت مزي ور ټینګ او ځانونو ته یې په عراق و سوریه کي د دایمي حضور او لاسوهني زمینه برابره کړه. دوی (عرب استخباراتو، امریکا او متحدینو یې) وکولای شول د همدغه استخباراتي ملېشې لپاره د پروپاګند و غولونکو تبلیغاتو له لاري خورا زیات غرب میشتي و شرق میشتي تنکي ځوانان را مات او دلته یې د خپلو وروڼو مسلمانو مجاهدینو په وړاندي په جګړه بوخت کړي. تر یوه حده بریالي هم شول او له دې لاري یې د مجاهدینو ډلګۍ خورا ګډوډې او د دښمن پر ځای د یو-بل په مقابل کي په جګړه بوختي کړې؛ مګر وروسته مجاهدین پر ځان پوه او خپل یوالی یې برقرار کړ. خو هغسي همغږي، یووالی او پر دښمن باندي رُعب یې له لاسه ورکړ او اوس مهال په ډېر سخت حالت کي له خورا زیاتو لوریو سره په جګړه بوخت دي.

کله چي په عراق و سوریه کي د عرب استخباراتو، امریکا او د امریکا د متحدینو دغه ګډې پروژې و پلان ښه نتېجه ورکړه او په عربو کي یې فرقه یي جګړې پراخي او ځانونه یې ترې خوندي کړل- له عرب استخباراتو څخه موخه د سعودي په څېر ځیني نوري واکمي شاهي کورنۍ دي چي د خپل واک د بقاء په موخه یې امریکا ته د غلامۍ لاسونه اوږده کړي؛ ځکه دوی خپل واک په خطر کي لیده

چي که مجاهدین بریالي شي بشپړ اسلامي نظام راتلونکی او د دوی واک ختمېدونکی دی-؛ نو امریکا او متحدینو یې د دغې احتمالي بریا وروسته دا وپتېیله ترڅو په افغانستان کي هم، دغه پروژه و پلان تطبیق کړي.

په افغانستان کي یې په لومړي ځل دغه مافیایي ملېشه د افغان استخباراتو په مټ له هغه کړیو څخه رامنځته کړه، چي ځیني یي د حکومت برحاله کارمندان ول او ځیني یې بیا له عراق و سوریې څخه د هوا له لاري راوړل شول. بیا وروسته چي کله په ننګرهار کي د داعش رادیویي پروګرامونه او تبلیغات پیل شول؛ خورا زیاتو کسانو ورسره د یو ځای کېدا لېوالتیا ښکاره کوله. ځکه هغوی د داعش په فرېبجنو تبلیغاتو غولېدل او لکه څنګه چي په ۲۰۰۱ کي د اشغالګرو د پروپاګند له برکته د هغوی ملګرتیا ته ور مات ول. په افغانستان کي د داعش تبلیغاتي دستګاه دومره فعاله او اغېزمن تبلیغات به یې ترسره کول چي د تمي خلاف ول او د هغه تبلیغاتو څو برابره اغېزمن ول، چي په ۲۰۰۱ کي امریکا کول او داسي نه ښکارېدل چي دا به د یوې ډلې تبلیغات وي، بلکي د یوه پراخ بنسټه حکومت په څېر تبلیغات یې کول. په پوهنتونونو کي یې کم عمره او له اطرافو څخه ورغلي ژر غولېدونکي او همدارنګه محروم او احساساتي محصلینو ته د خپلو خاصو کسانو( دغه کسان د کابل اداري او اشغالګرو د استخباراتو کارمندان او د تبلیغاتي برخي غړي ول) له لوري ویډیوګاني، مجلې، غبریز کلیپونه او نور مواد رسول. حتی تر دې چي په پوهنتونو کي یې داسي استادان او محصلین هم د ځان لور ته ور مات او د دوی لپاره به یې تبلیغات کول چي د اسلامي امارت فعاله مجاهدین او مبلغین ول. خو الحمدلله ډېره ژر د دغې مافیایي کړۍ موخي، ظلمونه او نوري نارواوي ورته څرګندي شوې او ژر یې تري لار بېله او په وړاندي یې مبارزه پیل کړه، ځانونه یې د دغه مافیا له پنجو خلاص کړل.

کله چي د داعش مافیا له لوري په افغانستان کي جنګیالي جذب او په هغه ساحو کي چي د حکومت تر کنترول او یا د کابل اداري و اسلامي امارت د جګړې لیکي وې، ځای په ځای شول. د اسلامي امارت د مجاهدینو په وړاندي یې جګړه پیل کړه او د اکمالونکو استخباراتو په مټ یې څه سیمي تر کنترول لاندي راوستې. ورسره سم یې د بې ګناه هیوادوالو په شهیدانولو، ځورولو او غلامولو لاس پوري کړ او هغه کسان چي د دوی مفکورې ته یې لبیک نه وایه، دومره زلمونه ورسره وشول چي حتی په بمونو والوزول شول.

دا چي اسلامي امارت په لومړیو کي غوښتل له دغې ډلي سره موضوع د خبرو له لاري حل کړي، دوی یې په خلاف لا سپین سترګي شول؛ بد-رد به یې پسي ویل او د اسلامي امارت مجاهدینو ته یې په خوشباورۍ کي درانه زیانونه واړول. چي بلاخره اسلامي امارت مجبور شو ترڅو په وړاندي یې نظامي اقدام وکړي او په ځپلو، له منځه وړلو یې پیل وکړ. اسلامي امارت د خپلو پرېکنده حملو او د ولس په ملګرتیا، وکولای شول نه یوازي دا چي د داعش د پرمختګ مخه یې ونیوه او هغه کسان چي په ناخبرۍ کي د دغې مافیا لیکو ته جذب کېدل را وګرځول؛ بلکي هر ځای یې په منډه کړل او داسي حالت ته یې ورسول چي اوسمهال یوازي تر پروپاګند او داسي حملو را رسېدلي چي د حکومت په زړه کي د هغوی د مېلمستونونو څخه را وزي او هغه کسان په نښه کوي، څوک چي د همدغه استخباراتو د

**بلاخره اسلامي امارت مجبور شو ترڅو په وړاندي یې نظامي اقدام وکړي او په ځپلو، له منځه وړلو یې پیل وکړ. اسلامي امارت د خپلو پرېکنده حملو او د ولس په ملګرتیا، وکولای شول نه یوازي دا چي د داعش د پرمختګ مخه ونیسي او هغه کسان چي په ناخبرۍ کي د دغې مافیا لیکو ته جذب کېدل را وګرځوي؛ بلکې هر ځای یې په منډه کړل**

ظلمونو په وړاندې غبر اوچتوي، د سولې د پروسې و خپلواک نظام ملاتړ کوي او د دوی ګټې زیانمنوي.

د داعشي مافیا اړوند ظلمونو، ناروا، شکنجو، وژنو او... خبرې زیاتې دي او دا تر لمر روښانه خبره ده چې داعش په



حقیقت کې د هغه مافیايي کړیو مجموعه ده، چې د افغانستان د اشغال د دوام او خپلو ګټو د خوندیتوب لپاره یې په دا نولس کاله کې هر ډول ناوړه او ځورونکي پلانونه تطبیق و عملي کړل. دا چې اوسمهال د داعش لمن ور ټوله شوي او په کلیو و بانډو کې د ټینګې ځای نه لري او ټول ولس یې خلاف دی؛ نو ځکه اوس یوازې د استخباراتو تر مېلمستونونو پورې محدود دي او له دې ځایه د دغه استخباراتو په مرسته هغه کسان او ځایونه په نښه کوي، چې په وژلو او ورته په زیان رسولو سره یې د افغان ملت غوسه را پارېږي او د سولې پروسې ته ځرګند خنډ پېښوي. دوی ځکه دا کارونه کوي ترڅو وکولای شي په افغانستان کې سوله سبوتاژ او دغه مافیايي کړۍ خپلې ګټې خوندي کړي.

نو په پای کې اسلامي امارت او کابل ادارې ته په کار دي ترڅو د سولې د بین الافغاني خبرو له پیل سره سم، دغه مافیايي کړۍ او د پردیو استخباراتي کړیو مزدوران له صحنې بحر او د کابل اداره باید په هغه ځایونو کې چې دوی پکې واکمن دي خپل کنټرول زیات او دغه داعشي مافیا ته په خپلو مېلمستونونو کې ځای ورنکړي. همدارنګه د دې لپاره چې بین الافغاني مذاکرات ژر پیل، اعتماد فضاء رامنځته او دغه مذاکرات په ښه ډول پر مخ لاړ شي؛ پکار ده ترڅو د دغه مافیايي داعشي کړیو له لوري د ترسره کېدونکو بریدونو او افواهاتو مخنیوی وکړي او د خپلو شخصي ګټو په خاطر، ملي ګټې زیانمنې نه کړي او له خپلو د ملي امنیت و نورو ارګانونو اړوند مېلمستونونو څخه دغه پردي جنګیالي چې د پردیو استخباراتو لپاره په دې موخه کار کوي، ترڅو سوله سبوتاژ او د اشغال دوام او د پردیو استخباراتو ازادانه لاسوهنو ته لار هواره کړي، وشړي.

دوی باید نور پوه شي چې ملت نور په حقایقو پوه شوی او په دې هم پوهېږي چې پر علمای کرامو، مساجدو، مدرسو، روغتونونو او نورو عام المنفعه تأسیساتو بریدونه د مشخصو استخباراتي کړیو کار دی او د داعش له نوم څخه یوازې د لاس پاک په توګه کار اخلي. کنه په افغانستان کې د ازادۍ د لارې سرښندونکو مجاهدینو د خپلو سرونو په نذرانه کولو سره د داعش بېخ و بنیاد ور ختم کړ؛ څوک یې ووژل، څوک یې اسیران کړل، څوک تسلیم شول(دا هغه کسان ول چې د فرېبجنو تبلیغاتو او احساساتو له کبله په بېشعورۍ کې د دوی لیکو ته ورغلي ول او اوس ترې بېلېدای نشوای) او څوک بیا په تېښته بریالي او د استخباراتي کړیو مېلمستونونو ته یې په دې نوم چې ګواکي د کابل ادارې ته تسلیم شوې، پناه یووړه او اوس له همغه ځایه خپل شوم پلانونه عملي او ځورونکې حملې ترسره کوي.




حسن مومند

# دتمدن تر چتر لاندې به نور استعمارپاتې شي؟

ديوكوچني جرم په تور سپين پوستي پوليس افسر ډېرك شوون يوعام تورپوستى جارج فلويډ له گونډې لاندې كړى و ؛ دفلويډ ساه بنده وه ؛ هغه په ډېر كمزوري اواز ويل ( آى كانټ بريت مين) :پرې مېږده ساه نه شم اخستى خوتر۹ دقيقو دهغه په مرۍ بې رحمه گونډه سوره وه تر دې چې بدن يې ساكت او داكمزورى اواز يې هم بند شو نه هغه اونه هم هيڅوك پدې پوهېدل چې دهغه همدا كمزورى اواز به دومره څواكمن شي چې ټوله نړۍ ولړزوي.

فلويډ په خپل ژوند كې يوناكام ، فقرځپلى ، ناپوه او په يولړجرائمو كې ككړ انسان و.

دامريكاسپين پوستي له جرايمو پاك ندي خوتور پوستي چې په امريكا كې دزيات محروميت احساس كوي دسپين پوستو په پرتله په جرمونو كې زيات ككړ وي .

جارج فلويډ هم دزياتره تورپوستانو په څېر غلاگانو، شوكو ، دنشه يي موادو كارولو او خلكوته په ضرر رسولوكې دككړتيا له امله څوځلې دعدلې له لورې په سزامحكوم شوى او څوكلونه يې زندان هم تېر كړى و.

هغه په هوټستين كې پيدا او رالوى شوى و خو چې دپوليسو له تعقيب نه تنگ شو نو ميني اپليس ته ولاړ خو قسمت يې دلته هم ورسره ياري ونكړه ؛ له چوكيدارۍ نيولې دلويو لاريوو تر موټروانۍ يې ډېرو كارونو ته لاس ور اوږد كړ خو پكې كامياب نه شو نو ناوړو كړنو ته يې لاس كړ .

دمئ تر ۲۵ مې نېټې پورې جارج فلويډ يوعام نوم وركى انسان و؛ له خپلو ډېر نږدې خلكو پرته هيچا هم هغه نه پېژندلو خو په همدې نېټې هرڅه بدل شول اوترې يوه ورځ وروسته يانې دمئ ۲۶مې نېټې هغه په ټولې نړۍ كې سخت شهرت وموندلو او دنړۍ په هر گوډ كې خلك دهغه دنوم سره اشنا شول. خو دشهرت پدې لار كې دهغه سرقربان شو.

دهغه د وژل كېدو ويډيو كلپ په نړۍ كې تر ټولو زيات وليدل شو.

ډېرك شوون نومي سپين پوستي پوليس افسر- چې دهغه په مرۍ يې گونډه ورښخه كړى وه هغه ورته دمظلوميت نه په ډك انداز ويل چې (پرې مېږده ساه نه شم اخستى) دفلويډ همدا جمله په ټولې نړۍ دانسانانو داحساساتو دراپارولو لوى سبب شوه او پرفلويډ دترسره شوي ظلم نه زيات دې جملې دپوليسو بلكې ټول دولت پر وړاندې دامريكايانو عكس العمل راوپاراوه .

په امريكا او نورې نړۍ كې د دولتونو دامنيتي ادارو له لورې پر عامو وگړو ظلمونه څه كم ندي ، پرځوانانو ، كوچنيانو، مېرمنو ، بوډاگانو ډېرسترظلمونه كېږي خو دظلم پريوې پېښې هم دومره ستر عكس العمل ندى رامخې ته شوى لكه چې دفلويډ پرمظلوميت چې رامخې ته شو.

دنسل پرستۍ پر ضد په امريكا كې سخت قهر وليدل شو ، دخلكو عكس العمل دومره سخت و چې له

امله یې دامریکا ولسمشر۔ هم یوې خورا خوندي خونه کې پناه اخستلو ته اړ شو.

پدې مظاهرو کې یو نوی طرز عمل دا رامخې ته شوچې په امریکا اوبرتانې کې دټولو هغو سپین پوستو سیاسي مشرانو مجسمې خلکو راونړولې چې کوم په خپلو وختونو کې دنسلي تعصب ښکار وو

په برتانې کې ډېرې اوسېدونکي به له دې ناخبره وو چې ګینې هغو خلکو ته اوس هم په برتانې کې دعزت په نظر کتل کېږي چې به یې له افریقا نه تورپوستي په زور راوړل غلامان کول به یې اوبیابه یې په امریکا او نور لویدیځ کې خرڅول خوچې کله په برتانې دتورپوستو سره دخواخوږۍ په موخه لاریونونه راووتل او مجسمې رانړول پیل شول نوپدې حقیقت ایله دبرتانې ټول اوسېدونکي پوه شول .

ایډورډ کولستن په خپل وخت کې دغلامانو ډېر ستر سوداګرو چې له دې لارې دبرتانې دساحلي ښاربرسټل ډېر ستر بډای ګرځېدلی و چې همدلته یې ډېر لوی عمارتونه هم جوړ کړي و ؛ دهغه دمړینې نه پس هغه سره دمینې ښکاره کولو لپاره خلکو دهغه ډېره لویه مجسمه جوړه کړې او په ډېر شان شوکت یې ښار کې ودرولی وه چې تر اوسه ولاړه وه او خلکو هغه دبرتانې لوی تاریخي شخص ګڼلو ، په اوسنو لاریونونو کې لاریون کونکي ورغلل او دامجسمه یې په ډېر حقارت سره ځمکې ته راوغورځوله، پرې وختل اوبیا یې په ډېر سپکاوي تر سمندر راښکله اودسمندر هماغې بندرګاه ته یې وروغورځوله کومې ته به چې تورپوستي غلامان راوړل کېدل.

ددې لاریونونو په لړ کې په برتانې کې ځوانانودا ناره پورته کړه چې :په برتانې کې دې دغلامانو دسوداګرو او نسل پرستومجسمې راوغورځول شي .

ددې نارې دپورته کېدونه پس چې بیا په برتانې کې په نسب شویو مجسمو رنګونه وروشیندل شول نو سمه معلومه شوه چې په برتانې کې دنسل پرستو تاریخ ډېر اوږد دی چې یکې تاریخي لومړی وزیر ولیم ګلیډسټن اوله ده لوی سیاستمدار ونسټن چرچل نوم هم شامل دی ؛اوس دبرتانې دولت پخپله دداسې اشخاصو مجسمې راغورځوي او ددوئ په نومونو دجوړو شویو پوهنتونونو دنومونو په بدلولو یې هم غورپیل کړیدی .

په سوشل میډیا باندې ددې ویډیو دخپرېدو سره سم په امریکاکې خلک سرکونو ته ددې ظلم پرضد داعتراض لپاره راووتل او دخلکو دا احتجاج په دومره تېزۍ په امریکا کې خپور شو چې دوه درې ورځو کې په ۴۰ ښارونو کې دولت ګرځ بندیز ته اړ شو ؛ لاریونونه دومره شدید وو چې دپولیسو دکنترول نه ووتل او اومجبوراً ملي ګارد راوغوښتل شو.

پرامن لاریونونه کم وو ؛ په زیاتره ښارونو کې مظاهرې له تشدد نه ډکې وې اودپولیسو دموټرو ترڅنګ دعامو خلکو موټرو او دوکانونو او نورو املاکو ته هم اور واچول شو ؛ لاریون کونکو ویل: ددولت بې انصافیو دې کارونوته اړکړل بې له دې ورانیو ددولت اونورې نړۍ توجو ددوئ لور ته نه را اوړېدله .

امریکا پدې مادي نړۍ کې تر ټولو ستر ځواک دی؛ دنفوسو شمېر یې کابو ۳۲۰ ملیونو ته رسېږي خو په زړه پورې داده چې دوئ ټول له نورو سیمو راغلي خلک دي .

دهسپانې قبضې ته دتوسیع ورکولو اودسلطنت لپاره دنویو ځمکو موندلو په هدف په ۱۲مې میلادي پېړۍ کې دهسپانې دبادشاه اوملکې په غوښتنه کولمبس ووتلو چې امریکا یې وموندله ، چې په لنډو یې ووایو نو دهسپانې نه پس یې فرانسه او بیا برتانیه مالکه شوی وه ؛ ددې ځمکې مالکان بدلېدل خو اوسېدونکي یې له امریکا نه ،نه شوربېدل؛ بیاجارج واشنګټن دبرتانې پر ضد سخت جنګ وکړ ؛ برتانیه یې وشړله ، امریکا ازاده

او د ۱۳ ایالتونو امریکا رامنځته شوه چې اوس ۵۲ ایالتونو ته رسېدلې ده ؛ دې د مسافرو وطن ته اوس هم دنړۍ دهرې برخې نه خلک راروان دي او په نړۍ کې دکم شمېر اولوالعزمو انسانانو پرته نور دلته راتلل دهرچا دژوند ډېر ستر خواهش وي چې د ډېرو کمو خلکو دا غوښتنه پوره کېږي.

**تور پوستان دامریکا دټول نفوس ۱۳ سلنه تشکیلوي یانې ۳۳ملیونه تورپوستي په امریکا کې اوسېږي چې دوئ کابو ټول دهغو ظکو نسل دی چې دځپلو خدمتونو اوشاقه کارونو لپاره لویدیځوالو له افریقا نه راوړي او جبراً یې غلامان کړي وو؛ تېره پېړۍ تر نیمائ پورې دسپین پوستو په څېر انسانان نه ګڼل کېدل ؛ په نور لویدیځ کې دوئ ته دمساوي حقوقو دورکولو دتحریکونو نه پس دلته هم دمارټن لوتر کنګ تحریک زور واخست چې په نتیجه کې یې دامریکا قانون بدل او تورپوستي هم ددوهمې اودریمې درجې نه راووتل او بیا هغه وخت هم راغلو چې دبارک اوباما په نوم یو تورپوستې پرلپسې دوه ځلې دامریکا ولسمشر شو؛ داد امریکا په تاریخ کې ډېر ستر عملي بدلون و**

خوعجیبه داده چې دملک اوملت ګټه وه نو سپین پوستو امریکایانوهم بارک اوباما ته رایه ورکړه او خپل ولسمشر یې جوړ کړ خو سپین پوستان دې ته تیار نه شول چې تورپوستانو ته په زړونو کې ځای ورکړي نو درنګ او نسل تعصب دلته له منځه ندی تللی او اوس هم ټول سپین پوستي تورپوستو ته داولې درجې دانسانانو په نظر نه ګوري نو دفلوېډ د وژل کېدو په څېر پېښې رامنځته کېږي .

خوسره ددې چې تعصب شتون لري بیا هم ډېرو سپین پوستو دتور پوستو سره خپله خواخوږي ښکاره کړه ورسره په مظاهرو کې اوږه په اوږه ودرېدل چې له امله یې لاریونونه سخت قوي شول ؛ ټوله امریکا یې ولړزوله او هغه وخت هم راغلو چې ولسمشر- په یوې مصئونې خونې کې پناه واخسته .

بله مهمه داچې سره له دې چې لاریون کونکو په ګڼو ښارونو کې په پولیسو حملې وکړې ؛ دپولیسو موټرې او مرکزونه یې وسوځول ؛ دامریکا بیرغونو ته یې اور واچاوه او په ګڼو ښارونو کې خلکو ددولت له لورې داعلان شوي ګرځ بندیز په خلاف سرکونو ته راووتل او آن تر دې چې لاریون کونکوسپینه مانۍ محاصره کړه اوددومره وېرې حالت رامنځته شو چې ټرمپ یوې مصئونې خونې ته په پناه وروړلو اړ شو خو په ټولې امریکا کې په یو لاریون کونکي هم دپولیسو له لورې مخامخ ډزې ونه شوې ، نه څوک ددولت دامنیتي ځواکونو له لورې ووژل شو اونه هم ټپي شو.

نو افسوس دمصردجنرال سیسي په څېر پراسلامي نړۍ داکثرو مسلطوحاکمانو پرحال چې پرضدیې لاریون ته خلک راووځي نوامنیتي ځواکونه یې په زړونو خلک وژني ، په لسګونو زره زندانیان کوي او دنورو ظالمو ادارو له لورې په زرونو تریتم شي .

دا رښتیا ده چې امریکا اونور لویدیځ په خپلو هېوادونو کې دیموکراسي غواړي خو په اسلامي هېوادونو کې دریښتونې دیموکراسۍ سخت خلاف دي ؛ په اسلامي هېوادونو کې تل دیکتاتوران غواړي ؛ هغه فوځي دیکتاتوران وي اوکه جمهوري دیکتاتوران وي ځکه چې په ریښتونې معنو جمهوري اودیموکرات دولت کې ددوئ شوم اهداف نه ترلاسه کېږي؛ په هر اسلامي هېواد کې دامریکا او نور لویدیځ د ټولو شومو اهدافو دترلاسه کولو لپاره تر ټولو اسانه او مؤثره لار په هغه هېواد د دیکتاتورانو مسلط کول دي

بله مهمه خبره دا هم ده چې له امریکا بیرون ځینو شنونکو وویل چې دې لاریونونو کې امریکا دخپلې جاسوسې شبکې سي آی ای لاس دی ؛ سي آی ای ټرمپ ته مشکلات جوړوي ؛ بدناموي یې ترڅو په راتلونکو

انتخاباتو کې ورته امریکایان رایې ورنکړي ځکه چې ټرمپ ټولې پرېکړې پخپله کوي او دهېواد جاسوسې شبکې یې ډېرې بې واکه کړیدي ؛ په امریکا کې دننه په سوشل میډیا باندې پدې لاریونونو کې دروسې دلاس درلودلو خبرې هم ډېرې خپرې شوې خو چې ددولت سره پدې اړه شواهد نه وو نو دهیچا دلاس لرلو خبره یې ونکړه ؛ پدې کې هم داسلامي نړۍ لپاره ډېر عبرت دی چې حاکمان یې دخپلو ناکاره کړنو او پرېکړو په مقابل کې د ولس هر ورکوټی او غټ عکس العمل نورو ته منسوبوي او دبل چا توطیه یې ګڼي . اصلاً په خپل ولس دا اتهام پر ولس دظلم لپاره ددوئ سره ښه مجوز وي نو ځکه تل له همدې کار اخلي .

سره له دې چې داستعمارپرضد جنګ اسان ندی خو د هیله مندۍ خبره داده چې کله مظلومان اومحکومان یو شویدی نو دوئ تاریخ بدل کړیدی ، دا هم هرچاته معلومه ده چې د ولسونو دقیام په مقابل کې ډېر ستر طاقتونه هم سرټیټولو ته اړ شویدي

امریکا برتانې اونورو غربي ستروځواکونو چې دتېرې کابو یوې پېړۍ راهیسې د ولسي انقلابونو په نوم دنړۍ په ډېرو برخو کې مخالف نظامونه او افکار له منځه وړي دي نن پخپله دهمداسې ولسي تحریکونو سره مخامخ دي.

دلینن ، ستالن ، صدام او قذافي مجسمې چې نړول کېدې امریکا اوبرتانې دخوښۍ اظهار کاوه او رسنیو یې دا د دیکتاتوري افکارو دفن ګڼلو ؛ نن په برتانې کې دچرچل او ولیم ګلیډسن او په امریکا کې دجارج واشنګټن اوکولمبس مجسمې له نړولو پس په ځمکه راښکل کېږي،پرې خلک ورخېژي او په ځمکه کې دفنېږي.

پدې کې نړۍ ته دا ستر پېغام دی چې ظلم او استعمار ته دتهذیب نوم ورکول ترډېره نه چلېږي ؛نړۍ ته داهم ثابته شوه چې ددروغونه ډک نصابونه اود دروغو نه ډک تاریخونه نورانسانانو ته دمنلو وړ ندي . په امریکا کې دکولمبس مجسمې ددې ذهنیت خپرولو لپاره نصب شوې وې چې خلک دا ومني چې امریکا همده موندلې او پر اوسنو امریکایانو دهمده ډېر لوی احسان دی ؛ دامریکا په نصاب کې هم دهمدې خبرې ذکر دی ؛ دامریکا په نصابونو کې نه دامریکاداصل مالکانو (ریډانډینز) قبیلې ذکر شته او نه هم دهغو توروپوستانوچې په وینو او خولو یې امریکا اباده شویده چې دا ډېر ستر تاریخي جبر دی.

اوسني رابیدار شوي انساني احساس ته چې وکتل شي داسې ښکاري چې داستعمارورځې نورې کمې پاتې دي لمر یې نور په ډوبېدو دی؛ ډېر ژر به انسانان ددې عظیم شرنه خلاص ؛اسماني لارښوونو ته به مخه اوریښتونی تمدن اوتهذیب به خپل کړي . ان شاءالله



# دغني / نجیب احتمالي برخلیک او ورته والی!



عنایت الله خاموش

غني هم لکه د نجیب په څېر له واکه نه لري کېږي او د دې لپاره چې په واک کې پاتې شي د سولې په مخ کې هر ډول خنډونه ایجادوي. اوسمهال چې سولې ته هیلې پیدا شوې او کېدای شي ژر د سولې پروسې د بشپړېدو شاهدان و اوسو، غني و ملګري یې( هغه که یې د ادارې کارمندان دي او که دباندې کسان)، کله په یوه بهانه او کله په بله بهانه د سولې د سبوتاژ هڅه کوي او په دې برخه کې د دروغجنو رسنیو له لارې زهرجن افواهات خپروي. کټ مټ لکه د نجیب د واکمنۍ د وروستیو شېبو پالیسي څخه کار اخلي او د ملت غولوني په موخه پروپاګند خپروي.

دا چې شوروي اشغالګرو د خلقي و پرچمي ترعنوان لاندې دوه ډوله لېوان پر افغان ملت مسلط کړي ول، همداسې امریکایي/غربي اشغالګرو هم د مجاهد و دیموکرات په جامه کې دوه ډوله لېوان مسلط کړي.

همغه مهال به خلقیانو غریبه طبقه(بزګر، بې وزله او بې سواده) په افراطي وعدو غولول او له ځان سره یې ملګري کول. خو پرچمیانو بیا اشراف( تعلیم یافته ګان، چاړ شوي او نسبتاً کمونیزم ته لېواله خانان) په افراطي وعدو غولول او له ځان سره یې ملګري کول. د دغه دواړه ډلو موخه یوه وه؛ هغه په نظام کې په کمونیستي مفکوره د سمبالو کسانو ګمارنه او پیاوړې کول و. دوی غوښتل چې یوازې په کمونیستي مفکوره سمبال کسان په نظام کې کار وکړي او نور هغه کسان چې د دوی له مفکورې اغېزمن نه ول، له مخې لرې کول او شړل(وژل، بندیانول او تبعیدول).

مګر اوس(امریکایي/غربي یرغل پرمهال) بیا اشغالګرو د مجاهد و دیموکرات تر شعار لاندې دوه ډوله لېوان مسلط کړي.

غربیانو په لومړۍ مرحله کې مجاهد نامې مسلط کړل. دوی د خلقیانو پالیسي مخته وړه او غریب و هغه کسان یې له ځان سره ملګري کول چې د دوی امر ته یې شه غاړه ایښودای شوای. په دوهمه مرحله کې یې بیا دیموکراتان واکمن کړل. دوی بیا د پرچمیانو پالیسي مخته وړې او هغه کسان چې په غرب کې لوی شوي، زده کړې یې هلته کړې او د هغوی له مفکورې څخه پوره متأثره دي په افراطي وعدو د ځان ملګري کړل. دغه دواړه ډلو(د غربي اشغالګرو مزدورانو) د خپلې واکمنۍ پر مهال لکه د شوروي اشغالګرو د

مزدورانو همغه یوه پالیسي مخته وړه؛ هغه په نظام کې د هغه کسانو ګمارنه او پیاوړي کول و چې له اشغال و د پردیو له مزدورۍ څخه یې بد نه راتلل. دوی( د غربي اشغالګرو مزدورانو) غوښتل چې یوازې هغه کسان به په نظام کې ګډون لري چې د غرب مفکورې ته ژمن وي او نور هغه کسان چې د دوی له مفکورې اغېزمن نه ول، له مخې لري کول( ځیني یې د القاعده، ځیني د ورانکارو-ترهګرو او ځیني یې بیا د بنسټپالونکو اسلامپالو په نامه) او له صحنې ایستل.

نجیب چې د لکونو بې ګناه افغانانو قاتل وو و نه توانېدو چې ملي روغه جوړه وکړي. دلیل یې دا وو چې جنایات یې ډېر کړي وه، د قدرت څخه نه لیرې کېدو او مجاهدینو نه غوښتل چې د کې جي بي د روزل شوي جاسوس سره قدرت تقسیم او په داسي یو نظام هوکړه وکړي چې د کې جي بي ګټې پکې خوندي وي. اوس هم؛ اشرف غني چې د ده په واکمنۍ کې لکونه بې ګناه افغانان قتل شول او لا قتلیږي، سره له دې چې د سولې د راتلو لپاره ظاهراً، هر ډول قربانۍ ته ځان چمتو ښیي، مګر د واک د جنون له کبله به ونه توانیږي ترڅو ملي روغه جوړه وشي. دی په قدرت کې د پاتې کېدو په موخه هره ناروا کوي او په دې برخه کې هیڅ نه دریغوي. څکه نو ویلای شو چې اسلامي امارت به هیڅکله له داسي چا سره روغه جوړه ونه کړي چې د سي آی اې روزل شوي جاسوسان پکې رغنده رول ولري او داسي یو نظام رامنځته شي چې د پردیو استخباراتي کړیو ګټې خوندي کړي.

نجیب چې د خپلو نږدې کسانو له پرېکوم یره جوخت خپله کورنۍ هند ته ولېږله او په موقع سره به دی خپله هم پښې سپکوي، څکه دا خوب یې لیده چې یوه ورځ به له بد برخلیک سره مخ کیږي. اخیر هم همداسي وشول، کله چې یې ځان بشپړ یوازې ولید او هند ته د تېښتې هڅه یې کوله، د خپل نږدې ملګري رشید دوستم له لوري یې مخه ونیول شوه او مجبوراً یې د ملګرو ملتونو په دفتر کې څلورکاله د غله په څېر پټ ژوند وکړ تر دې چې طالبانو په کشولو د هغه ځایه وویست او غرغره یې کړ. همداسي غني هم کوي او خپله کورنۍ یې له مېرمنې پرته چې هغه هم د غلا او عیسایت د ترویج لپاره راغلي، خپل بچیان یې هیڅ راوستلي، حتی افغانستان یې لا ندی لیدلی. څکه ده هم وختي لا دا خوب لیدلی چې یوه ورځ به یې په افغانستان کې د ټېکې ځای نه وي او په تېښته به بریالی کیږي. خو لري نه ده چې دی به هم د یوه نږدې و صمیمي ملګري له لوري راګرځول کیږي او د ملت په محکمه کې به په خورا بد حالت کې د خپلو کړنو په سزا رسیږي.

نو که چېرته اشرف غني د کمونیست رژیم د پاتې شونو په مشورو عمل وکړي او دواړه پښې په یوه موزه کې ننباسي؛ لري نه ده چې د نجیب د نظام جنرالانو په څېر به د ده جنرالان و پلویان هم، د خپلو ځانونو د ژغورلو په خاطر ورسره پرېکون اعلان کړي او له اسلامي امارت سره به یو ځای شي- اوس هم د دغه رژیم زیاتره کارمندان او عسکر حقایق درک کوي او له اسلامي امارت سره یو ځای کیږي- او دی به د ولس محکمې ته پرېږدي



# اداره، که تپل شوی، تورسهامي شرکت؟!



لیکوال ظاَهر "منیب"

یوه ورځ ، یو چا را ته په یوه ناسته کې، وویل چې طالبان ولې دافغانستان اسلامي جمهوریت ته، دکابل اداره وایي؟! ماوویل،دکابل پراشوټي واکمن خو باید دافغانستان داسلامي امارت داحسان منندوی وي، ځکه چې دوی بېچاره ګان خو په حقیقت کې داداري له تعریف هم دباندې دي، داسلامي امارت اړوند منسوبینو عظمت اولوړوالی په دې کې دی چې یو تور تپل شوي سهامي شرکت ته دوی دکابل اداره وایي. پوهانو داداري تعریف په بېلابېلو ډولونو کړی چې ترټولو منل شوی تعریف "دمثبتو، اومشروع، فعالیتونو دانسجام په موخه په یومنظم جوړښت کې،د کړنو، ترسره کولو ته اداره وایي ، دخارجي اشغال ترسیوري لاندې، دمشهورو غلو ، لوچکانو ، بیسواده اولوستوغلامانو، مشهورو قاتلینو ، فاحشو اوبدنامو باندونو، دچور په موخه سره یوځای شویو افرادو ته او په کابل کې تپل شوي مافیایي تور جوړښت ته ، اداره ویل داداري له سپکاوي پرته بل څه نه دي ،داپه داسې حال کې ده ، چې دنړۍ دهیوادونو ، له لوري، ټولو منل شویو معیارونو ته په نه پام، له دوی سره دیو مشروع دولت تر عنوان لاندې ، د ملیاردونو ډالرو دمرستو ترځنګ دیو ریښتني مشروع ، دولت ، او حکومت ، په توګه ورسره بېلابېل تعاملات ترسره کړل اولاهم ادامه ورکوي ، چې دارنګه اقدامات هیڅ قانوني اړخ نلري ، چې دا دهیوادونو سترمنافقت په ډاګه کوي. مونږ پوهیږو چې نړۍ دیولړ مقرراتو له مخې اداره کیږي چې دامقررات په یوشمېر هیوادونوکې لږ ، اوپه یو شمېرهیوادونوکې ډېر ، اوپه یوشمېر هیوادونو کې، ورته هیڅ ارزښت نه ورکول کیږی. دولت څلور متشکله عناصر: قلمرو ،نفوس ، حکومت ، اوحاکمیت لري ، چې په لرلویې دولت خپل مشروعیت لاسته راوړي ، پدې ماناچې که په څلورو متشکله عناصروکې یوهم نه وي ، دولت خپل مشروعیت له لاسه ورکوي ، یعنی مونږ ورته یو مشروع دولت نشو ویلای. همدارنګه حکومت هم پنځه حقوقي شرایط لري ، دحکومت بنه دومره داهمیت وړ نه ده ، خو که یو حکومت خپل حقوقي شرایط ، لکه ، دامنیت اوثبات رامنځته کول ، دقانون اومقرراتو پلي کول ، له خپل قلمرو (خاورې) څخه دفاع ، له استقلالیت څخه دفاع ، اودملت داکثریت خلکو خوښه (رضایت) ونلري ، له حقوقي نګاه څخه هیڅ حقوق پوه ورته مشروع حکومت نشي ویلای ، همدارنګه ، که ددولت دمتشکله عناصروله حیثه اوسنی سهامي شرکت وارزوئ ، یواځې ٪۱۵ سلنه قلمرو په مستقیم اوغیرمستقیم ډول تر خپلې فاسدې واکمنۍ لاندې لري ، اوپه طبعي ډول همدافیصدي نفوس هم ددوی د حاکمیت ترپوښښ لاندې ژوند کوی

اوحکومت یې، هیڅ حقوقي شرط نه دی بشپړ کړی ، پدې ماناچې نه یې امن اوثبات ټینګ کړ ، نه یې خپل قوانین اومقررات پلي کړل ، نه یې له خپل قلمرو څخه دفاع وکړه ، نه یې له استقلال څخه ددفاع جرئت وکړای شو ، اونه هم داکثریت خلکو په رایه ایجاد شو . اوهغه حاکمیت چې دحقوقو په تعریف کې ورته اشاره شوې ، ترنن پورې یې نلري ، نوله همدې سببه ویلای شو ، چې په کابل کې ددولت اوحکومت په نوم چې څه رامنځته شوي ، له حقوقي اړخه نه دولت دی ، نه حکومت دی ، اونه هم اداره ! دایواځې یو تورسهامي شرکت دی ، چې حقوقي رواوالی اوتوجیه نلري . همدارنګه مونږ دمعاصرې نړۍ په تاریخ کې ، دعبدالله اوغني ترمنځ دواک دوېش نمونه اوبېلګه نشو موندلای ، یواځې دلرغوني تاریخ په یوه برخه کې دقبل المیلاد څخه وړاندې ، په اوومه پېړۍ کې، په یونان کې همدې ته ورته یو نظام شتون درلود ، اوجوړښت یې هم دوه پاچاهان وو ، او دوی یولس کسیزه شورا درلوده ، چې یو والي اوحاکم به یو پاچا مقرراوه ، او بل حاکم او والي به بل یو ، نو که څوک دهمدې سهامي شرکت په ملاتړ کې ولاړ وي ، داپه دې مانا چې دوی دمیلاد څخه وړاندې ، د اوومې پېړۍ مسائل ، په یوویشتمه پېړۍ کې ، تکراروی ، چې داحالت باید دعقل خاوندانو ته په هیڅ صورت دمنلو نه وي. دتورکلمه معمولاً نن سبا داقتصادي اصطلاحاتو په کتار کې راځي اوترې استفاده کیږي، مثلاً توري پیسې، توري پیسې هغه عوایددي چې له قاچاق اوپه نامشروع معاملاتوکې له ګډون څخه لاسته راغلي وي او دمنظمې محاسبوي ارزونې پرته ترې ګټه اخستل کیږي، لکه دسهامي شرکت (۹۰) کوډ چې یواځې یو څوافرادیې داخستلو، اواستفاده کولو واک لري پدې ماناچې دهمدې کرغېړن سهامي شرکت دلوړو مالي لګښتونو دناڅرګندې محاسبې له مخې یاد جوړښت ته تور سهامي شرکت ویلای شو ،چې دملت د

**که ددولت دمتشکله عناصرو له حیثه اوسنی سهامي شرکت وارزوئ ، یواځې ۱۵٪ سلنه قلمرو په مستقیم اوغیرمستقیم ډول تر خپلې فاسدې واکمنۍ لاندې لري چې په طبعي ډول همدافیصدي نفوس هم ددوی د حاکمیت تر پوښښ لاندې ژوند کوی اوهم یې حکومت هیڅ حقوقي شرط نه دی بشپړ کړی ، پدې ماناچې نه یې امن اوثبات ټینګ کړ ، نه یې قوانین او مقررات پلي کړل ، نه یې له خپل قلمرو څخه دفاع وکړه ، نه یې له استقلال څخه د دفاع جرئت وکړای شو اونه هم داکثریت خلکو په رایه ایجاد شو .**



ټولو اقشارو له خبرتیا پرته، له ټول مالي سیستم څخه دګوتو په شمېر افراد ترې په خورا سپین سترګۍ تغذیه کیږي. داشغال له پیله ترنن ورځې پورې کوم رسمي، حقوقي، اوڅېړنیز ادرس دخپل حقوقي استدلال پربنسټ؛دحقوقو اوسیاسي علومو دیو شاګرد په توګه نه یم قانع کړی چې په کابل کې دچورواکو رسمي جوړښت ته دې، دولت څه، حکومت څه، لا داداري خطاب وکړم.



# راځئ له رازه خبر شو!

عبدالرقیب رقیب

موږ غواړو د مؤمن مسلمان په حیث د راز په اړه بحث وکړو, طبعي ده چې د اسلام د ارشاداتو په رڼا کې یې څېړو

اسلام داسې دین دی چې د هرڅه په اړه جامعه او هراړخیزه تګلاره لري

د وینا په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه جامعه سپارښتنه کوي، هغه فرمایي « من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليقل خيرا او ليصمت» یعني څوک چې په الله او د قیامت په ورځ ایمان لري نو د خیر ښېګڼې خبرې دې کوي یا دې هیڅ خبرې نه کوي.

خیر هغه څه دی چې د کائناتو خالق ورته خیر ویلی وي، سالم عقل هم هغه خیر ګڼي چې شریعت ورته خیر وایي

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه ارشاد ډېر جامع دی، کوم څه چې خیر نه وي هغه مه وایه، ځکه چې ته باور لرې چې د قیامت په ورځ به الله درسره د ذرې ذرې حساب کوي...

مطلب د انسان لپاره اصل پټه خوله ده، مګر که د غږېدو باعث موجود و بیا دې وغږېږي.

ځینې خبرې شته چې خیر پکې نه وي خو شر او ضرر هم پکې نه وي نو اسلام د هغو خبرو په کولو سره انسان ته سزا نه ورکوي خو اجر هم نه ورکوي، لکن ځینې خبرې داسې دي چې کوونکی یې په دنیا او اخرت کې د سزا مستحق ګرزي

یو له هغو خبرو راز خپرول ده

نو راځئ د راز په اړه څه ناڅه معلومات ترلاسه کړو:

هر هغه څه چې ویل او ښکاره کول یې په یو نه یو قسم ناسم وي راز ګڼلای شو

راز دوه ډوله دی:

یو هغه چې تر فرد پورې تړاو لري. بل هغه چې تر ټولنې او اجتماعي امورو پورې مربوط وي .

راز دوهم تقسیم هم لري او د هغه له مخې هم په دوه قسمه دی:

یو هغه راز چې په نه ښکاره کولو یې صریحي یا ضمني وعده اخیسته شوې وي. بل هغه چې وعده وربانديي نه وي اخیسته شوې.

له لومړي تقسیم نه لومړی قسم را اخلو:

هر فرد ځینې ځانګړتیاوې لري چې د ده رازونه وي

مثلاً : یوڅوک ښه پوه، لوړ استعداد او ښه مهارت لري؛ یو ډېرې پیسې او ښه شتمني لري؛ یو کمالداره، دینداره او ښایسته ښځه لري؛ د ښځې اندمونه د هغې رازونه دي. او داسې نور...

هرڅوک چې هره ځانګړنه لري باید کوشش وکړي چې هرچاته او هرځای یې بیان نه کړي، کمال او ځاګړنه هم لکه مال او پیسې، باید د اړتیا په اندازه مصرف شي، نور پټ او ذخیره شي...

یعقوب علیه السلام خپل زوی ته وویل : «یَا بُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُؤْيَاكَ عَلَى إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُوا لَكَ كَيْدًا». ای زویکیه! دا خپل (د برترۍ د بشارت) خوب دې ورونو ته مه بیانوه، هغوی به درته کوم چل ول جوړ کړي.

یعني څوک چې کمال ولري ضرور به حاسدین هم لري، حتی خپل ورونه هم

ورسره حسد کوي، اگر که د نبي اولاده وي...

د یوسف علیه السلام برخلیک د ټولو کمالدارو لپاره د عبرت درس دی؛ هیڅوک باید خپل کمال او دارایي له اړتیا پرته بیان نه کړي کنه سخته ضربه به وویني...

الله تعالی خپل پیغمبر ته داسي امر کوي: «قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ». تاسي دا خپلې ښځې، لورگاني او د مؤمنانو ښځې امر کړئ چې په خپلو (سرونو، مخونو او سینو) خپل ټیکري ځوړند کړي.

ځکه چې د ښځې اندمونه د هغې رازونه دي، باید هرچاته ښکاره نشي هسې-نه څوک ورته ضرر ورسوي او په بده ورته وگوري.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : «اسْتَعِينُوا عَلَى إِنْجَاحِ حَوَائِجِكُمْ بِالْكِتْمَانِ ، فَإِنَّ كُلَّ ذِي نِعْمَةٍ مَحْسُودٌ». الطبراني

د خپلو اړتیاو ترسره کولو کې له رازدارۍ نه کار اخلئ بې شکه له هر برخمن سره حسد کېږي.

الله تعالی راته امر فرمایي چې تاسي د حسدگر له شر نه پناه غواړئ «قل أعوذ برب الفلق... من شر حاسد اذا حسد» که موږ حسدگر ته په لوی لاس فرصت ورکړو بیا نو څنگه ورنه وساتل شو!.

د راز په اظهار باندي باعث کله کله عجب ( ځان خوښونه) وي او کله بیا تکبر او تفاخر وي، کله د ریا او سمعت لپاره دغسي اظهارات کېږي... دا هرڅه د مسلمان لپاره حرام او غټې گناوي دي، د انسان ټول اعمال په هیڅ بدلوي

نو که چاته د راز په اظهار سره مادي او ظاهري صدمه ونه رسېږي معنوي صدمه ورته رسیږي؛ لازمه ده چې د راز له اظهار نه کلکه ډډه وشي...

له یو عالم نه وپوښتل شول چې د رښتیا په بیان کې هم بدي شته؟ عالم وویل هو، د ځان ستاینه که رښتیا هم وي بده ده. د ځان ستاینه همدا ده چې څوک خپلې هستی بیانوي.

علي ـ کرم الله وجهه ـ فرمایي : (سرك أسيرك، فإن تكلمت به صرت أسيره).

ستا راز له تاسره بندي ده، کله چې دي وویل نو ته به ورسره بندي شې. یعني څوک چې ستا راز ترلاسه کړي نو ته به له هغه سره داسي یې لکه بندي، که استقلال ورنه اخلې یایې له غوښتنو سرغړونه کوې نو هغه نفر دي راز افشاء کوي...

راځو د راز دوهم قسم ته، هغه چې ترتولنې پوري تړاو لري:

انسان ته نه ښایي چې د نورو رازونه ترلاسه کړي؛ له راز سره د ساتنې مسؤلیت ورترغاړه کېږي او عاقل انسان په لوی لاس غاړې ته مسؤلیت نه اچوي.

له اخلاقي لحاظه هم هغه څوک سپک ښکاري چې په نه کار کار لري؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي :« إن من حسن إسلام المرء تركه ما لا يعنيه ». ترمذي

په نامطلوبه شیانو کار نه لرل د انسان د اسلام له ښېگڼو یوه ښېگڼه ده.

عمر بن خطاب رضي الله عنه له یو نفر سره خبري کولې چې بل نفر یې ترمنځ داخل شو، عمر په سینه کې ووهل او ورته یې وویل :«رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي کله چې دوه نفره خبره کوي دریم دي پکې نه داخلیږي مگر د دوی په اجازه».

«عن سعيد المقبري قال رأيت ابن عمر يناجي رجلا فدخل رجل بينهما فضرب صدره وقال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا تناجى اثنان فلا يدخل بينهما الثالث إلا بإذنهما» مسند أحمد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : څوک چې د نورو خبري اوري حال دا چې هغوی یې ورنه د پټولو هڅه کوي نو د قیامت په ورځ به یې په غوږونو کې سروپ څخول کېږي.

«ومن استمع إلى حديث قوم وهم له كارهون أو يفرون منه صب في أذنه الآنك يوم القيامة» صحيح البخاري.

نو ویلای شو چې له اجازې پرته د چا رازونه ترلاسه کول د عقل او نقل په اساس حرام او ناروا دي.

که څوک په خپله خوښه چاته راز ورکړي نو که یې د ساتلو ورته ویلي وي دا



راز امانت شو او افشاء کول یې خیانت ګڼل کیږي.

د راز د ساتلو په اړه سپارښتنه کله صریحي وي، په خوله ورته ووایې چې دا خبره چاته مه بیانوه او کله بیا ضمني وي د رازدار له حالاتو دغسي معلومیږي چې غواړي په دې خبره نور څوک خبر نشي... مثلاً : پټ په غوږ کې ورته خبره وکړي، یا یې له مجلس نه را ولاړ کړي او بیا خبره ورته وکړي، یا عقل دا غوښتنه کوي چې په دې خبره باید څوک خبر نشي یا د راز ورکولو په وخت یوې بلې خواته ګوري؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «إذا حدث الرجل بحديث ثم التفت فهو أمانة» رواه أبو داود والترمذي.

هغه راز چې د پټ ساتلو غوښتنه یې شوې وي په مختلفو خاښونو پوري تړاو لري، لکه اقتصادي چارې، سیاسي امور، جنګې تکتیکونه، کورنۍ چارې، تعلیمي رازونه او داسي نور...

په دې هرڅه کې که د راز ساتلو غوښتنه وشي نو باید وساتل شي کنه نو امانت به یې خیانت کړي وي..

په امانت کې خیانت د منافق خاصیت دی رسول الله فرمایې: «أربع من كُنَّ فيه كانَ مُنَافقًا خَالصًا، ومَن كانت فيه خصلة منهن كانت فيه خصلة من النِّفَاقِ حتى يَدَعَهَا: إذَا اؤتُمنَ خَانَ، وإذا حَدَّثَ كَذَب، وإذَا عَاهَدَ غَدَر، وإذَا خَاصَمَ فجر» (رواه البخاري) .

څلور شیان دي که په چا کې ټول موجود وي نو سوچه منافق دی او که یو پکې موجود وي نو د منافقت یو خصلت پکې موجود دی: کله چې امانت ورته کېښود شي خیانت کوي، چې خبري کوي دروغ وایې، چې تعاهد وکړي غدر کوي، چې شخړه کوي ښکنځل کوي.

کله چې حاطب بن أبي بلتعة (رضي الله عنه) د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو راز په اړه مشرکینو ته خبر ولیږل نو عمر رضي الله عنه یې په حق کې داسي وویل : « دعني يا رسول الله اضرب عنق هذا المنافق». لکن رسول الله صلی الله علیه وسلم په حاطب باندي د نفاق تور ځکه تأیید نه کړ چې حاطب بدري صحابي و او د بدریینو ایمانونه تضمین شوي دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : «إن من أشر الناس عند الله منزلة يوم القيامة الرجل يفضي- إلى المرأة وتفضي إليه ثم ينشر سرها»، وفي رواية : «ثم ينشر- أحدهما سر صاحبه» (رواه مسلم)

بې شکه چې د قیامت په ورځ د الله تعالی په نزد تر ټولو شریر هغه انسان دی چې له خپلې ښځې سره په تنهایي کې یوځای شي او بیا د دوی کوم یو هغه کړه وړه نورو ته بیان کړي.

سلمان فارسي رضي الله عنه واده وکړ په سهار خلکو ورنه پوښتنه وکړه چې څنګه حالت و؟ سلمان یې په پوښتنه ځان کوڼ واړول. هغوی بیا پوښتنه وکړه خو سلمان بیا هم ځان ناخبره واړول هغوی بیا پوښتنه وکړه سلمان ورته وویل : الله تعالی دغه پردې، تیکري او دروازې د دې

لپاره ایجاد کړې دي چې د خلکو رازونه خوندي کړي، د انسان لپاره یوازې دا مجال ده چې ظاهر وپوښتي څه چې د پردې شاته دي د هغوی پوښتنه نه ښایي، له رسول الله نه مې واوریدل چې ویل یې : له دا ډول حالاتو بیان کوونکی داسي مثال لري لکه دوه خره چې په لویه لار کې اړیکې سره نیسي. صفة الصفوة

لنډه دا چې خپل راوزنه باید وساتو کنه نو تاوان به مو کړی وي؛ لکن کله کله یوڅوک مجبوریږي چې خپل راز له نورو سره شریک کړي، د مشورې لپاره یا د کومک اخستلو په غرض یا د دې په خاطر چې کار تولیز وي له شریکولو پرته نه ترسره کیږي ...

نو باید یوڅه اصول ولرو او د هغو په رڼا کې رازونه شریک کړو:

راز باید له هغه چا سره شریک نشي چې شهرت طلبه وي ځکه هغه د خپل ځان مطرح کولو لپار راز پاشي...

راز باید له هغه چا سره شریک نشي چې عجب (ځان خوښونه) لري څوک چې دغه طبیعت ولري هغه راز نشي ساتلای...

راز دي له هغه چا سره شریک نشي چې ستا له مقابل طرف نه آزادي نه لري او په یو نه یو قسم په هغوی پوري تړلي وي، لکه حاطب رضي الله عنه چې د مکې له مشریکنو سره یې هستي او دارایي پساو وه نو د دې لپاره چې خپله هستي خوندي کړي د مسلمانانو راز یې قربان کړ ...

راز چې له چا سره شریکوو لومړی یې باید آزموینه وشي، راز ساتونکی د مال او پیسو په ساتلو او داسي نورو .. نه معلومیږي ځکه د راز ساتنه د پیسو له ساتلو نه ډیر سخت کار دی ډیر خلک شته چې په پیسو کې خیانت نه کوي خو راز پاشي...

د راز ساتونکي آزموینه باید خپله په راز ساتلو وشي هغه داسي چې چاته راز ورکوو باید د هغه نفر عادت ملاحظه کړو که یې خپل شخصي رازونه نشو ساتلای مثلاً: د ځان کمالات یې بیانول، د خپلې شتمنۍ اظهارات یې کول، د خپلو کړنو یادونه یې کوله، خپله علمي سویه یې لوړه لوړه کوله، د خپل شخصي- ژوند او کورنۍ په اړه یې معلومات نشرول او داسي نور ... نو هغه انسان په راز ساتنه کې ناکام دی په راز یې مه شریکوه...

کله چې له موږ سره څوک راز شریک کړي:

که له موږ سره څوک راز شریک کړي نو باید دا ایمان ولرو چې الله تعالی مو په هرحال او هروختویني، د راز ساتلو امر راته کوي، په اړه یې رانه پوښتنه کوي او د خیانت په صورت کې سخته سزا راکوي...

باید دا احساس ولرو چې ځان ته خوښوو هغه بل مسلمان ته هم خوښه کړو...

باید دا مو باور وي چې د دې راز په افشاء کولو سره دې نفر ته ضرر رسیږي او په اسلام کې ضرر رسونه سخته سزا لري ...

باید باور ولرو چې د محشر په ورځ به دا نفر رانه د دې خیانت جبیره اخلي ...

باید دا احساس ولرو چې د ملګرۍ او وروړګلوۍ سره خیانت نه ښایي، خیانت ډیر سپک کار دی...

باید باوري یو چې که مو راز افشاء کړ نو د تل لپاره مو په تولنه کې اعتبار له لاسه ورکړ بیابه هیڅوک رابانذدي باور ونکړي او هیڅوک به مو په مشوره او کار کې شریک نکړي...

اما کله کله ځیني داسي رازونه وي چې باید افشاء شي همدا د اسلام حکم وي، دا هغه وخت چې دغه راز د نورو مؤمنانو لپاره ضرر او خطر وي، نو په دې صورت کې باید دغه راز هغه چاته وښودل شي چې د یاد ضرر مخه نیولای شي...

والسلام



# پیام به جوانان

ترجمه : حبیب زاده

**به امید اینکه صحتمند، سلامت و خوشحال باشید، خداوند متعال شما را از فتنه های زمان در پناه خود نگه دارد، آمین.**
**امروز حرف های را در مورد جوانی و جوانمردی با شما شریک می سازیم و در مورد ویژگی ها و مسئولیت های یک جوان مؤمن و صالح، با شما راز دل می کنیم. به امید اینکه بخوانید و خود را در همین آئینه مشاهده کنید.**

## جوانان گرامی!

در اصطلاح عمومی ما و شما «جوان» کسی را گفته می شود که سن کودکی را به پایان رسانیده و تازه به سن بلوغ یا مکلفیت پا گذاشته باشد. اما اگر به نگاه عمیق ببینیم، این تعریف درست و کامل جوان نیست. یعنی هر آن کسی که درین مرحله خاص عمر باشد، جوان واقعی نیست.

در حقیقت، لغت جوان از جوانمردی، مروت و دلاوری گرفته شده، یعنی جوان واقعی کسی است که دارای این کوائف باشد. یک کسی اگر در هر مرحله عمر باشد، اما جوانمردی، دیانت، غیرت، دلاوری، وفا، همت، اخلاص و فداکاری داشته باشد، وی را جوانمرد گفته می شود، حتی اگر یک موسفید هم با کسی مخلصانه کمک نماید، گفته می شود : با من بسیار جوانی کرد. ازین دانسته می شود که جوانی در حقیقت با سن نه، بلکه با شماری از خاصیت و ارزش های معنوی وابستگی دارد. باید هر جوان همان خاصیت ها را در خود پیدا کند، تا به معنای واقعی جوان پنداشته شود.

بیائید، اینجا بعضی از خصوصیات یک جوان واقعی مؤمن و صالح را بشناسیم، تا همان ویژگی ها را در خود رعایت کنیم.

۱ : جوان صالح بر هویت و تشخص اسلامی خود افتخار می کند و شکر پروردگار را بجا می آورد، که او را در یک جامعه مسلمان آفریده است. وی از کفر، فسق و گمراهی نفرت دارد، اسلام را راه نجات و کفر را مسیر هلاکت می داند، بناءً چنگ های خود را بر دین اش فکرا، عملا و قولا محکم نگه می دارد.

۲ : جوان صالح به حیث یک مسلمان مکلف، بیدار و متعهد همواره تلاش می کند معلومات خود را در مورد عقاید اسلامی و مسائل دینی بیافزاید. وی خود را از معنای حقیقی ایمان و اسلام آگاه می سازد، خواسته های ایمان را می شناسد، بر عبادات اسلامی مثلا نماز، روزه، زکات، حج و جهاد خود را آگاه می دارد و در روشنی علم شرعی گام می بردارد. جوان صالح کسی است که تنها بر نسبت ارثی اسلامی کفایت نمی کند، که با چشم گشودن در خانواده اسلامی به دست آورده، بلکه خود را مسلمان شعوری می سازد و معنای حقیقی مسلمانی را درک می کند.

۳ : جوان صالح برای افزودن معلومات اسلامی، با مردم نیک و متدین تعلق می داشته باشد. با ملا امام مسجد، علمای قریه و شهر، استادان مدرسه، استادان متدین مکتب و پوهنتون، و همچنان مجاهدین منطقه خود شناخت و روابط همیشگی می داشته باشد، تا از برکت صحبت آنان نه تنها بر معلومات اسلامی اش بیافزاید، بلکه دینداری را عملا در شخصیت خود جا دهد.

۴ : جوان مؤمن و صالح دارای فکر اسلامی می باشد. زندگی و کاینات را از نگاه جهان بینی دینی می بیند، یعنی این دنیا و تمام کاینات را خداوند متعال آفریده است، خداوند متعال دنیا را برای مسکنت انسان ها و انسان ها را برای عبادت خود آفریده است. پیامبران و کتاب ها را برای رهنمایی انسان ها فرستاده است. قرآن کریم آخرین کتاب و محمد صلی الله علیه و سلم آخرین پیامبر جل جلاله است. ما در دنیا بر رعایت احکام اسلامی مکلف هستیم. با اجرای اوامر اسلامی اجر داده می شویم و به جنت می رویم. اما با ارتکاب گناه و سرکشی در جهنم جزا داده می شویم. دنیا میدان آزمون و ابتلا است و خداوند متعال از ما به انواع مختلف امتحان می گیرد. یکی از ابتلاهای بزرگی که ما دران واقع هستیم، غلبه جهان کفری در عصر کنونی است. مسلمان ها در آزمون هستند که یا عقیده، رسم و رواج کفار را می پذیرند و یا زندگی دشوار، با فقر و مظلومیت را سپری می کنند. جوان مؤمن کسی است که هر گونه صعوبت، غربت، محکومیت، دار، زندان، شهادت و مشقت های دیگر را متحمل می شود، اما ریسمان اسلام را ترک نمی کند.

۵ : جوان مؤمن و صالح کسی است که جهاد در مقابل کفار را فریضه شرعی می داند و با جان و مال خود در جهاد سهم می گیرد. از دل با اشغالگران و مزدوران شان نفرت دارد و به زبان مردم را به جهاد دعوت می دهد. جوان صالح کسی است که مجاهدین را رهروان عزتمند و سربلند راه خدا می داند، با مجاهدین رفاقت و همنشینی می کند و خدمت و همکاری آنان را وظیفه ایمانی خود می داند.

۶ : جوان صالح کسی است که تقوی داشته باشد، نمازهای پنجگانه را با جماعت ادا می کند، اعمال و اذکار مسنون را می آموزد و عملی می کند و ساختار ظاهری، لباس و قیافه اش به طریقه شرعی می باشد. جوان صالح هیچگاه گناه نمی کند، و اگر مرتکب گناه شود فی الفور به بارگاه خداوند متعال توبه می کند، و اگر حق مسلمان دیگری را با غیبت، بهتان و یا ضرر رسانیدن تلف کند، از وی عفو می خواهد و به دربار خداوند تائب می شود.

۷ : جوان صالح بدن ظاهری و فکر خود را از اشیای ضرر رسان مصئون نگه می دارد. هیچگاه مواد مخدر، چرس و پودر وغیره استعمال نمی کند. همچنان از مجلس و رفاقت مردم بدکار، معتادان، فاسقان و کوچه گرد خودداری می کند. جوان صالح با کسی مجلس و رفاقت نمی کند که فکر و عقیده اش خراب باشد، با اسلام و جهاد دشمنی و با کافران و فاسقان دوستی داشته داشته باشد. جوان صالح آن نشرات رادیویی، کتاب ها، سریال ها و دیگر نشرات مبتذل را نمی شنود و نمی بیند که از سوی کافران برای گمراهی جوانان مسلمان به نشر می رسد. زیرا شنیدن و دیدن چنین نشرات اذهان را میکروبی و در مفکوره اسلامی خلل پیدا می کند و بالاخره سبب تباهی دنیا و آخرت می گردد. جوان صالح در بدل آن، کتاب های اسلامی را مطالعه می کند، مواعظ علمای کرام، ترانه های جهادی و نشرات اسلامی را می شنود و با مردم دیندار نشست و برخاست و رفاقت می کند.

۸ : جوان صالح با دین اسلام و با وطن اسلامی خود محبت می داشته باشد، چنانکه رسول الله صلی الله علیه و سلم با دین اسلام و وطن پدری اش مکه مکرمه محبت داشت. اما اگر گاهی محبت اسلام و وطن با هم در تقابل واقع شوند، وی اسلام را ترجیح می دهد. چنانکه رسول الله صلی الله علیه و سلم هرگاه از اوج مظالم کفار وادار شد تا یا اسلام را ترک نماید و یا وطن را، رسول الله صلی الله علیه و سلم اسلام را ترجیح داد. با اینکه فراق وطن بسیار دشوار تمام می شد، اما آن حضرت صلی الله علیه وسلم خانه و قریه اش را ترک نمود و برای اسلام راه هجرت و جهاد را برگزید. جوان صالح می داند که کشورهای جهان در جهان معاصر، بر اساس مفکوره دولت + ملت تشکیل یافته اند، برای ناسیونالیسم تبلیغات زیادی صورت می گیرد، و حتی برای مردم گفته می شود که وطن از همه اولتر و مقدم تر است و چیزی بالاتر از وطن و عشق وطن ارزش ندارد. در حالی که ما عقیده داریم اسلام از همه اولتر و پیشتر است. جوان صالح محبت وطن را در قلب جا می دهد، اما نه آنچنانی که محبت اسلام را فراموش بسازد. از نگاه جوان صالح، خدمت به میهن اینست که آن را از تاریکی های کفر و فسق نجات دهد و به روشنی نظام اسلامی تابان و درخشان بسازد.

۹ : جوان مؤمن و صالح مفاهیم و ارزش های اسلامی را می شناسد و احترام آن را بر خود واجب می داند. نظام

اسلامی، شریعت، حدود شرعی، دعوت، عبادات، تعلیم دینی، تصوف، جهاد، هجرت، شهادت و دیگر مفاهیم اسلامی را واجب الاعتقاد و الاحترام می داند. جوان مؤمن به آن تبلیغات رسانه های کفری و سیکولران که در برابر مفاهیم اسلامی و برای بی ارزش نشان دادن آن می کنند، هیچ اهمیتی نمی دهد، بلکه دسیسه گمراه کننده دشمن می داند.

۱۰ : جوان صالح مسئولیت های خانگی خود را می شناسد، با پدر و مادر، برادران، کاکاها، زنان و دیگر اعضای خانواده روش نرم، پر عطوفت و شفقت آمیز می داشته باشد، بزرگان خود را احترام و بر خوردان شفقت می کند، خدمت و فرمانبردای پدر و مادر را بر خود فرض عین می داند، هیچگاه با پدر و مادر حرف تند نمی گوید و از اوامر شان سرپیچی نمی کند، بلکه رضای پروردگار را در رضای پدر و مادر می بیند. جوان صالح عصای دست پدر و مادر و سائر اعضای خانواده می باشد، در کارهای خانه و در اثنای غم و خوشحالی از دیگران در خدمت و قربانی پیشتاز می باشد. جوان صالح کار یا وظیفه مشخص دارد. وی بار دوش دیگران نمی باشد، بلکه بخشی از مصارف مالی خانه را به دوش می گیرد.

۱۱ : جوان صالح همانند زندگی خانگی، در زندگی اجتماعی نیز خود را به شماری از مسئولیت ها مکلف می داند. با همسایه ها، رفقا و مردم منطقه، همسایگی خوب، اخوت، احسان و همکاری می داشته باشد. از احوال فقیران، یتیمان و مردم بی بضاعت آگاه می باشد و با آن ها حتی الوسع همکاری می کند. در تعامل با عزیزانش فریضه صله رحمی را فراموش نمی کند. آگاه شدن از احوال آنان، عیادت بیماران شان، شرکت در غم و خوشحال آنان، همکاری با آنان و دعا کردن در حق آنان را، وجیبه خود می داند. جوان صالح در سطح قریه، منطقه و کشور از سهم گیری در کارهای خیریه مثلا اعمار سرک و پل ها، تعمیر مساجد، مدارس، مکاتب و کلینک ها، نهال کردن درخت ها، صفایی کاریزها و نهرها و دیگر کارهای خیر، دریغ نمی کند، بلکه با نیت ثواب و مخلصانه انجام می دهد.

۱۲ : جوان صالح هر مصروفیتی که داشته باشد در کار و وظیفه اش صادق، مخلص و باهمت می باشد. اگر درس می خواند با کمال شوق می خواند و خانواده و استادان خود را فریب نمی دهد. اگر کار دنیوی می کند با دلاوری، همت و تقوی انجام می دهد. در کاروبار دروغ نمی گوید و از خیانت، فریب و نیرنگ خودداری می کند. جوان صالح از خوردن مال حرام نفرت دارد و خوردن حق کسی دیگری را رسوایی دنیا و تباهی آخرت می داند. وی برای کار و پول نماز را قضا نمی کند، بلکه با شنیدن آذان برای نماز آمادگی می گیرد. جوان صالح کار امروز را به فردا نمی گذارد و نیت اش در هر کار رضای پروردگار می باشد.

۱۳ : جوان صالح اخلاق نیکو دارد. با مردم با پیشانی باز و چهره متبسم رو برو می شود، از حرف های تند، قهر بی جا، دشنام و ضرر رساندن مسلمانان به زبان و دست، خودداری می کند. اگر برادر مسلمانی او را به زبان یا دست ضرر می رساند، وی از عفو، حلم و حوصله کار می گیرد و از خداوند متعال امید اجر می داشته باشد. جوان صالح از تعصبات قومی، زبانی و منطقوی پاک می باشد، با همسایه ها و نزدیکان خود رقابت و حسد نمی داشته باشد، آنچه را برای خود می پسندد برای برادر مسلمانش هم می پسندد و همیشه در فکر این می باشد که چگونه عبادت پروردگار، اتباع رسول الله صلی الله علیه و سلم و خدمت مخلوق پروردگار را انجام بدهد.

۱۴ : و حرف اخیر اینکه جوان واقعی آن جوان مؤمن و صالح را گفته می شود که بر هویت و تشخص اسلامی خود قناعت دارد. تبلیغات، آیده آل ها، رواج و فیشن های گمراه کننده جهان معاصر، ذهن او را مشغول نمی سازد و نه هم به آن ها شوق پیدا می کند، بلکه تشخص، فرهنگ و ارزش های اسلامی را برای خود بسنده می داند و بر آن کاملا قانع می باشد. صحابه کرام، سلف الصالحین و قهرمانان تاریخ اسلامی، آیده آل های قابل تقلید برای جوان مؤمن و صالح می باشند. وی می کوشد خود را همانند آنان بسازد، نه مانند چهره های تمدن منحرف این عصر.

پس بیائید، صفات همین جوان واقعی مؤمن و صالح را در خود پیدا کنیم، تا هم نیکنامی، آبرومندی و کامیابی دنیا را به دست بیاوریم و هم از آخرت را. هم خود سود ببریم و هم برای پدر و مادر، خانواده و جامعه به عنوان یک عنصر مفید، زندگی با افتخار داشته باشیم.به همین امید.

## غروب منم خو را سره....

پیرمحمد کاروان

غروب منم خو را سره ژېړی خزان به منې
د سپوږمۍ شپه، د رڼو ستورو ډک آسمان به منې

په کې ګلاب ګلاب نغمه وایي بلبله ناسته
له وران کمر نه ها را څوړند ارغوان به منې

د سپرلي شپه نرمه پسته او ښایستوکې هوا
له خپل معشوق سره سفر د بیابان به منې

یوه هندو د هارمونیې شاته سرود غږاوه
وې په اهاړ کې روژې نیسي مسلمان به منې

د جلالي پښتو جمال نه انکار کفر بویه
خوږه ټپه په یکه زار په یاقربان به منې

ګلاب نرګس ځان ته څه وایي دا منم در سره
رنګ و خوشبو د ناترسره یوه ارمان به منې

ماشوم زړګی د کایناتو په ټال و زنګوه
خدای به منې له کرشمو نه ډک جهان به منې

دا ، له جمال مالامال ښکلی او منلی ماښام
که یې د زړه په سترګو لولې دا رومان به منې

لنګې زمری په یوه ژوبڼ کې زمرکټي ته ویل
له زمري توب سره سره ګورې انسان به منې

په یوه موسکا دې له برزخ نه تر جنت رسوي
ناز و ادا به منې مینه د جانان به منې

په جلالي اندازیې ووې جمالي نقادې
کاروان که نه منې غزلې د کاروان به منې

۱۳ سرطان ۱۳۹۹ هـ ش خوست توره ورۍ

## وژونکی ډاکټر

انس حقاني

دغضب څپو اخیستی او ژوندون ته یې خطر دی
چا چې ژمنې ماتې کړي، زخمي کړی یې باور دی

نه یې ټپ د چا ټکور کړ، نه یې رنځ د چا دوا کړ
بس ژوندي وګړي وژني، لیونی د ارګ ډاکټر دی

چاته سوله ټوله ګټه، څوک په جنګ کې ګټې ویني
نړیوال دي نه مړیږي، یو افغان دی در په در دی

په قیمت د دین ناموس چې ابادي دوطن غواړي
مفکوره یې اشغال شوې، دا وګړی سیکولر دی

په یو څو فاحشو ښځو، لږکیو پریکړه مه کړه!
دلته سَتر فریضه ده، ټول جهان په دې خبر دی

دا سړی به صالح نه شي، په خبرو په اترو
دا نس ارزیابی دا ده، د انس داسي نظر دی

## د رڼا وړانګې ...

ثاقب خپلواک

د ښکلا چټې په نغمو، څوړ د شپېلېو راځي
د ترنم د غرو لمن کې، تر کېږدېو راځي
سندریز یون به د لاهوت په څو سندرو لمانځي
بیا به شهیدې زمزمې له اسوېلېو راځي
د چم دیوان یې کړل ولجه د حق په توره باندې
زمونږ تر کلي به کاروان د ښاپېرېو راځي
کړي به سنګسار د ابرهه د وخت مغرور ځواکونه
پاس په هوا کې به کتار د توتکېو راځي
د نور نیزې به کړي، بیا ښخې د تیارو پر تټر
د رڼا وړانګې به له غیږ د تروږمېو راځي
راز د مُسکا ښکاري ثاقبه! د غاټول پر شونډو
راج د سپرلو دی، خوسلګۍ به له سیلیو راځي

## امن سپینې وراوې راځي

شفاعت ریحان

د هیواد غېږ ته به د امن سپینې وراوې راځي
چې د یتیم په خوله ورېږي، ورېږي دعاوې راځي
دلته به ماتې شي او پرې به یاغي مرۍ شي
که په مادي طاقت سپرې، وحشي بلاوې راځي
هر ځل پړاو د انقلاب لومړی خوارۍ زېږوي
او وروسته د ازادۍ شال کې بریاوې راځي
د شپو څادر به شي رانجه د سباؤن د سترګو
د هر قدم په بدرګه به یې رڼاوې راځي
نفرت به مړ وي او هو مینه به پیغلوټې ښکاري
د بدرنګۍ ځاله به رنګه وي، ښکلاوې راځي
د سپرلي وږم به ګلونه په ځوانۍ راولي
او په نڅا به ورسره مستې هواوې راځي
د چا له سترګو شفاعته! دروند ازار راپسې
په ژوندانه چې راته سر په سر سزاوې راځي

## راتلونکی....

وچو رودونو کې به بیا او به جاري شي
مړاوی ګلستان به آبیاري شي
ښارونه به روښان شي په راتلو دا تلانو
کتارونه دلښکر د شازلمو به ګلپاشي شي
فسادیان به بېرته د فساد ځالو ته درومي
کابل به یو مخ جاسوسانو نه خالی شي
آهونه فریادونه د مظلومو به رنګ راوړي
عدالت به ټول هېواد کې عمومي شي
ښاریان به مو له غلو نه په راحت شي
کلیوال به مو چاپو څخه خوندي شي
مسکینان به په تن پټ په نس ماړه وي
خائنان به ټول په ګور یا زنداني شي
انسان ته به قیمت خپل شي تر لاسه
ور که به خوره ټوله بدمرغي شي
افغانان به عزتمند وي په جهان کې
دفن به فرهنګ د غلامي شي
چیني به د حکمت او د علومو را خوټېږي
عام به ثقافت د پاني پت او ابدالي شي
مخکښان د انسانیت به افغانان وي
تکرار به بیا تاریخ د سومنات وغزنوي شي
دروغجن به ټول له خپلو دروغو توبه ګار وي
هر خبر د خبریال او ژورنالست به باوري شي
د مېرمنو د عزت خطر به ورک شي
له ارګه به په منډو مفکوره د یهودي شي
طالب به بیا معمار د اعمارِ مجدد وي
عقل به نصیب د جاسوس او اربکي شي
سپین بیرغ به شي رپانده په ارګ باندې
تاریخ کې به لیکلی دا یومِ آزادي شي
(انور) خپل خوب ته تعبیر دا سې ورکړي
دا ردو بېسونه ډک به له لشکرِ عمري شي

م:شمس...منصور



# د فکري جګړې!



## اصول، اهمیت اوضرورت!

که په نن وخت کې د روانې فکري جګړې په اسالیبو او ادبیاتونظر واچوو،نوبعینه په هم هغه پخوانۍ بڼه جریان لري، پکې هم هغه لهجه اوهم هغه اصطلاحات کارول کیږي،کوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دبعثت وروسته دباطلو معبودانو پیروانو او دهغو پلویانو یالارویانو کارول،نن هم دباطل اوکفري نظامونو پیروان پخپل ټول علمي اوعملي ځواک سره هڅه کوي چې داسلام اوحق پالنې رڼا ګانې تتې او ووژني څنګه چې داسلام په پیل کې دمکې مشرکانو اونوروکافرانو داسلام دبلیدونکي فانوس دوژلوهڅې کولې

دنړۍ په بېلابېلو برخوکې په خاصه توګه په امریکا اواروپاکې دفکري جګړې دډګرپراخولو په باب غونډې او سیمنارونه جوړیږي،په هغوکې یواړخ ته دخپلو پلانونو جاجونه او ارزونه کوي اوبل پلو مسلمانانوته پخپل دین (اسلام) کې دشکوکو وشبهاتواچولو لپاره د ګډونوالو څخه نوې طرحې اومشورې اخلي

نني کافران اومشرکان هم دمکې دکافرانو او مشرکانو پشان دخپلوجاهلانه اقداروڅخه ددفاع پخاطر ډول،ډول فاسد تاویلات وړاندې کوي،داسلام اومسلمانانوپخلاف دروغجن تبلیغات اوپروپاګند خوروي،مسلمانانوته دجاهلانو،بیرته پاتي اونالوستو طعنې ورکوي،په دیني اقدارو او ملي عنعناتو یې مسخرې اواستهزاوې کوي، نړۍ کې دمسلمانانو دحقوقو رښتیني علمبرداران،ترجمانان، منلي قایدین، جهادي او سیاسي زعماء په ناسمو اورزیله القابو یادوي، دمسلمانانو په واقعي همدردو اومخلصو مشرانو او د هغوی په کردارونو او کارنامو خاورې اړوي، هغوی نړۍ ته تنګ نظري او توندروي معرفي کوي، رسنیو کې هغوی پورې ملنډو اومسخروته یې نوم دمیډیا ازادي ایښی،په اسلامي ټولنو اوهیوادوکې ددیندارو اوپخپل هیواد اودین مینوخلکو دحیثتونو مجروحولو په پار مختلفې برنامې ترمختلفوعنوانو لاندې پیل کړي دي،دمسلمانانوځوان کهول کې دفحاشۍ اوعیاشۍ ناسور خورولو ته دهنریت نوم اخلي، او په عنوان یې بې شمیره ګمراه کوونکې دسیسې جوړې اورامنځته کړي دي، دمسلمانانو ځوانان هلکان اوځوانې نجونې په مختلفو نومونو اولالچونو ورکولو تیرباسي او ګمراه کوي یې، او هغه مسلمانان چې د دوی په دام کې نه نښلي اویا د دوی دنارواکړنو پرضد غبرپورته کوي، پرضد یې وسلې پورته کوي ،وژني یې، بندیزونه پرې لګوي،ژوندیې دنړیوال امنیت لپاره خطر پلمه کوي او دنیولو لپاره یې په میلونوډالر انعامونه ټاکي او دنیا پرې سورتنورګرځوي .

لکه دمکې دور وروسته په مدني دورکې کافرانو دمسلمانانوپخلاف په څلور طریقو سره فکري جګړه کوله په ویناوو اوشعرونو کې به یې دمسلمانانوهجوه کوله،مسلمانانو ته عیوب اوقبایح منسوبول، ورسره یې

بحثونه او مناظرې کولې،له منافقت نه ډکې کړنې اوهڅې بې کولې، دمسلمانانوجاسوسې اوڅارګري يې کوله، نن ورځ هم کفري ځواکونه په تمامه معنی پورته يادکارونه کوي، نړۍ ته مسلمانان ترهګرمعرفي کوي، دنړيوالې ميډيا دځپو پرمټ مسلمانانو باندې ډول ډول تورونه پورې کوي،نړۍ ته داسلام اومسلمانانو ناسم تصوير وړاندې کوي

بل په نړيوالوقضاياوو کې چې کله دلومړي نړيوال جنګ وروسته په ۱۹۲۳ زکې عثماني خلافت سقوط سره مواجه شو اوهمداراز د دوهم نړيوال جنګ وروسته ۱۹۴۵ زکې دملګرو ملتونوپه نامه چې کله نړيواله ټولنه او امنيت شورى رامنځته شوه،مسلمانانو او اسلامي هيوادوسره يې په ښکاره يوه لويه بې انصافي وکړه، هغوی ته يې دوکه ورکړه يولورته په ياده نړيواله ټولنه کې مسلمانان دمؤثررول لرلوڅخه بې برخې کړل ، بل يې اسلامي جغرافيه په کوچينو، کوچنيو هيوادو او دولتونوتقسيم کړه،دملل متحد نړيوال منشور وليکل شو،حقوق بشرسازمان رامنځته شو او دهغه لپاره منشور او اصول وليکل شول، په دې ټولو کې مسلمانان ديوې بې انصافۍ، ديولوی فريب او دجل ښکار شول، هغه داسې چې دملګرو ملتونو نړيواله ټولنه په ښکاره نړۍ کې دجنګونو دمخنيوي په پلمه يې رامنځته کړه، خو په عمل کې يې دځواکمنوهيوادو دګټو وټو خوندي کولودنده ورته وسپارله، نړۍ کې دجنګونو دمخنيوي په ځاى يې دځواکمنو هيوادوپه اشاره او غوښتنه په بيرته پاته اوکمزورو هيوادونو دهغوی حملو اويرغلونوته دمشروعيت ورکولو پريکړه ليکونه منظوورول اودامنيت شورى په نامه پنځوګونو ځواکمنو هيوادوته يې د ټولې زمکنى کړې دملکيت واک( ويټوپاور) ورکړ ددې په مټ ( پنځه ګونو هيوادو)ځانولپاره ددومره پراخ واکونه ترلاسه کړل چې ور ته په کتو داسې انګيرل کيږي چې «زمکنى کره» د ځواکمنو هيوادو دمال څرحيثيت لري،هغوی يکې له ځانوپرته نوروته دژوند حق نه ورکوي، يواځې هغه څوک يکې دژوندتيرولو حق لري چې د دوی استعماري ګټې وټې نه ګواښي،د دوی دغلامۍ جغ ته په اسانه اوتل سربښکته نيسي، اوهرهغه ملت چې د دوی ته سرنه ټيټوي هغه له ژوند څخه محروموي، د هغوی خوښه ده چې دچا حکومت په رسمت پيژني او دچانه پيژني، د هغوی واک دی چې دچاواک ته د قانوني اومشروع سند ورکوي اودچاته يې نه ورکوي يا په بل تعبيرنړۍ کې چې هرملت دپنځوګونوهيوادو په معيارونوبرابرنه وي هغه دحکومت يا نظام جوړولو حق نلري، سملاسي دامنيت شورى په يو فرضي اوجعلي حکم پورته کيږي وربانديې يرغل کوي، په دې لړکې ګڼ مثالونه شته چې راتلونکي به وربانديې بحث وکړوالبته يومثال دلته هم راوړو، هغه زموږ دخپل هيوادمثال دی په ۹۰ يموکلونوکې دلته د اسلامي امارت په عنوان يومشروع نظام اوحکومت رامنځته شو ،چې هيواد ته يې سوله راوړوه، وطن يې دملوک الطوايفی له شره وژغوره،د واحد تاريخي افغانستان دتجزيې مخه يې ونيوه،۹۵ سلنه خاوره يې دشروفساد له منګلو وژغورله، خو داچې هغه دغربي نړۍ په مزاج برابر نه وو، ترپايه ملګروملتونو هم تسليم نکړ،اوس ديو حکومت دمشروعيت لپاره دملګروملتونو لخوايه رسميت پيژندلوشرط يواځې دمسلمانانو لپاره دی؟خو په نړۍ کې يوخپلواک، اسلامي حکومت رامنځته نکړې شي؟ ددې يو بل ژوندی مثال فلسطين دی، فلسطينيان مستقل حکومت اواداره لري دنيمې پيړۍ نه زياته موده وشوه چې ملګري ملتونه يې په رسميت نه پيژني، هم داسې کشمير اوچيچن وا خله چې تردې مهاله له ازادۍ څخه په دې بهانه محروم دي چې ملګري ملتونه او امنيت شورى دهغوی ازادي نه مني

نوداګرد په يونه يوشکل د فکري جګړې د دوام محاذونه دي،چې په وسيله يې دنړۍ استکباري ځواکونه مسلمانان ځپي اوپرې ظلمونه کوي، په موجوده وخت کې له اقتصادي پلوه دمسلمانانوکمزوره کول دکفري نړۍ يوه درنه حربه ياوسله ده،غواړي مسلمانان نړۍ کې دفقر اولوږې ښکارکړي، دمسلمانانو مالي اواقتصادي زيربناوې يا يومخ دځان کړې اويايې له منځه يوسي، خومسلمانان د دوی لاسونوته تل ناست او محتاج وي

او پـه نتیجـه کـې د دوی هـرډول الحـادي اوارتـدادي غوښـتنې پــه اســانه او ژرمنــي، دهیوادونواقتصــادونه کمــزوري کــول اوبیــا هغوتــه دنړیــوال بانــک لخــوا دملاماتوونکوشرایطولاندې پورونه ورکول اوپه بدل کې هغوی دخپلوسیاسي اوپوځي ارادو په منلو قانع کول دغربیانو یوه بده اوکرغېړنه ستراتیژي ده په ورته توګه اروپایان اوامریکایان دخپلوکمپنیانولخوا لګیادي نړی کې په خاصه توګه اسلامي هیوادوکې مهمې اقتصادي پروژې،کارخانې، د بریښنا تولیدولو پروژې« نجکاري» یعنې دشخصي سیکتورپه پلمه پیري، دهیوادونو له حکومتونوڅخه په مختلفوحیلو،بهانو اوچارواکو ته دشخصي لالچونوپه ورکولو سره یې په ارزانه پیري اوبیا هم هلته یې بیرته صارفینوته په ګرانه بیه عرضه کړي، ددې ډیربد اومنفي اړخ دادی چې په دې توګه کرار، کرار هغه هیواد د کاله دننه دخپلوملي شتمنیو او اقتصادي زیربناوو څخه محروم کړي اوبالاخرې ځانوته محتاج کینوي،هرکله چې یوهیواد دخپل کوردننه ملي شتمنی وپلوري، مهمې اقتصادي پروژې نړیوال بانک سره ګروکړي،په هغه باندې دروانـي فشار زیاتولو لپاره هغه«دیوالیه شوی»اعلان کړي څو دډیربدو اوترخوشرایطوپه بدل کې له دوی څخه د پورونواخیستوته غاړه کیږدي، په ترخو شرایطو کې دهغه هیواد د فکري ازادی سلبول،سیاسي محکومیت، اودپوځي ځواکمنی ګواښل راځي، که خدای کول په دې اړه به تفصیلات راتلونکوبرخوکې وړاندې کړو دلته یوائې په دومره یادونه بسیا کوو

**هو! دمسلمانو دځوانانوپه ګډون اسلامي سیاسیونو اوقیادتونولره ددې ادراک اشد ضروري دی څوهغوی پوی شي چې دغربیانو هر فکري، سیاسي اوپوځي حرکت دوه اهمې موخې لري :لومړی خپل دین او کلتور ته پراختیا ورکول او دوهم پریمانه اقتصادي ګټې وتې ترلاسه کول اود فقر ونیستی له حالته ځانونه ویستل.**

## صلیبي جنګونه:

که پنځمه پیړی ( یوولسمه زیږیزه) کې د صلیبي جنګونو دپیل په اسبابو غور یاځیږنه وکړو نویادې دواړه نکتې په لاس راځي، صلیبي زیارت کوونکي به دډلو اوقافلو په شکل کې دخپلومقدسوځایونو دلیدلولپاره دمسلمانانوښارونوته راتلل،هغوی به دلته یوه نوې نړی ولیده،دمسلمانانو دمترقي ژوند،ښایسته ښارونو،ودانو ښونولیدل ورته دزغملو نه وو، زکه دوی تر پیړیو،پیړیو هلته دخپلوچارواکولخوا په تیارو، فقر اولوږه کې ژوندتیرولو ته اړیستل شوي وو،هغوی وربانـدې سخت ظلمونـه کول،کلـه بـه چې هغوی بیرته اروپا ته ستنیدل،دمسلمانانو دآرام، سوکاله ژوند اوپرمختللي تمدن څخه به مرعوب وو، کرار، کرارهغوی هم پخپلوپاچایانو او واکمنو باندې د هوسا او خوشال ژوند داسانتیاوو برابرولو لپاره فشار اچول شروع کړل،لیکن دپاچایانومزې اوچړچې د ولسونود تاریک ژوندسره تړلې وي، هغوی دانه غوښتل چې عام خلک دې هم خوشال اوهوسا ژوند ولري، شاهانو او دهغوی کورنیو دنسلي تفوق په ایډیا ترعامو خلکولوړ ګڼل ، پاچایانو ددې لپاره چې دخپلوولسونوپام له ځانوڅخه وګرځوي،ورته یې دخپل بد اوتاریک حالت دپای ته رسولو لپاره دانسخه وښوده چې ځئ! دمسلمانانو ښایسته ښارونه اوکورونه غنیمت کړئ ، تاسوبه هم دهغوی پشان دهوسا اوخوشال ژونده برخمن شئ،دجنګیالیو دجذباتو راپارولو او دوینوګرمولو لپاره یې دصلیبي جنګونو دشروع کولو نغاره وغږوله،دوهم هغوی به دمسلمانانوښارونوکې لیدل چې مسلمانان دینداره اوپه شریعت عمل کولوته لیواله دي،د دوی لپاره داهم دزغم وړ نه وو او په لیدلوېې حسد ورته چې ولې دوی( عیسویان) پخپل دین باندې داسې عمل نشي کولی؟ نوپه دې روحیه چې یوځانونه پخپل دین باندې قربان کړي اوبل دمسلمانانو روان عملي خوشاله اسلامي ژوند ته ټکان ورکړي درېیم هغه ښارونه چې صحابه وو، تابعینو اواسلامي فاتحینو له عیسایانو څخه نیولي وو بیرته ونیسي اوهلته بیا عیسویت پلي کړي داروپا

ګڼوصلیبي واکمنو دصلیبي بیرغ لاندې اودصلیب په نامه اسلامي نړۍ باندې دیرغل کولو اعلان وکړ

**دصلیبي جنګونو تعریف:**

الحروب الصلیبیة التي دعا الیها رجال دین النصاری والقساوسة ضد المسلمین باسم الصلیب وتحت رأیته

صلیبي جنګونه هغه دي چې دنصرانیانومذهبي مشرانو بلنه ورکوله چې داجنګ به دصلیب په نوم او دصلیب لاندې کیږي .

**دصلیبي جنګونو دور:**

په تاریخي لحاظ صلیبي جنګونه په کال ۴۸۹ هق کې شروع شول اوپه ۶۹۰ هق کې پای ته ورسیدل په دې توګه تر شاوخوا دوه پیړیو وغځیدل

**دصلیبي جنګونو اهداف:**

په تړوله کې دصلیبي جنګونو دپیلولو عمده موخې هغه وې چې بره مو ورته اشاره وکړه، چې داروپاچایانو ددې لپاره چې دعامو ولسونو پام له ځانوڅخه په بله وګرځوي،او په اروپاکې دفقر اومحتاجۍ حالت دپای ته رسولو لپاره دمسلمانانو ښارونه اوشتمنۍ لوټ او تالان کړي، عیسوي دین ته پراختیا ورکولو لپاره مسلمانانوڅخه مهم ښارونه اوسیمې لاندې کړي،خوپر دې علاوه نوراهداف یې هم لرل چې څو یې په لاندې ډول دي

۱ـ اسلامي هیوادونه قبضه کول

۲- بیت المقدس دمسلمانانو له لاسو ویستل

۳- مسلمانانوڅخه دخپلوپخوانیوشکستونوغچ اخیستل

عیسوي مذهبي مشرانوخپلو خلکوته داشتعال ورکولو لپاره دا پروپاګند په ډیرشور اوزور سره وکړ چې مسلمانان په القدس کې دعیسایانو دمقدسو مقاماتو توهین کوي اواروپایي زیارت کوونکوباندې ظلمونه کوي ، دپطرس(پیټر) په نوم یوراهب چې دالقدس زیارت کولوڅخه ستون شو، اشتعال انګیزویناوو یې په تړوله اروپاکې اوربل کړ، هغه و چې په ۱۰۸۵ زکې یوعیسوي پوپ(اربن ) په [وینس] نوم ځای کې دلومړي صلیبي جنګ پیل اعلان کړ.

**لومړی صلیبي جنګ:**

لس لکه صلیبیانو دفرانسې دپاچا(ګاډفري) په قیادت کې په ۴۹۲ هق شعبان میاشت (۱۰۹۹، جولایي) کې په القدس باندې صلیبي بیرغ پورته کړاوپه اقصی مسجدکې دننه یې اویازره مسلمانان یې په شهادت ورسول ددومره ډیرې وینې توی شوې وې چې عیسوي فاتحینو به پکې خپل اسونه ترزنګنوپورې ډوبول.

**عماد الدین زنګي:**

دبیت المقدس دسقوط څخه ۲۶کاله وروسته په ۵۱۸ هق (۱۱۲۴ز)کې دعماد الدین زنګي په نوم یوغیرمشهور مجاهدپه بصره او واسط کې محلي واک ترلاسه کړ،ډیرژرهغه موصل کې یوخپلواک حکومت رامنځته کړ اود صلیبیانوپخلاف یې جهاد شروع کړ،له ۲۶کلن اوږده ځنډ وروسته دصلیبیانوپه ځواک باندې لومړی تندریز برید وشو دهغه له بریاوو څخه صلیبیان وډارشول

**نورالدین زنګي او دوهم صلیبي جنګ:**

دعمادالدین زنګي ځوی سلطان نورالدین زنګي دخپل پلار شروع کړی جهاد جاري وساته ، دزنګي کورنۍ دفتوحاتودمخنیوي لپاره یوځل بیا صلیبي جنګ شروع شو

په ۵۴۲ هق کې(۱۱۴۸) څولکه جرمنیانو اوفرانسویانو د(سینټ برنارډلوئي اووم) په مشرۍ شام باندې حمله وکړه مګرپه ۵۴۴ هق کې(۱۱۴۹) کې ناکام شول اوبیرته ستانه شول

**صلاح الدین ایوبي او دریم صلیبي جنګ:**

سلطان صلاح الدین ایوبي دهغه وروسته چې مصراوشام دواړه یې متحد اوترخپل واک لاندې راوستل په ۵۸۳ هق ربیع الثاني کې دحطین جګړه وکړه او شام کې یې دعیسایانوځواک فناکړ، په ۵۸۳ هق کې درجب

په ۲۷مه (۱۱۸۷ ز) یې بیت المقدس فتح کړ، په دې سره اروپایان مشتعل شول په ۵۸۵ هق ( ۱۱۸۹ز) کې یې په فلسطین حمله وکړه د دادریم صلیبي جنګ وچې څلورکاله یې دوام وکړاوپه ۵۸۸ هق شعبان(۱۱۹۲ ز) کې دصلیبیانوپه شکست سره پای ته ورسید

### څلورم صلیبي جنګ:

دجرمني پاچا(هنري شپږم) دڅلورم صلیبي جنګ بیرغ پورته کړپه ۵۹۱ هق ( ۱۱۹۵ز) کې یې په شام حمله وکړه خو ترعکاپورې ورسید،هلته ومړ داڅلورم صلیبي یرغل و چې دهغه په مړینه پای ته ورسید

### پنځم صلیبي جنګ:

په ۶۱۸ هق ( ۱۲۲۱ز) پنځم صلیبي جنګ پیل کړد سلطان صلاح الدین ایوبي وراره الملک الکامل او دهغه ورونو دکلکې مقابلې او دفاع وروسته صلیبیانوته عبرت ناک شکست ورکړ

### شپږم صلیبي جنګ:

په ۶۲۶ هق ( ۱۲۲۸ز)صلیبي جنګ وشو دجرمني پاچا(فریډرک دویم ) په مشرۍ صلیبي لښکر حمله وکړه داخل مسلمانان مرعوب شول او القدس یې دیوې معاهدې له مخې ترخاص وخت پورې جرمنیانوته وسپاره اتلس کاله وروسته هغه معاهده پای ته ورسیده په ۶۴۲ هق ( ۱۲۴۴ز)کې ایوبي واکمن الملک الصالح دخوارزمي مجاهدینوپه ملګرتیا صلیبیانوته شکست ورکړ او القدس یې بیرته له هغوی څخه ازادکړ او مزاحمت کوونکوصلیبیانوته یې غزه کې دروند شکست ورکړ.

### اووم صلیبي جنګ:

دفرانسې پاچا(سینټ لوئیس)دروم دپوپ په هڅونه په ۱۲۴۸زکې اووم صلیبي جنګ اعلان کړخوپه ۶۴۸ هق دمحرم په ۲مه(۱۲۵۰ز) په منصورنوم سیمه کې د شکست سره مخ شو تردې چې هغه خپله مسلمانانو ژوندی ونیو اوڅلور کاله وروسته خپل هیواد ته ستون شو.

### اتم صلیبي جنګ:

اتلس کاله وروسته په ۶۶۸ هق ( ۱۲۷۰ جولايي) کې سینټ لوئیس یوځل بیا حمله وکړه ، خو دکلابندۍ په دوران کې ناروغ شو او ومړ، په دې سره اتم صلیبي جنګ هم ناکام شو او ورسره دتل لپاره دصلیبي جنګونو لړۍ پای ته ورسیده په ۶۹۰ هق ( ۱۲۹۱ هق)دمصرشاه الملک الخلیل دټول شام نه عیسایي حکومتونه ختم کړل او دپنځمې پیړۍ صلیبي نښې نښانې یې ونړولې

### اروپا کې دفکري جګړې مؤسس:

سینټ لوئیس دمړینې څخه وړاندې دېرلپسې شکستونو وروسته په دې سوچ مجبورشو چې په مسلمانانو دغلبې مندلو لپاره فکري یرغل او ددې لپاره علمي وده اوتیاری ضروري دی، نو هغه پخپله وصیت پاڼه کې دمسلمانانو پخلاف دبري مندلو لپاره دڅلورخبرو وړاندیزوکړ:

۱- دمسلمانانواکمنوترمنځ درزونه اچول

۲- مسلمانانو کې دکلکې عقیدې اوپخې نظریې خاوندان سرپورته کولوته نه پرېښودل

۳-له غزې تر انطاکیې پورې پراخ اروپایي حکومت رامنځته کول( داسیمه داوسني فلسطین او اسراییل څخه عبارت ده)

۴-په مسلمانانوکې دفحشاوو اومالي فسادپه خوررولو سره دهغوی ایماني ځواک کمزوری کول

په صلیبي جنګونو سره داروپایانوفکرونه بدل شول او دیوځي جنګ ترڅنګ په فکري محاذونوکې دجنګیدو لپاره یې هم پریمانه وسائل او وسېلې تیارې کړې او نړۍ کې یې دروانې فکرې اوکلتورې جګړې اساس کیښود نوربیا ...



# د شهید قاري سیف الله فاتح ژوند او کارنامو ته کتنه

**قاري عبدالستار سعید**

له نن څخه څو کاله وړاندې د ۲۰۱۴ میلادي کال د فبروري په پنځمه نیټه د امریکا لخوا د اسلامي امارت د درې تنه مسؤلینو نومونه په تور لست کې داخل کړای شول. له دې جملې یو نوم د قاري سیف الله صاحب و. هغه وخت چې رسنیو دغه نومونه تکرارول نو د ډیرو خلکو لپاره د قاري سیف الله صاحب نوم ناآشنا و او ځینو خو حتی دا هم پوښتل چې دا دومره مهم مجاهد څوک دی چې د امریکا غوندې نړیوال سوپر ځواک یې د ځان لپاره خطره بولي خو حتی د خپل هیواد خلک یې هم له نوم سره بلدیت نه لري.

واقعیت دا دی چې په افغانستان کې امریکایي یرغلگرو ته اصلي ضربې هغو گمنامو مجاهدینو ورکړې چې د هیواد او نړۍ په سطحه یې کوم نام او شهرت نه درلود او نه هم د مشهورتیا تلوسه ورسره وه . هغوی چې د مؤمن ولس له منځه په ډیر اخلاص د کفر په وړاندې د مقابلې ډگر ته راووتل، د مسجد، مدرسې او حجرې ژوند یې پرېښود، خاص د الله تعالی د دین د لوړتیا لپاره یې ټوپک ته لاس کړ. په پټه خوله او د گمنامۍ له موقف څخه یې د نړۍ فرعوني طاقت داسې گوزارونه ورکړل چې بالاخره یې دې ته مجبور کړ چې له دې هیواد د تیښتې لار ونیسي.

شاعر وایي:

لوی خلک به مومې له شهرت او نامه ها پلو
ډک خُمونه تل وي له ساقي او جامه ها پلو

د همداسې گمنامو مجاهدینو له جملې یو هم شهید قاري سیف الله فاتح و. هغه چې په خپل مخلصانه کردار او کارنامو سره یې ځان په د الله تعالی په دښمنانو د یو خطرناک او اغیزناک مجاهد په حیث منلی او د هغوی تر تور لسته رسیدلی و.

**د شهید قاري سیف الله صاحب لنډه پیژندنه**

شهید قاري سیف الله د اغا محمداکا زوی په ۱۳۹۷ هجري قمري کال کې د زابل ولایت د د مرکز کلات مربوط دراز کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې دنیا ته راغلی دی. ابتدایي زده کړې یې د خپل کلي له ملا امام څخه پیل کړې او وروسته یې د زابل ولایت په جلدک سیمه کې د خلیفه صاحب ملا محمد گلاب آخند په مدرسه کې چې د جلدک په اغاصاحب شهرت لري د قرآن کریم حفظ وکړ، چې وروسته په همدې مدرسه کې د استاد په حیث هم مقرر شو او ورسره یې د خپلو دیني درسونو سلسله هم تعقیبوله.

د جلدک اغا صاحب چې د علم، روحانیت او معنویت کورنۍ ده، قاري صاحب یې له مجلس او همنشینۍ ډیره استفاده وکړه او د نوموړي د ارشاد او سلوک

په سیوري کې یې شخصیت د تقوی، اخلاص او نورو حسنه صفاتو په ښکلا مزین شو. د یادوې وړ ده چې شهید قاري صاحب د زابل ولایت په ګڼو نورو دارالحفاظونو کې هم استادي کړې او ګڼو حافظانو ترې د قران کریم حفظ تکمیل کړی دی.

**جهادي ژوند**

د تنظیمي هرج و مرج او فساد په وړاندې د مبارزې په کلونو کې د زابل ولایت له مهمو جهادي ډلګۍ مشرانو څخه یو هم شهید ملا غلام نبي جهادیار و، قاري سیف الله صاحب د جهادیار د ډلګۍ له مشرانو ملګرو څخه و چې د هیواد په بیلابیلو سیمو کې یې جهادي خدمتونه انجام کړي دي. نوموړي د هیواد د شمال په بیلابیلو سیمو کې لکه د اندراب او نهرین او ګڼو نورو سیمو کې د جهادي عملیاتو برخوال و. وروسته چې ملا غلام نبي جهادیار د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د فقیرزو په کلي کې مدرسه جوړه کړه شهید قاري سیف الله صاحب یې د مدرسې د استاد او ناظم په حیث دنده اجراء کوله او کله کله به جهادي خدمت ته هم تلو. د جهادي خدمت په وخت د تخار ولایت د بنګي به سیمه کې نوموړی سخت ټپي او پښه یې غوځه شوه. خو دې معیوبیت د نوموړي عزم متزلزل نه کړ او په پوره متانت یې د ژوند تر پایه دکلمة الله د لوړتیا لپاره مبارزې ته دوام ورکړ.

په افغانستان د امریکا تر یرغل وروسته چې کله د کندهار ولایت په وروستۍ جګړه کې ملا غلام نبي جهادیار د شهادت مقام ته ورسید. نو دغه وخت یې په ملګرو کې قاري سیف الله د ځایناستي په حیث پاته شو. قاري صاحب له همدې مهال د امریکا پر خلاف د جهادي چارو تنظیم ته ملا وتړله چې وروسته یې په بیلابیلو برخو کې ستر او نه هیریدونکي جهادي خدمتونه انجام کړل.

**د امریکا پر خلاف جهاد کې رول**

شهید قاري سیف الله صاحب د امریکا پر خلاف جهاد د زابل ولایت کې له مخفي جهادي بریدونو څخه پیل کړ. د نوموړي اروند مجاهدینو په پیل کې د زابل په مرکز کلات کې په دښمن بریدونه کول وروسته یې ځینو نورو ولسوالیو ته هم د عملیاتو لړۍ وغځوله. د جهادي عملیاتو له رهبرۍ سره په څنګ کې نوموړي د اسلامي امارت په چوکاټ کې یو لړ مسؤلیتونه هم ترسره کړل. په پیل کې د زابل لپاره د ولایتي کمیسیون عضو و. وروسته د زابل ولایت د معاون په حیث وټاکل شو او درې کاله یې دغه وظیفه ترسره کړه.

دا هغه کلونه وو چې په درست افغانستان کې د یرغلګرو خلاف جهادي پاڅون اوج ته رسیدلی و. له دې جملې زابل ولایت هم یو له هغو ولایاتو څخه و چې په اکثرو ولسوالیو خصوصا په مرکزي سیمو او د کابل ـــ کندهار د لویې لارې په امتداد کې یې همیشه په دښمن ځپونکي ګوزارونه کیدل.

د زابل ولایت د مرستیال په حیث له څو کاله دندې اجراء کولو وروسته په ۲۰۱۱ میلادي کال کې نوموړی د اسلامي امارت په نظامي کمیسیون کې د منفجره موادو د تهیه کولو د برخې مسؤل وټاکل شو، چې وروسته یې پوره ۹ کاله په دې برخه کې تاریخي او د افتخار وړ خدمتونه ترسره کړل.

**هغه وسیله چې اشغالګر یې مات کړل**

د امریکا غوندې د لوی فرعون ماتول له الهي نصرت پرته ممکن نه ول، خو الله تعالی په خپل نصرت او مدد سره مجاهدینو ته په الهامي شکل ځینې داسې جهادي تکتیکونه او وسائل ور زده کړل چې امریکایي ځواکمن پوځ د هغه د مخنیوي لپاره هیڅ تیاري نه درلوده او نه یې هم د مخنیوي توان ورسره و. د امریکا په ماتولو کې د مختلفو جهادي تاکتیکونو او ډول ډول عملیاتو تر څنګ دوه ډیر مهم عملیات و چې دښمن ته یې درانه تلفات واړول. له دې جملې یو هم فدایي یا استشهادي عملیات و چې د دښمن غرور یې له خاورو سره برابر کړ او بل هم د ځمکني

خودساخته ماینونو( ژیرو ډبو) بریدونه چې په ورځني ډول یې دښمن ته تر هر څه زیات ځاني او مالي تلفات اړول.

د امریکا پر خلاف زموږ د جهاد یو لوی افتخار او ځانګړنه دا ده چې دا جهاد د هیڅ بهرني هیواد په مرسته نه دی کامیاب شوی. نه خو کوم بل هیواد مجاهدینو ته مالي مرستې ورکړې او نه هم د وسلو، منفجره موادو او مهماتو مرسته له بل هیواده اسلامي امارت ته رسیدلې ده. بلکې دا خپله مجاهدین و چې د الله تعالی په مرسته یې له ډیرو عادي موادو څخه انفجاري توکي تهیه کول،هغه یې د غوړیو په ډبو کې ځای پر ځای کول او د امریکایانو فولادي ټانګونه یې وربانديې ټوټې ټوټې کول.

شهید قاري سیف الله صاحب، مولوي احمد مصطفی او په دې برخه کې فعالو نورو مجاهدینو او مسؤلینو په تیرو لسو کلونو کې مجاهدینو ته د همدې کفر ځپونکو موادو په تهیه کولو او رسولو سره هغه ستره کارنامه ترسره کړه چې باید د جهاد په تاریخ کې په زرینو کرښو ولیکل شي. دوی د هیواد په بیلابیلو برخو کې په خپلو امکاناتو، تخنیکي پرسونل او د خودساخته فارمولو په کارولو جهادي صف له تسلیحاتي اړخه پر ځان متکي او د دې جوګه کړ چې د امریکایي ټکنالوژۍ غرور له خاورو سره برابر کړي. د جهاد د دې اړخ داستان هم د بلې هرې برخې په شان خورا جذاب او له فداکارۍ، اخلاص او ایثار څخه مالامال دی،چې په راتلونکې کې باید د تاریخ لیکونکو لخوا را وسپړل شي، تر څو راروانو نسلو ته په سخته مرحله کې د ثبات، تلاش، همت او له ابتدائي وسائلو څخه د اعظمي استفادې الهام وروبښي.

که دغه ناویلې حماسه راسپړل کیږي نو معلومه ده چې له اتلانو به یې یو هم شهید قاري سیف الله صاحب وي. هغه چې پوره ۹ کاله یې شپه اوورځ پر ځان یوه کړې وه، په معیوبه پښه یې د هیواد یو او بل سر ته منډې وهلې، جهادي جبهاتو ته د منفجره موادو د رسولو او توزیع وظیفه یې پر غاړه وه. نوموړی په داسې حال کې چې نوم یې د امریکایانو په تور لست کې و او دښمن ته یو له مطلوبو اشخاصو څخه و، مګر بیا یې د هم ډار او وارخطایي احساس ونه کړ او د شهادت تر وخته یې خپله خطرناکه، حساسه او سخته وظیفه په دنګه غاړه او لوړ همت ترسره کړه.

**په تور لست کې د نوم راتلل**

یوه مشهوره وینا ده وایي که د حق موندل او د حقپالو تشخیص درته سخت و نو د باطل غشو ته ګوره چې په هر چا لګیږي همدا حق دی. په اوس وخت کې امریکا د نړۍ ستر طاغوتي ځواک ګڼل کیږي، دا چې دغه طاغوت یو څوک په خپل تور لست کې شاملوي او د نیولو او له منځه وړلو اقدام یې کوي، همدا د مطلوب شخص د دیانت او واقعي مسلمانۍ ښه دلیل بلل کیدای شي.

امریکایانو د ۲۰۱۴ میلادي کال په لومړیو کې د ګڼو نورو مجاهدینو او د اسلامي امارت د مشرانو په شان د قاري سیف الله فاتح نوم هم په خپل تور لست کې شامل کړ. په دې اړه د ۲۰۱۴ میلادي کال د جنوري په اتمه نیټه بي بي سي ویب پاڼې په خپل راپور کې لیکلي دي: د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د قاري سیف الله په نامه د طالبانو یو قومندان د خطرناکو کسانو په لست کې شامل کړی دی.امریکایي پوځیان د یوه فرمان له مخې اجازه لري چې د دغو کسانو د نیولو او وژلو لپاره په امریکا او یا کوم بل هېواد کې عملیات ترسره کړي.د دغه فرمان له مخې امریکایي وګړي اوس نه شي کولی له قاري سیف الله سره معامله وکړي.ویل کېږي قاري سیف الله د افغانستان په زابل ولایت کې د طالبانو د مرستیال والي په توګه دنده ترسره کوله.دی په همدې ولایت کې د طالبانو د ځینو پوځي عملیاتو مشري هم پر غاړه لري. د بهرنیو چارو وزارت د فرمان له مخې، امریکا کې د قاري سیف الله شتمني باید ضبط شي او امریکا ته د سفر کولو بندیز پرې لګول شوی. د ویناپاڼې په وینا، وزارت دغه ګام د مالیې او عدلیې وزارتونو په سلا مشورې او همغږۍ پورته کړی دی

امریکا ادعا کوي، چې قاري سیف الله یې ځکه د خطرناکو کسانو لست کې راوستی، چې په وینا یې خطرناک فعالیتونه کوي. وزارت وایي، چې تورن کس زابل ولایت کې د افغان او بهرنیو ځواکونو پرضد بریدونه سمبالول، او خپلو جنګیالیو ته یې امر کړی چې پر دولتي بنسټونو بریدونه وکړي. د ۲۰۱۲ کال په جنوري کې، د دغه کس په مشرۍ شپږو کسانو افغانستان کې پر رومانیایي پوځیانو برید وکړ. د ۲۰۱۱ سپتمبر کې بیا قاري سیف الله یو سرتیری برید کوونکی د زابل شاجوی ولسوالۍ کې د ولایتي بیارغونې ډلې مرکز(PRT) پر سنوکر مرکز د برید لپاره چمتو کړی و. د ۲۰۱۰ نومبر کې، سیف الله خپل یوه قومندان ته د زابل مرکز ته د سپکو وسلو د لېږد امر کړی و، چې کلات ښار کې د نړیوالو ځواکونو پر مرکزونو بریدونه کړي.د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د لست سربېره، د ملګرو ملتونو په تور لست کې د شاملو افغانانو شمېر ۱۳۷ کسانو ته رسېږي)

د شهید قاري سیف الله په اړه د بي بي سي په راپور او د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت له خوا په خپره شوې اعلامیه کې راغلي چې امریکایان به د نوموړي بانکي حسابونه او پانګې کنګل کړي. خو امریکایان خبر نه و چې قاري سیف الله هغه فقیر مزاجه او له مادیاتو بې پروا مؤمن و چې نه خو یې کوم بانکي حساب درلود او نه یې د دنیوي ژوند تر پایه د کوم مادي امتیاز، هوسناک ژوند،عیش او نوش هوس وکړ. هغه خپل ځان او مال یوازې د الله تعالی د دین خدمت ته وقف کړي و.

**شهادت**

شهید قاري سیف الله فاتح په پیل کې د هیواد د۱۴ جنوبي او جنوب غربي ولایاتو د منفجره موادو د جوړ، انتقال او توزیع مسؤلیت په غاړه درلود چې د ژوند هره شیبه یې همدې اکمال ته وقف کړه تر څومجاهدین وکولای شي د دښمن په وړاندې د ماینونو او موټربمونو په توسط جهادي عملیات ترسره کړي.

داچې قاری صاحب محترم خپل مسؤلیت په پوره اخلاص او موفقانه ډول سره روان کړی وو د اسلامي امارت د مشرتابه له لوري په دې وروستیو کې د ټول هیواد د۳۴ ولایاتو د منفجره موادو د اکمالېدو مسؤلیت ورسپارل شو. شهید قاري صاحب به د هیواد ګوټ ګوټ ته سفرونه کول تر څو مجاهدینو ته په پوره پیمانه منفجره مواد ورسیږي د ۱۴۴۰ هجري قمري کال د وړوکي اختر څو ورځې وروسته شهید قاری صاحب خپل سفر له زابل ولایت څخه شروع او ترننګرهاره ورسیدچې دغه سفر یې څه کم دوې میاشتې وخت واخیست. له همدې سفره تر راګرځېدو وروسته د لوی اختر له تېریدلو سره سم د هیواد د شمالي ولایتوپه سفر ووت، هلمنده فراه، هرات، غور، بادغیس، فاریاب، جوزجان او بیا بلخ ته لاړ. وروسته د کندز او بغلان په تکل یې سفر پیل کړ، اراده یې وه چې تر بدخشان ولایت پورې خپلې ټولې اړونده چارې په خپله له نږدې وګوري. نوموړی د سمنګانو ولایت د دره صوف ولسوالۍ څخه د تیریدو په حالت کې و چې د دښمن له لوري د بې پیلوټه الوتکې په برید کې د ۱۴۴۱ هجري قمري کال د محرم الحرام د میاشتې په ۱٦ مه نیټه د سهار په ۹ بجو له دریو نورو ملګرو سره یو ځای په شهادت ورسېد. انا لله اناالیه راجعون

نوموړي چې تر ده وړاندې یې هم دوه ورونه شهیدان شوي وو، داسې قرباني ورکړه چې ټول بدن یې د امریکایي ډرون الوتکې په برید کې وسوځید او یوازې د مصنوعي پښې د اوسپنیزو پاتې شونو په واسطه یې جسد وپیژندل شو. تقبله الله تعالی و اسکن روحه في أعلی علیین.

**د شخصیت ځانګړنې یې**

دا څو کاله چې د مخکښو مجاهدینو او شهیدانو سوانح لیکم، یوه د یاد وړ نقطه په کې دا ده چې اکثر هغه مجاهدین چې الله تعالی د خپل دین لپاره ترې ډیر کار اخیستی تر خپل منځ ګڼ مشترکات او مشابه خصلتونه لري. د دې خصلتونو له جملې یو هم د قیام اللیل/ تهجد او

الله تعالی ته د پټو زاریو او ژړا عادت دی. ما چې د امریکا ضد جهاد د صفوفو د تکړه او کارنامه سازو مجاهدینو شخصي ژوند را پلټلی نو را معلومه شوې ده چې د دوی تقریبا ټول د تهجد او د شپې مهال الله تعالی ته د زاریو او تضرع عادت لري. هغوی که د ورځې مجاهدین، توریالي او د میړانې او عزم سمبولونه دي اما کله چې تیارې خپرېږي، دوی د شپې په غیږ کې راپورته کیږي، په ډیر انکسار د متعال رب تعالی په وړاندې درېږي، خپل تندی په خاورو سپیروي، په نیمو شپو د ندامت او محبت اوښکې تویوي. له الله تعالی سره ځانګړی راز او نیاز لري. چې همدا روحي سپیڅلتیا یې په ژوند او کار کې برکت اچوي،زړه، دماغ او مټو ته یې قوت وربښي، د توري جوهر یې ځلوي او الله تعالی داسې سترې فتحې او لاسته راوړنې ور نصیب کوي چې ظاهربین عقل ورته حیران پاته کیږي.

شهید قاری سیف الله فاتح هم د تهجد او د نیمې شپې د عجز و دعا عادت درلود، د نوموړي ملګري وایي چې هیڅکله او په هیڅ نوع حالاتو کې یې د تهجد لمونځ نه پرېښود. د نوموړي یو ملګری مولوي جمیل صاحب وایي: یوه ورځ له هلمند څخه روان شوو، د روزګان لنګر سیمې او له هغه ځایه چنارتو ته لاړو، د زابل پر خوا مو سفر ته دوام کړ، دا چې لاره ډیره خرابه وه ماخستن ناوخته د زابل د میزاني ولسوالۍ دروشک سیمې ته ورسیدو او هلته سترې ستومانه یو ځای دېره شوه او د ماخستن د لمانځه اداء کولو وروسته ویده شوو. خو له لږ خوب وروسته چې زه را ویښ شوم ومې لیدل چې قاری سیف الله صاحب بیرته له خوبه راپاڅیدلی، اودس یې کړی او د تهجد په لمانځه ولاړ دی. دا چې هغه په داسې ستوماني کې هم تهجد نه پریښود نو ویلی شم چې هیڅکله به یې نه وي پرې ایښی.

بل ملګری یې ملا عبدالله هم همدا کیسه کوي وایي: یو وخت سترې ستومانه له جهادی سفر څخه راغی او له ما سره یې شپه شوه، ماخستن یې راته وویل چې یوه کوزه اوبه دلته کیږده، که خامخا د اوداسه ضرورت شي. دا چې د اوړي موسم و او خلک بهر ویده کیدل، نیمه شپه مې د قاري صاحب د ټوخي غږ واورېد، زه له ځایه راولاړ شوم او د کور له دروازې مې وروکتل ګورم چې دی له خوبه راپاڅیدلی په خپله پلاستیکي پښه باندې بوخت دی او په پښه کوي یې، په ښه څنډ سره یې پښه وتړله، بیا یې اودس وکړ او بیا یې په خاورو کې څادر وغوړاوه او په ډیر عجز الله تعالی ته په عبادت ودرېد. ما چې د ده هغه ستوماني او بیا دا د نیمې شپې عبادت ولید، چې یوازې د پلاستیکي پښې تړلو او خلاصولو ترې څومره وخت غوښت نو پر خپل ځان افسوس راغی چې په روغ بدن له داسې عبادت څخه محروم یو.

الله تعالی دې د شهید قاری صاحب ټول حسنه اعمال قبول او برکتونه دې یې په نورو مجاهدینو کیږدي. آمین یا رب العلمین



....په تیرپسې
م: شمس....

# غامدیت...

## د اوسني عصر لويه فتنه...

## کفارو خلاف دجهاد او قتال نه انکار!

غامدي کافرانوپخلاف دجهاد له شرعي فريضې منکردی، دهغه په اند:رسول الله صلی الله علیه وسلم او ملګرويې( صحابه وو) چې کوم جهاد وقتال کړی ،هغه دشريعت سره تعلق نلري، پر دې علاوه وايي: دکفارو خلاف جهادوقتال کول اود هغوی ذمیان ګرځولو حکم د نبوي دوراودصحابه وو دور وروسته دتل لپاره پای ته رسيدلی دی نوموړی پخپل کتاب (ميزان) کې ليکي:

هغوی( رسول الله صلی الله علیه وسلم اوصحابه ووته) چې د قتال په اړه کوم حکم شوی و، هغه له شريعت سره تعلق نلري، بلکې الله تعالی داتمام حجت قانون دی( ميزان۲٦۲مخ، دوهم چاپ، اپريل ۲۰۰۲ز)

وروسته ليکي:

دابالکل قطعي ده چې دحق منکرينو( کافرانو) خلاف جنګ او دهغه په نتيجه کې په مفتوحينوجزيه لګول دهغوی دمحکومولواو ترلاس لاندې ګرځولو حق اوس دتل لپاره ختم شوی دی (ميزان، ۲۷۰مخ)

ددينه معلومه شوه چې دغامدي په اند:رسول الله صلی الله عليه وسلم اودهغه ملګرو( صحابه وو) چې دکفاروپخلاف کوم جهاد وقتال کړی ووهغه نعوذبا الله يوغيرشرعي ګام و، انا لله وانا اليه راجعون

په ورته توګه دغامدي په نظردمسلمان لپاره دا هم روانده چې هغه دکفارو پخلاف جهاد وکړي اوفاتح شي هغوی ذميان وګرځوي نوبيا چې هرکله جهاد جايزنشي- نودغنيمت مال به څنګ روا شي؟هغه به هم غامدي حرام ګرځوي ( العياذبالله)

په اسلامي اُمت کې ترننه پورې هيچا دجهاد وقتال له حکم اوفريضې نه انکارندی کړی،البته دنبوت يو دروغژن مدعي مرزا غلام احمدقادياني (ملعون) چا به چې ځان ته دانګريزانو دلاس نهالګی ويلي،هغه دانګريزانو خوشالولو پخاطر جهاد حرام ګڼلی و،معلوميږي چې غامدي هم نن سبا دامريکا، اروپا، اسراييل او هند ملاتړترلاسه کولو لپاره دجهادو قتال له فريضې څخه انکارکوي او حرام يې ګڼي.

ګورئ!څومره مشابهت مندل کېږي ،مرزا قادياني اوغامدي دواړو په يوه ژبه جهادته حرام وايي

اوس موږ دجهادوقتال په باره کې دقرآن وسنت په رڼاکې تفصيلات بيانوو:

### اسلام او جهاد و قتال:

دجهاد لغوي معنی ده ډيرکوښښ اوزيار ويستل،اسلامي اصطلاح کې جهاد هغه بشپړ زيار

ويستلوته ويل کېږي  کوم چې دالله تعالی لاره کې او دهغه ددين دسرلوړۍ لپاره وشي

اسلام دامن اوسلامتۍ دين دی، هغه دټول بشريت لره دامن وسکون پيغام دی خو دظلم، جبر پخلاف دجهاد حکم ورکوي

**دجهاد ډولونه:**

په مال سره جهاد،په قلم سره جهاد،په نفس سره جهاد اوپه توره سره جهاد اونور...

دمال جهاد دادی چې يومسلمان دالله تعالی په لارکې او ددين دسرلوړۍ لپاره خپل مال ولگوي

په قلم سره جهاد دادی چې دليکلو له لارې ددين دغلبې او دسرلوی لپاره کوښښونه وکړی شي

په ژبه سره جهاد دادی چې دنفساني خواهشاتو پخلاف جهاد وکړی شي اوهغه کنترول او قابو کړی شي نفس دالله په عبادت او اطاعت کولو کې مصروف کړی شي

په توره جهاد دادی چې په وسله، توره يا په بله زريعه دباطل اوکفري ځواکونو پخلاف جهاد وکړی شي، دې جهادته قتال هم ويل کېږي ،دا دفاعي هم وي ااقدامي ا وجارحانه هم

خو دجهاد لفظ ، پورته ټولو ډولونولپاره کارول کېږي اويوائې دقتال په معنی هم استعماليږي

جهاد وقتال په اسلام کې يوه اهمه اومقدسه فريضه ده، کوم چې به دقيامت پورې جاري وي، زکه چې جهاد دمسلمانانودشوکت، دبدبې اورعب زريعه دی اوپريښودل يې ذلت اونامردي ده په عاموحالاتوکې فرضي کفايي دی خو دنفيرعام په وخت کې فرض عين گرځي څنگه چې دلمانځه حکم دی دجهادپه باره کې داسلامي فقهاوو رايه داده:

هو (الجهاد) فريضة محكمة وامراً ماضياً الى يوم القيمة( الفقه الاسلامي مع ادلته، د دوکتور وهبة زحيلي ٦ټوک ۴۱٦مخ) جهاد محکمه فريضه ده کوم چې به دقيامت پورې جاري وي.

قرآن وحديث کې دجهادوقتال فرضيت او دهغه په باره کې فضايل او او احکام په تفصيل سره شتون لري، په دې لړکې موږ لومړی قرآني اياتونه راوړو او دهغه وروسته احاديث راوړو:

**قرآن اوجهادو قتال:**

قرآن مجيد دکفاروپخلاف  دجهادو قتال حکم کوي په قرآن کې د في سبيل الله جهاد ذکر۲٦ځايه راغلی دی، او دقتال ذکر۷۹ ځايه راغلی

۱-«كُتِب عَلَيكُم القِتالُ» (البقره:۲۱٦)

(اې مسلمانانو!) په تاسو باندې قتال( جهاد) فرض کړی شوی دی

۲-«وقَاتِلُوا فِی سَبِيلِ اللـهِ وَ اعلَمُوا اَنَّ اللـه سَمِيعٌ عَلِيم» (البقره:۲۴۴)

(اې مسلمانانو!)د الله په لاره کې قتال وکړئ اويقين وکړئ الله اوريدونکی اوپوهيږي .

۳-«قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ( التوبه۲۹)

( اې مسلمانانو!)تاسو وجنگېږئ دهغو اهل کتابو سره چې نه په الله ايمان لري او نه داخرت په ورځ، ځوک چې هغه څېزونه حرام نه گڼي کوم چې الله او دهغه درسول صلی الله عليه وسلم حرام گرځولي دي او نه هغه  رښتينی دين مني، تردې پورې چې هغوی مغلوب شی اوپخپلو لاسونوبه باندې جزيه ورکړي او ذليل وگرځي

۴-وَ مَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُوْنَ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَ الْمُسْتَضْعَفِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ وَ النِّسَآءِ وَ الْوِلْدَانِ الَّذِيْنَ

يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اَخْرِجْنَا مِنْ هٰذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ اَهْلُهَا ۚ وَاجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ وَلِيًّا وَّ اجْعَلْ لَّنَا مِنْ لَّدُنْكَ نَصِيْرًا (النساء ۷۵)

اوپه تاسوځه وشول چې جهادوقتال نکوئ دالله په لارکې، دهغوبيوسو نارينه وو،ميرمنو، اوماشومانو پخاطر کوم چې دالله تعالی په وړاندې فريادکوي چې اې زموږ پروردګاره!موږله دې کلي وباسې په کوم کې چې د ظالمانو راج دی زموږ لپاره څوک ملاتړی پيداکړه اوزموږ لپاره له خپل لوري څوک کومک کونکی وګوماره!

۵-«فاذالَقِيتُمُ الذين كفروفَضربَ الرِقاب» محمد:۴)

بيا کله ( چې اې مسلمانانو!)کافرانو سره ستاسو مقابله وي نو دهغوی څټونه ووهئ

وقاتلوا المشركين كافة كما يقاتلونكم كافة واعلموا أن الله مع المتقين التوبه : ٣٦)

اواې مسلمانانوتاسو دټولو مشرکانو سره جنګ وکړئ څنګه چې هغوی ټول له تاسو سره جنګ کوي

نو دپورته قرآني اياتونوڅخه ښکاره کېږي چې په اسلام کې جهادو قتال څومره اهميت لري؟ له دينه علاوه نورو ګڼو اياتونوکې هم دجهاد اوقتال اهميت اوضرورت بيان شوی دی، تردې چې ديوې اندازې يا تخمين له مخې په عظيم الشان قرآن کې د درې سيپارو دحجم برابرداسې اياتونه شته چې هغه په جهاد وقتال پورې اړه لري

جهاد دعظيم الشان قرآن له مخې فرض دی ، وړاندې مو وويل چې جهاد دفاعي هم دی او اقدامي هم،جهاد دالله تعالی په لاره کې دهغو کافرانو پخلاف کېږي کوم چې دمسلمانانوپه هيواد باندې حمله وکړي يا داچې داسلام لپاره خطر وګرځي يا داچې داسلام په لارکې دخپل کفروشرک اوظلم وستم په وجه مانع وګرځي دنامسلمانو دکافرانه واک خاتمه او دهغوی ذمي ګرځول هم ددې يوه برخه ده، لومړی به دنيړدې کافرانو دشرڅخه مسلمانان ځان خلاصوي بيا به دلري، دا جهادو قتال به ترهغه پورې روان وي څوچې په دنيا کې دکفروشرک دغلبې فتنه پاتې وي، که مسلمانان جهاد ونکړي نو دالله تعالی دقهروغضب مستحق به وګرځي، نوجهادبه په هرحال کې کولی شي، که وسائل لږ وي که ډير،داقدامي جهاد لپاره ځوشرايط شته دي خو ددفاعي جهاد لپاره هيڅ شرط نشته، مجاهدينو سره الله تعالی محبت کوي، څوک چې دالله تعالی په لارکې صف وتړي هغه ګواکې پولادي ديوال دی مسلمانانوته دجهاد کولو شوق ورکړی شوی دی، چې هغوی به دځان ساتنه اودفاع هم کوي او هم به دجنګ په ميدان کې دالله تعالی ذکر کوي او استقامت به ښيي، دالله تعالی وعده ده چې هغه رښتينو مسلمانانوته هميش فتح او بريا ورکوي دجهاد نه مخ ګرځول دمنافقت نښه ده هرمجاهد چې فتح ومومي هغه غلزي دی اوکوم چې ووژل شي هغه شهيد دی، الله تعالی د دواړو لپاره دجنت ورکولو وعده کړې ده

هغه احاديث چې پکې دجهاد وقتال ذکر شوی دی ورڅخه څودلته راوړو:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ۲۷ غزواتو کې پخپله ګډون کړی دی او هم يې ۵۶سرايا ليږلي دي، دلته دجهاد په اړه څو احاديث راوړو:

عن ابی هريرة رضی الله عنه قال سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صلی الله عليه وسلم اَیَّ العَمَلِ اَفضَل؟قال: ايمانٌ بالله ورسوله، قِيل ثُمَّ ماذا؟قال: الجهادفی سَبِيلِ اللهِ قِيلَ ثُمَّ ماذا؟ قال: حَجْ مَبرُورْ (بخاري ومسلم)

حضرت ابوهريره رضی الله عنه روايت کوي :چې له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه وپوښتل شول کوم عمل افضل دی؟وي فرمايل:په الله اودهغه په رسول باندې ايمان راوړل بيا پوښتنه وشوه:دهغه وروسته کوم عمل افضل دی؟وي فرمايل: دالله په لارکې جهاد پوښتنه وشوه:دهغه وروسته؟وي فرمايل: مقبول حج




عن اَبِي ذر رضی الله عنه قَال: سأَلتُ النَبيَّ صلی الله علیه وسلم اَیُّ العَملِ اَفضَل؟قَال:اِیمانً بالله وجهادْ فِی سَبِیله...( بخاري ومسلم)

حضرت ابوذرغفاري رضی الله عنه روایت کوي چې ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وپوښتل:کوم عمل غوره دی؟وي فرمایل: په الله تعالی ایمان راوړل،او دهغه په لارکې جهاد کول

۳-عن ابی هریرة رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مَثَلُ المُجَاهِد فِی سبیلِ الله کَمَثَلِ الَّصائِمِ القَائمِ القَانِتِ بِایَاتِ اللهِ، ولاَیَفتُرُ مِن صِیامٍ ولاصلوةٍحَتی یَرجِعَ المُجَاهِد فِی سَبِیلِ الله ( بخاري ومسلم)

حضرت ابوهریرة رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: دالله په لارکې جهاد کونکي مجاهد مثال: د داسې شخص دی چې څوک روژې نیسي، قیام کوي، دقرآن تلاوت کوي په روژه او نفل لمونځ کې کوتاهي نه کوي تردې پورې چې دالله تعالی په لارکې جهاد کوونکی مجاهدبیرته راستون شي.

۴ـ عن ابی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اِنتَدَبَ اللهُ لِمن خَرَجَ فِی سَبِیلِه لایَخرجُه اِلّاَایمانْ بِی وَتَصدیقْ بِرُسُلِی اَن اَرجَعهُ بِماَنَالَ مِم اَجرِ اَوغَنِیمةٍ، اواَدخِلهُ الجَنَّةَ (بخاري ومسلِم)

له حضرت ابوهریره رضِیَ الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: الله تعالی ددې خبرې ضامن دی چې دهغه په لارکې چې کوم شخص جهاد کوي ،هغه صرف په مااو پیغمبرانو باندې د ایمان جذبه له کوره وباسي، نو هغه شخص زه دثواب او غنیمت سره یوځای بیرته راولم اویا یې په جنت کې داخل کړم.

۵-عن ابي هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : مَن ماتَ وَلَم یَغزووَلَم یُحَدِث نفسهُ،ماتَ عَلی شعبة من نِفاقٍ ( بخاري ومسلم)

حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم تن چې په داسې حال کې ومړ،چې هغه نه جهاد کړی اونه یې په زړه کې دجهاد شوق راغی هغه دمنافقت په یوه برخه ومړ

٦-عن جابربن سَمرةَ رضی الله عنه قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: لَن یَّبرحَ هَذا الدین قَائِماً، تُقَاتِلُ عَلَیه عِصابةْ مِن المُسلِمین حتی تَقوم الساعة (صحیح مسلم)

حضرت جابربن سمره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایل: دا دین (اسلام) به تل قایم وي ، ترقیامت پورې به دمسلمانانو یوه ډله ددې دین پخاطر جهادکوي

دپورته احادیثو په رڼاکې دجهاد وقتال اهمیت ښکاره شو، چې جهاد وقتال یوه فریضه ده، دایمان راوړوڅخه وروسته جهاد غوره عمل دی ، جهاد یوعبادت دی، مجاهدسره الله تعالی دفتح، نصرت او دغنیمت مال وعده کړې ده، یا یې دجنت وعده، رسول الله صلی الله علیه وسلم پخپله جهاد کړی دی صحابه ووته یې دجهاد په اړه ترغیب ورکړی دی دجهادنه مخ گرځول منافقت دی، په جهاد پریښودوکې مصیبت او ذلت دی، یوه شپه په اسلامي سرحدباندې پهره کول دټولې دنیادمال ودولت نه غوره ده، کوم قدمونه چې دجهادپه لاره کې سپیره شي هغو قدموته د دوزخ اورنشي رسیدی جهادبه ترقیامته روان وي (ابوداد وکتاب الجهاد)

نوربیا ...

# دسوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه

## د اسلامي حکومت واکونه اومسؤليتونه

۵ مه وروستۍ برخه

م: ش: منصور



داخبره چې د خلکو دمالونو بيې مه کموئ! اسلامي فقهاوو دعظيم الشان قرآن ددې ايت نه ويستلې ده«وَلاتَبخَسُوالنَّاسَ اَشيآءَ هُم» (هود:۸۵) دخلکو دڅيزونو او د مال ودولت بيې مه کموئ، په دې حکم کې زيات عموم دی،دخلکو توکي ياڅېزونه په معمولي توکو پيرل،اوناچله سيکې جاري کول،په کم وزنه دينارودرهم سيکو کاروبارچلول اوپه ډېره کمه بيه ديوجنس پيرل داګرد په «بخس» کې راځي، دنن سبا په مروجه اصطلاح کې ويلی شوچې سيکې «ډي ويليو»کول هم دبخس يوډول دی، تادحکومت لخوا دذمواريا مسؤل په حيث زيد ته دپنځه زره روپيووركولو وعده وکړه، وروسته دې سيکې بيه کمه کړه، دپنځه زره ګون بيه دې دوه نيم زره کړه اوزيد ته دې پنځه زره ګون ورکړ

اوس دزيد استحقاق چې دکوم قيمت و،هغه تاهغه ته ورنکړ،دعلماوو په قول:داهم په «ولاتبخسوا الناس اشياءهم»( هود:۸۵) کې راځي، نن سبا په دې حکم باندې دعمل کولو صورت څه ډول پکاردی؟ ياداحکم په اوسنۍ اقتصادي ژبه کې څه ډول تعبيريدای شي؟ دادعلم دخاوندانو اوفقهاوو لپاره دغور وړپوښتنه ده

امام احمدبن حنبل رحمه الله کم وزن سيکې جاري کولوته، يا په جعلي توګه دهغوچلولوته «فسادفی الارض» ويلي، اوښکاره ده چې دفسادفی الارض سزا عظيم الشان قرآن کې ډېره سخته بيان شوې ده،په مائده سورة کې دبيان شويو احکامولـه مخې:دفسادفی الارض سزامرګ دی،دمشهورمالکي فقيه ابن رشد هم دارايه ده، څوک چې دمشهورفلسفي اومفکرابن رشدنيکه و،دهغه رايه داده چې داسلامي حکومت تړواک لاندې ښارونوکې چې هرڅوک جعلي سيکې جوړوي اوهغه بيا بازارته وړاندې کوي دفسادفی الارض مرتکب ګرځي،دفسادفی الارض حکم دهغو خلکو باره کې راغلی دی چې په اجتماعي او منظم ډول دا چارې ترسره کوي هرچې په انفرادي ډول يونيم تن کله نه کله جعلي سيکه اصلي وبولي؛ نو داجرم دی ليکن فسادفی الارض ندی،خوکه يوڅوک نن سبا دجعلي لوټونوچاپولو ماشين ولګوي او يا کوم شخص دجعلي سيکو جوړولو پابريکه پرانيزي نوداجرم دهغوی په اندفسادفی الارض دی چې سزايې هم مرګ کيدی شي

نن سبا حکومتونه په لويه کچه تاوانونه اوجرمانې اخلي،ايا په يواسلامي حکومت کې جرمانې يا تاوانونه اخيستل کيدی شي؟ دځينوفقهاوو په اند:چې نشي اخيستل کيدی،دځينونوررايه ده چې اخيستل کيدی شي،اوس دا چې دتعزيربالمال يعنې دمالي تعزير وركولو په صورت کې اخيستل کيدی شي که نه؟ دامسئله دفقهاوو ترمنځ دبحث لاندې ده،دځينو احاديثونه معلوميږي چې دجرمانې سزا ورکول کيدی شي،اوپه ماضي کې يې هم مثالونه شته لکه حضرت سيدنا علی بن ابي طالب رضی الله عنه دذخيره کوونکو ذخاير ضبط

کړل او بیا یې سرعام وسیزل، داهم یوډول دتعزیربالمال صورت دی، دیته ورته نورمثالونه هم شته چې ترې دا اندازه کېږي چې اسلامي حکومت دنورو سزاګانو ترڅنګ دتعزیري سزاپه توګه دجرمانو اوتاوانونو لګولولارې هم چارې غوره کولی شي.

د اسلامي شریعت یوعام اصل دا دی چې «اَلخِراجُ بِالضَّمانِ» ( سنن ابي داود، کتاب الاجارةباب فیمن اشتری عبد[۳۵۱۰]سنن ترمذي، البیوع، باب فیمن یشتری العبد[۱۲۸۵] ) یعنې کوم څېزنه چې ګټه اخلي دهغه تاوان اوزیان به هم ته! پورته کوي، که ته دیو څېزنه مستفیدکېږي،دهغه اړوندمسؤلیتونه به هم ته سرته رسوي، دهمدې اصل لاندې داسلامي حکومت اودهغه دوګړوترمنځ داړیکو ځیني اړخونه منضبط کېږي

که یوسړی وارث ونلري،خپلوان یې شتون ونلري، نوبیت المال دهغه وارث دی؛ که دکوم شخص په ذمه پورو اوهغه مړشو،او ترې متروکه ورثه نه وي پاتې،نو پوربه یې بیت المال اداء کوي،داخبره په ګڼو احادیثوکې بیان شوې ده«من تَرکَ کُلاًّ فَالَینا» کوم سړي چې بوج پریښود،هغه زموږ په ذمه دی یعنې حکومت به یې اداء کوي(بخاري، کتاب الفرایض،باب میراث الامیر، [۶۷۶۳] مسلم، کتاب الفرایض باب من ترک حالاً[۱۶۱۹] )

نودحکومت دمالي مسؤلیتونوپه باره کې چې کوم احادیث راغلي دي هغه زیات مفصل دي،دهغوپراساس فقهاووګڼ احکام بیان کړي دي دهغونه دا اندازه کېږي،چې اسلامي حکومت به په اقتصادي اومعاشي معاملاتوکې اهم کردارلري، دقرآن پاک هغه مشهورایت[چې په کې داسلامي حکومت مسؤلیتونه اوفرایض بیان شوي دي] کې دالله تعالی ارشاد دی« که موږ مسلمانانوته په زمکه کې واک ورکړ، هغوی به [وَأتُوالزَّکوة، وَاَمرُوبِالمعروفِ ونَهوعَن المُنکر]الحج ۴۱» زکات به ورکوي،په ښوبه حکم کوي،اودبدونه به منع کول کوي،ګواکې دزکات اخیستو انتظام کول دحکومت له اساسي مسؤلیتونو څخه یو دی،یوحدیث کې ارشاددی« السلطان ولِیُ مَن لّا ولِیَّ لَهُ»[بخاري کتاب النکاح،باب السلطان ولی(۵۱۳۵) ابوداود کتاب النکاح ، باب في ولي ( ۲۰۸۵ ) ] دچا ولي یا وارث نه وي،حکومت دهغه وارث دی،دچا چې څوک مدد کوونکی نه وي حکومت به دهغه مرسته اومدد کوي، دیوچا څوک دپوښتنې نه وي، حکومت به دهغه پوښتنه کوي په یوځای کې راځي«الله ورسوله ولِیُّ مَن لا ولِیَّ لَهُ»[ مسند احمد۲۰۴/۱] الله تعالی اودهغه رسول ولي دي دهغه چا چې ولي ونلري، ددې لپاره چې کوم حکومت دالله تعالی اودهغه درسول ځای ناستی وي هغه به دهغه چا ولي وي څوک ولي ونلري په یوبل حدیث کې راځي«اِناأولی بِالمؤمنین من انفسهم فَمن تُوفِی وعلیه دَینٌ فَعَلَّی قَضاؤهُ»که یوتن وفات شو اوپه ذمه یې قرض پاتې و،اداء کول یې زما په ذمه دي،یعنې زما دحکومت په ذمه دي.

حضرت عمرفاروق رضی الله عنه هغه جمله ټولو ته په زړه ده، چې فرمایل یې: که دفرات په غاړه کومه اوزه مړه شوه، داریږم هسې نه الله تعالی دهغې باره کې له ما پوښتنه وکړي، چې ولي داسې حالات پیداشول چې پکې څاروي له لوږې ووژل شول، اوولي ورته واښه یا ګیا نه رسیده؟ یوځل حضرت عمرفاروق رضی الله عنه خپلو والیانوته یولیک کې حکم وکړچې: «اَلا اَوسَعُوا النّاس فی بُیوتهم واَطعمُوا عیالَهُم» دخلکو په کورونو کې وسعت پیدا کړئ، یعنې خلکوته د استوګنې لپاره اسانتیاوې برابرې کړئ او ورته دومره معاش او وسائل ورکړئ چې هغوی خپلې کورنۍ ته پرې بسه خواړه برابرکړی شي.

دحکومت دمسؤلیتونو په لړکې وروستۍ خبره دالیکم اوبیا دا بحث پای ته رسوم هغه داچې اسلامي حکومت دوقف معاملات لري ،دا داسلامي تاریخ یوه ډېره لویه مهمه اجتماعي او اقتصادي برخه ده،چې په اړه یې حکومت خاص کردار لري،دقانون جوړولو له لارې داسې پالیسې رامنځته کول چې حکومت داوقافو ادارې په ښه نه، ښه توګه جوړولی شي، نن سبا دحکومت دمسؤلیتونوپه باب کې داسې اهم معاملات مخ ته راځي، چې په اړه یې علماوو اوفقهاوو ته غورپکاردی دنن څخه پنځوس کاله وړاندې په خلکو کې دملي ملکیتونو دقبضه کولو رجحان ډېرشو،په اسلامي نړۍ کې یوشمیرخلک دکمونزم له افکاروڅخه په تاثر اخیستودوقفې ملکیتونوپه سرکاري ګرځولواخته شول اوپه ځینو اسلامي هیوادوکې واکمن دسوشلزم نه په متاثرکیدو پورته شول،دخپلو سیاسي مخالفینو شتمنۍ، دهغوی پابریکې اونورې پخپل واک کې قبضه کړې لکه زموږ په ګاونډي هیوادپاکستان کې څه زمانه مخکې یوزیات شمیرپابریکې اوشتمنۍ دسرکارلخوا قبضه کړی شوې،هغه کوم لیډریا صدراعظم چې پابریکې یا نورې شتمنۍ سرکاري ګرځولې،هغه خپله دکومې پابریکې څښتن نه و،په دې وجه یې په سرکاري ګرځولوکې ډیرپه جوش اوجذبه کې و،خو کله چې خبره دزمکو په سرکاري ګرځولوراوڅرخیده،هلته په دې وجه چې هغه خپله له هغه طبقې څخه و، کومه چې انګریزانو د«زمیندارو» دهقانانو په نوم پیداکړې وه، نودزمکوپه اړه له خپل جوش نه په شاشو اوپه باب یې نرمې وښوده نو هغه وچې لویې لویې زمکې دحکومت په واک کې ورنکړی شوې

اوس پوښتنه داده چې ایا دحکومت لخوا دیوچاشتمنې سرکاري یا دولتي ملکیت ګرځول جواز لري؟ ایا دغه عمل له شریعت سره برابردی؟ښکاره ده کله چې ددغسې ګامونوپورته کولو په وجه کومې پایلې راوتې هغه ټکان ورکوونکې وي، یاد هیواد ته یې هم زیات زیانونه واړول، کوموخلکوچې دخپلو خولو په تویولو سره لېږې ډیرې شتمنۍ پیداکړې وې، پابریکې اوصنعتونه یې جوړکړي وو،هغه ټول سرکاري یا دولتي کړی شول، خوزیاتره دحکومت دلوړ پورو مامورینو لخواقبضه کړی شول، نتیجه یې داشوه چې له املـه یې دیاد هیواد اقتصادي وضعیت په ځای کیناست اودترقۍ یې چانسونه یې وبایلل، اوبیا دهغه مهال راهیسې پرلپسې ډیرکوښښونه وشول چې پخپلوپښویې ودروي خو موفق نشول

اوس یوبل بدعمل «دنج کاري» په نوم روان دی، لویدیځوالو نړۍ کې دهیوادونودملي شتمنیو اخیستونسخه متعارف کړي ده اوس هغوی «دنج کاري»خصخصې یا«پرائیویتیزیشن» په نوم یوه نسخه وړاندې کړې ده چې ګرانبیه دولتي اقتصادي شتمنۍ اووسائل په ډیروکموپیسوپه نورو پلورل کېږي، بهرنۍ کمپنیانې، حساسې اداري اوشتمن اشخاص یې پیري، حال داچې دیوهیواد لپاره ګرانبیه شتمنۍ اوملکیتونه لرل دژوند اومرګ سوال دی، چې دکوم هیواد سره وي هغه ژوندی ګڼل کېږي اوچې دکوم هیوادنه وپیرل شي هغه مړ بلل کېږي لکه پاکستاني حکومت دبریښنا وسائل په بهرنیو کمپنیو په داسې نرخونووپلورل، چې دهغومالیت داخیستي قیمت نه خوچنده ډیروو، اوهم یې ځیني داسې اداري وپلورلې چې دڅو میاشتو عوائد یې داخیستي قیمت نه ډیروو هم دا وجه ده چې دیاد هیواد اقتصادي حالت پرلپسې تیندکونه خوري اومسلسل دخساري ښکاردی.

دانسخه په ټوله نړۍ کې ازمایل کېږي له دې وجې هرځای دعلم خاوندانوته پرې غورپکاردی، یوشمیر ښاغلو په دې اړه مقالې هم خپرې کړې دي، کتابونه یې هم پرې لیکلي دي،ځینو دفقهې دریځ له زوایې یواځې دخپل فني لید له پلوه ورته کتنه کړې اودجوازفتوایې

ورکړې ده اوځينو په ژورليد سره حقايق اونتايج ارزولي دي،او ناجايزيې ګرځولی ده واقعه داده چې دنتايجوپه اعتبار دايوداسې نوی استعماردی چې د«جزايرشرق الهند» کمپنۍ يونوی شکل دی، کومې چې يوه پيړۍ وړاندې په همدې چالاکۍ اوجعل کارۍ سره خپل دومره پراخ حکومت رامنځته کړی و چې په پولوکې يې لمرنه ډوبيده . داسلامي نړۍ په بېلابېلوهيوادوکې بهرنۍ کمپنيانې ميشت دي، هغوی داسلامي هيوادودخپلو شتمنيوپه مټ په مسلمانانو باداري کوي اوخپلولاسونوته يې کينولې دي

دحکومت له مسؤليتونوڅخه نن سبا يوه اهمه معامله داده،چې يواسلامي بازار رامنځته کړی شي، په دې اړه غورپکاردی ،زکه نن سبا دزروبازار په مکمله توګه دسودخوړونکو اداروپه کنترول کې دی،دزرو بازارپه نوم چې کوم څه روان دي! هغه ټول دسود،قمار،غُرر، مختلف صورتونه دي! نن سبايوداسې اسلامي بازارته ضرورت دی، چېرته چې داسلامي احکامو سره موافق کارکوونکې اداري شتون ولري،په اسلامي خطوطوباندې بانکي سيستم شتون ولري بانکونه پکې د اسلامي شريعت سره سم دسوداګرۍ کارونه پرمخ يوسي او دزرو بازار هغه جايز مقاصدپوره کړی شي کوم چې بازارنه ترلاسه کيدی شي ددې لپاره مختلفو اسلامي هيوادوته خپلې اقتصادي تګلارې ټاکل پکار دي، چې يوهيواد ترکومه حده دزرو بازارته مټ او بازو ګرځيدای شي ددې فن لپاره داسې ماهرين خلک تيارول اوکينول پکاردي څو هغوی دابيان اوپه ګوته کړي چې داکار څنګه کيدای شي

دزرو بازارپه اړه نن سبا علماوو په تفصيل سره غوراوسوچ کړی دی او په اړه يې ګڼ کتابونه هم ليکلي دي،په کوموکې چې هغه مالي پانې چې دپير اوپلور بازارته وړاندې کېږي پکې اسلامي حکمونه او اصول څه ډول پکاردي، تعين کړي دي، مالي پانې چې کله دخريدوفروخت لپاره وړاندې کولی شي دهغو احکام اوقواعدڅه پکاردي؟ښکاره ده چې هغه احکام اوقواعدبه دشريعت سره برابروي، په هغوکې به ربا نه وي، دسود احکاموپه کلکه رعايتولو سره چې کله په يادو مالي پاڼوراکړه ورکړه کېږي نودابه دهغه راکړې ورکړې نه جلا وي کومه چې په نويو بازارونوکې دودوشوې ده ، په دې توګه چې کله دونډوپير- پلورمسئله راځي نو دونډوپه پير- پلورکې به هم دسود حرمت احکاموته پام کولی شي که ديوې داسې کمپنۍ دونډوخريدو فروخت کېږي چې هغې سره يوائې نغده پيسې شته، نو دهغې دونډو دخريدوفروخت معنی داده چې زروخريدو فروخت په زرو سره کوي، کوم چې يوائې په برابرۍ سره کيدی شي په کمي وزياتي سره نه، نوپه دې توګه دونډوهغه خريد وفروخت چې نن سبا جاري دی په کوم کې چې «فيوچرسيل»هم راځي، او پکې امتيازې ونډې هم شامل دي، ددې ټولو احکام ترتيبول اوپيژندل پکار دي

داټول هغه احکام دي چې دزروپه بازار پورې تعلق لري دکوموپه باره کې چې نن سبافقهاوو په تفصيل سره احکام هم مرتب کړي دي اوپه دې موضوع يې کتابونه هم ليکلي دي اودهغوفتاوی اوفيصلې هم بيرون ته راغلي دي کوموچې په اجتماعي توګه له اجتهادنه په کاراخيستواوسني فقهي،قانوني اواقتصادي مسائل ځواب کړي دي، درابطة العالم اسلامي ترڅارلاندې چې کومه فقهې اکاډمې ده هغې پخپلوپريکړه ليکونوکې او فيصلوکې هم ددې خبرو تفصيلي ويلي دي،دجدې اسلامي تنظيم ترڅارنې لاندې چې کومه نړيواله فقهې اکاډمي ده هغې هم د دې معاملاتوکې په باره کې په ډيرتفصيل سره رايې ورکړې دي، دکومو نه چې دا جوتيږي چې دنوي دور اسلامي فقهاووپه اجتماعي توګه څومره نتايج ترلاسه کړي دي؟دهغوی اجتماعي بصيرت په دې برخه کې څه وايي؟ داهغه مسائل دي چې مخامخ دحکومت په واک پورې تعلق لري پای

# تاریخ سره بلد تیا له فکري رنځونو د مغز مینځنۍ غوره لاره

محسن پکتین

تاریخ د ماضي هنداره ده، یو ملت چې ویاړونه او نیمگړتیاوي دواړه لري، تاریخ يې د مخ او څټ له توپیر پرته له هرڅه بربنډ را ښکاروي، د افغانانو تاریخ که څه هم له ویاړونو ډك گڼل کېږي او هم دی، خو بیاهم مو د ویاړونو په دغه سپینه لمن د غلامۍ ، ظلم او بربریت، فساد، فکري او اخلاقي انحطاط او پستۍ او... په تېوله کې مو د فراگیر شرم تور ټپونه هم راښکاروي چې نور ورته پکې گوته ونیسي.

که مو تاریخ محمود غزنوي، احمدشاه ابدالي، میرویس نیکه، د نږدې ماضي مرحوم ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله او ترې را وروسته طالبانو پورې ډېر گمنام او مخ پټي د ویاړونو په توگه را ټول کړي، ورسره يې د تېرې یوې پېړۍ په اوږدو کې له امان الله خان، شاه شجاع، کارمل، حفیظ أمین، نجیب رانېولې د نن ورځې تر اشرفغني، پلویانو او د کابل حکومت مخکېنیو او اوسنیو چارواکو غلامي پېژندل شوې څېرې هم په خپله لمنه د تورو داغونو په توگه را په گوته کوي.

د اشغال له پیله د۱۸کاله داسي نه وه چې اشغالگر به د وخت غلامي څېرې له هماغه کمونیستي فکر او د انارشۍ له تگلارې سره تقویه کوي، بلکې یوائې چې د دوی هرڅه ومني او نور هیڅ خپل فکر او تگلاره ونلري، یادو څېرو هم دیموکراسي او ورته چوپړ يې د کمونیستي فکر او انارشۍ د تگلارې نعم البدل ومونډل، خو نن چې اشغالگر پر وتو دي، دوی د حالاتو په څپو کې څگ ته لاس اچوي، کله د۱۸ کلنیو لاسته راوړنو؟! چیغې وهي، کله کمونیستي دور او کمونستان یادوي او کله بیا د انارشي د دور تگلارې ته د بیا ورگرځېدلو خبره کوي چې وايي طالبانو ته به غرونو ته د خېږو، د طالبانو امارت دیکتاتور نظام دی نه يې زغمو او...

دوی د یوې پېړۍ په اوږدو کې گوډاگیان د پردیو پر گوډاگیتوب له وحشتونو سره بشپړ پېژني، ورسره افغان ولس او ویاړونه يې هم پېژني، خو چې دا د تېر تاریخ کیسه ده او بیا زموږ ولس تاریخ ته ډېره کتنه او مراجعه نلري، د دوی له وروستو پاتې والي په استفاده د نن سبا غلامي او توري څېرې څومره چې کولای شي او وتوانېږي زموږ د ویاړونو او ویاړمنو پرگنو د پېکه ښودلو هڅې کوي، ورسره د پرون خپل نادوده گوډاگۍ سلف هم ولس ته سپین چرگ ور پېژني، نادودي او وحشتونه يې په داسي حال کې چې عملاً يې تکراروي په ټوله سپین سترگۍ توجېه او د ځان ترځنگ یاد سلف ته لا هم ترې برأت ورکوي.

سره له دې چې نجیب د اشرفغني کمونیست همسنگره او له تېرو دوو لسیزو راسې د هغه په گډون کابل دولتي چارواکو او منسوبینو له غوره سلفو څخه دی، خو په دې وروستیو کې يې په خپلو څرگندونو کې له واك څخه د نجیب استعفاء د هغه تېروتنه بللې او په خبره يې دی به بیا دغه تېروتنه تکرار او خپله چوکۍ به تر وروستۍ شیبې خوشې نکړي، ورسره يې په پای کې پر نجیب له تمسخر ډکه خندا هم کړي، غافل له دې چې د نجیب تېروتنه نه بلکې پر هغه د بادارانو مرستې بندېدل، گوندي نانډرۍ او د ولس کرکه عمده لاملونه و چې همدا اوس اوس هم شته او بیا د چوکۍ نه پرېښودو ترخه فارموله رباني او حکمتیار ځکلې چې تر پنجشېر او کولابه يې په ځان پورې نبولې وه، خو پای يې بیا له نجیب څخه څومره په توپیر کې و؟ نو د غني باید پام وي چې د یوې ناکامې تجربې له لارې همغه د نجیب په برخلیك أخته کېدونکی دی.

اشرفغني، ورسره کراېي پلویان، د اداري غرې او پخواني چارواکې چې زموږ د ویاړمن تاریخ تور داغونه خپل سلف مني، په دا ډول کړنو او څرگندونو تر خپل سلف زیاتو نادودو او وحشتونو ته خپله ژمنتیا او لېوالتیا ښيي، خو پر دالرې کرایو او لالچونو يې د ډېرو خولې ور ترړلې او ځیني نور بیا وېده، نادېده او گوسفندي خاصیت لري چې په پټو سترگو بیاهم ورته خوشبین دي، د نادودو او وحشتونو پر وړاندې يې نه هیڅ وايي، نه غبر پورته کوي او نه يې د مسئولیت له مخې تش د یو یادښت په توگه له ځان سره لیکي ترڅو د تاریخ برخه شي، راتلونکو نسلونو ته د دوی اصالت ور وپېژني او هغوی بیا د نورو په غولونه په هغه توره او غلامه څېره پسې لاړ نشي چې نه يې په سترگو لیدلې، نه يې تاریخ ورته مالوم او نه يې هم کره پېژني، لکه د نن غولېدلي ځوانان چې د وخت گوډاگیانو د نجیب په څېر د تاریخ په منحوسه او گوډاگۍ څېره پسې روان کړي.

موده وړاندې حمدالله محب د نجیب قبر ته تللی او د هغه د ابادولو ژمنه يې کړې وه، دوی که څه هم په زماني، مکاني، فزیکي او فکري لحاظونو ډېر سره لیرې دي، علاوه یو د امریکا او بل د روس لاسپوڅی چې له أمله يې یو د بل مخالف سنگر کې هم کارول شوي، خو دا چې د خپل ولس پر وړاندې د دواړو موقف یو او پر جلا لحاظونو یو له بله پکې وړاندې دي، پر غني سره یو ځای او وصل کېږي او نن محب هماغه نالیدلی نجیب خپل سلف گڼي او له ځان سره نادیده او ناخبره ځوانان هم غولوي او روانوي.

زموږ د تېرو پرگنو همت وه چې د نجیب کړنې او دوره يې د تورو ورځو په توگه په تاریخ کې را پېژندلې او اوس يې حتی همخیالان هم پرې پېژنو، خو د نن همخیالو چې يې کومې کړنې ترسره کړې، څرنگه دورې يې تېرې کړې او څومره يې ولس زبېښلی که ترې وغږېږو، هرڅه ټکي په ټکي کره انځور او د تاریخ برخه يې کړو له نجیب څخه په ځیني لحاظونو ډېر لوړ خېږي او د هغه تاریخ شرموي.

د کرزي د غلامۍ دوه رسمي دورې او پاتې غیر رسمي چوپړ او د ګډوله حکومت تېرې او راوننې دورې یواځې لوی جنایتونه او خیانتونه لکه د هېواد خاوره او هوا ټول د اشغالګرو په واك کې ورکول(د هېواد د خرڅلاو ترون)، اشغالګرو او د هغوی ګنو استخباراتي ډلو ته د هر ډول جنایتونو زمینه سازي، پلان ګذاري، کوردینات او بیا ترې برأت هم ورکول، د اشغالګرو د کورنیو او نړیوالو ګټو لپاره د ملي اردو کارېدل په زغرده منل، د پوځ بېلابېلو قطعو تر نوم لاندې پر ولس د أمریکایي بلیك واټر کمپنۍ کرایي قاتلانو کارول، د داعش پر نوم أمریکایي استخباراتي پروژې د ودې او پر ولس یې د استعمال هر ممکن اقدام، پر ولسي غونډو، ودونو، جنازو، فاتحو هوایي او هاوان بریدونه او چاودنې، هغه بزدلانه چاپې او بمبارۍ چې پکې کور په کور لړ ترلړه۴تنه وژل کېدل یا هغه چې له ۲۰څخه تر ٦٠ماشومانو، مېرمنو او ولسي. وګړو ژوند یې أخیست، د ملي عام المنفعه ځایونو، مدرسو، مسجدونو، مکتبونو، کینیکونو، کلیو او بازارونو ورانول او د ولسي وګړو أملاك او عفتونه لوټل.

همدارنګه له ګوندیو سره د میلیونونو ډالرو، پوځي، استخباراتي، سیاسي، اقتصادي او تبلیغاتي پټو معاملو په ځانګړې د ډېورنډ خیالي کرښې معاملې سربېره وسلوال مخالفین او خپل ولس د همدغو ګوندیانو پر نوم وژل، مهاجر او پولې ته څېرمه ولسونه پر همدې ګوندیانو پر یو او بل نوم ځپل، په خپله او هم د اشغالګرو له لوري د ملي شتمنیو چور او لوټ ته زمینه سازي، له ولس سره د نړیوالو مرسته شویو مالیاتو او توکو پر یو او بل نوم لوټل او د منت بار یې د ولس پر اوږو ور اچول، د ولس له تر ټولو ابتر حالت څخه د یوې شخصي. اقتصادي پروژې په توګه استفاده، هېواد او راتلونکې نسل مو د غرب تر ملاماتونکو پورونو لاندې کول،په ملي او دولتي کچه د فکري بېلاربیو او اداري او اخلاقي فساد خپرول، د برحاله او پخوانیو دولتي چارواکو پر مستقیم او غیر مستقیم ډول د جګړې، مرموزو وژنو لړۍ او سیاسي نانډربو تونډول، د جګړې پای ته رسېدو او سولې راتلو د مخنیوي او د راتلو په درشل ولاړې سولې د سبوتاژ پټې او ښکاره هڅې او زرګونه نور موارد هغه څه دي چې د نن/امریکا ګوډاګیانو د پرون/روس ګوډاګیان پکې شاته پرېښودلي او له همدې اړخه هم امریکا له روس څخه پرمختللې ښېي.

که مونږ نن د تاریخ د تورو څېرو په توګه دغه د پردیو لاسپوڅي له پیدایښته تر پایښته، د هغوی کړنې او څرګندونې، د ځوانانو د افکارو او اذهانو د تخریب او ویجاړۍ، اخلاقي بېلاربیو اوپستۍ او له پخوانیو کمونستانو، اوسنیو دیموکراتانو او پردیپالو سره یې د فکر، تګلارې او تګلوري پر لحاظ وصل کولو مزې او لارې چارې له کره شواهدو او د مهال له قرائنو سره ثبت نکړو او ورسره د اغېزمنو ځوانانو د ذهن سازۍ، فکري اصلاح او مغز مېنځنې هلې ځلې او هم د خپل تاریخ پر مثبت اړخ، هویت ساتنه، فکر او فرهنګ کار ونکړو د دې وېره شته چې دا ځل د کمونستانو او نجیب د دور په پرتله زیات ځوانان له لاسه ورکړو.

ځوانان چې د انسان منځنۍ پوړ دی په تبېعي ډول په فکري لحاظ هرڅه زر قبلوي، وینو څه چې څنګه مونږ لیدلي همغسې. دوی هم لیدلي، خو دښمن ترې په دوه ټکي تبلیغاتو او سانسور د هغوی ذهنونه له سترګو لیدلو مشاهدو پر بله واړوي، له بل لوري دښمن ځوانانو ته ماضي له خپلو شواهدو او قرائنو پرته د هغه په ګټه د حال د قرائنو په رڼا کې انځوروي او له درېیم لوري بیا خپل تاریخ او له هغه سره بلد تیا له فکري رنځونو د مغز مینځنې تر ټولو غوره لاره ده، له همدې أمله زمونږ د با احساسه ځوانانو مسئولیت جوړېږي چې کوم څه مونږ له نږدې لیدلي، له کره درکونو یې خبر لرو، باوري خپلوان او نږدې ملګري مو ترې خبر دي هغه ثبت کړو، کوم چې کره نه وي لاپې وخت دی چې د پېښو له عیني شاهدانو یې کره کړو او تر وسې هڅه وکړو زمونږ د نن ځوانان هم هر اړخیز وربانديې قانع کړو ترڅو راتلونکې نسلونه د نن ورځې هرڅه د تاریخ په هنداره کې بربنډ ووینې او پرې د فکري رنځ له جرثوم څخه خپل ذهن وژغوري.

زمونږ که د نن ځوانان دي او که د سبا نسل مو، د پوهې فقر، فکري ګډوډۍ، فرهنګي انحطاط، اخلاقي انحراف او تاریخي ورکې له جدي ګواښ سره مخ دي او دا ځکه چې زمونږ مسئولیت یواځې د دوی فزیکي پالنه نه ده، بلکې د هغوی هراړخیزه روزنه، تربیه او پوهاوی هم زمونږ د مسئولیت برخه او د دوی د فزیکي جوړښت یو لاینفك غړی دی او بیا بېلابېل چاپېریالونه چې د خپل جوړښت په اثر افکار پنځوي او له أمله یې په ټولنېزه او نړیواله کچه ګڼ فکري مکتبونه او لیډلوري رامنځته شوي هم ورته په پام کې ونېول شي ترڅو له ټول جدیت سره له بد چاپېریال څخه خوندي او په یو پاك سوتره هغه کې یې د فزیکي جوړښت تر څنګ روزنه، تربیه او پوهاوی ترسره شي، خو په خواشینۍ سره چې په لومړي سر کې د نن سبا والدینو او بیا زمونږ با احساسه ځوانانو ورته کومه پاملرنه نه ده کړې.

ځوانان چې د ټولنې د ملا تیر ګڼل کېږي باید تر بل هرڅه زیات او په لومړۍ رتبه کې عقیدې، فکر، فرهنګ او تاریخ ته جدي متوجه کړل شي، د هېواد رښتونې او معنوي پرمختګ پر همدې ولاړ دی، مطلوب نووښتونه را منځته کېږي او مونږ په خپلو پښو دروي، کوم چې د دې مادي مرافق دي، که زراعت دی، که اقتصاد دی، که رغنیزې پروژې او چارې دي، که کورنۍ او بهرنۍ پالیسي. او ډیپلوماسي او که داسي نور دي، هغه د رښتونې معنوي پرمختګ پر ملیا د وګړو د ژوند د لومړنیو اړتیاو د پوره کولو د هڅې او هاند په نتېجه کې هم ترسره کېدی شي او په اتومات شکل ورسره پر مخ درومي......پای



# د مفتي قلم الدين «متوکل»

## ژوند او کارنامو ته لنډه کتنه

م-الياس فاتح

پيدابښت د انسان له صورت سره [ إني خالق بشرا من طين-الآيه] او جوړښت يې له سيرت سره [ إني جاعل في الأرض خليفة-الآيه] تړاو لري ؛ نو ځکه ويلی شو چې په هر پېر کې د صورت له پلوه انسانان بېشمېره پنځول شوي، خو د سيرت او معنا پر ګاڼه بيا ډېر کم پسولل شوي دي، چې له دوی څخه په روان پېر کې يوه بېلګه مفتي قلم الدين متوکل-نورالله مرقده- هم يادولی شو.

هو! مفتي قلم الدين متوکل هغه علمي، مصلح ، مجاهد، مبلغ شخصيت و ، چې نه يوازې په افغاني ټولنې کې يې د علمي وړانګو مزي وغړل، بلکې د امريکايي تاړاک پروړاندې يې په سختو او حساسو شپېو کې د يوه وسپنيز عزم لرونکي ، جرأتمند، مخلص او پياوړي مجاهد په توګه خپله سپېڅلې فريضه ترسره کړې، او د دې سربېره يو عملي دعوتګر، دحق تېره قلم څښتن، جهادي روحيې بښونکی ، د بې وزلو ، کونډو اويتيمانو د اوښکو پاکوونکی، د علومو په څپانده چينو د علمي تږو[طالبانواو علماوو] خړوبوونکی، د قومونو او ولسونو ترمنځ د روغې جوړې او اتحاد سمنبوليک شخصيت په توګه پېژل شوی و، چې د مرګ په جارحانه غږ يې د ډېر زړونه زخمي او دردمن شول، دلته به خو شېبې ددغه وياړلي شخصيت د ژوند، کارنامو او مشخصاتو يادونو ته تم شو.

**زوکړه يې :** مرحوم مفتي قلم الدين متوکل د الحاج مقام الدين ځوی و، چې په ۱۳۹۸ هـ ق (له ۱۹۷۷م) کال يې د پکتيا ولايت اريوب ځاځيو ولسوالۍ د امېرخېلو کلي د مصريخېلو په يوه ديندار کورنۍ کې نړۍ ته سترګې وغړولې .

نوموړی لا کمکی و، چې شوروي زبېښاکګرو د افغانستان په سپېڅلي حريم يرغل وکړ، او افغان مظلوم ملت يې په هجرت کولو اړ کړ؛ همغه وه چې د نوموړي کورنۍ هم د نورو افغانانو په څېر له خپل ټاټوبي د خيبرپښتونخوا په لور مهاجره او د «مادې شمو/مندوري» په نامه په يو مهاجرکمپ کې ميشت شول.

**زده کړه يې:** نوموړي لومړۍ عصري زده کړې، د کرمي ايجنسۍ د شبک کمپ په ابتدايه مکتب کې تر پنځم ټولګي ورسولې، او منځنۍ عصري زده کړې يې د «ګيمن پل » په ښوونځي کې تر لسم ټولګي ترسره ، او نورې زده کړې يې د پېښور اړوند پېو [اتحادعالي لېسه] کې تر دولسم ټولګي پورې بشپړې کړې.[ وروسته د

جهان پوهنتون څخه په شرعیاتو کې لیسانس ، او په لومړۍ نومره فارغ شو.]

د مکتب ۱۲ټولګي له فراغت سره سم یې د دیني علومو د تحصیل لپاره ملا وتړله او ابتدايي زده کړې یې د احمدشمع [ مهاجرکمپ] په یوه دیني مدرسه کې د ځاځیو نومیالي عالم مولوي محمدرمضان حقاني څخه پیل کړې.

د علمي سیر په دې لړ کې یې د نوموړي استاد په سپارښتنه د اریوب ځاځیو مرکزي مدرسې« الجامعة النعمانیه» په لور مخه کړه، هلته یې د سترمفسر او مصنف مولاناګل الرحمن حقاني او نورو جیدوعلماوو څخه یو شمیر کتابونه ولوستل.

نوموړی د لا علمي پرمخیون په خاطر بېرته د کوزې پښتونخوا په لور رهي شو، چې د هنګو ، پېښور، چارسدې او شاه منصور په بېلابېلو مدارسو کې یې د فنونو کتابونه تکمیل او د حدیثو وړې دورې لپاره یې د بنو سیمې په [المرکز الاسلامي] کې داخله واخیسته. د وړې دورې تر لوستلو وروسته یې د احادیثو لویې دورې لپاره په دیوبندثاني[جامعه حقانیه اکوړه ختک] کې داخل، او په ۱۳۲۳هـ.ق کال کې دنوموړې جامعې د مشایخو کرامو لخوا ورته د فضیلت پګړۍ پر سر او پر ممتاز سند ونازول شو.

ددې ترڅنګ یې د مفتی الثقلین شیخ الحدیث مفتي سیف الله حقاني- مدظله- سره د کلیة التخصص فی الفقه والافتاء والقضاء کې شریک او د پیاوړي مفتي په توګه فارغ شو، چې تر تخصص وروسته یې د خپل مفتي مدظله تر څار او نظارت لاندې خورا زیاتې فتواګانې ورکړې.

**تدریس یې:** مفتي صاحب له فراغت وروسته په لومړي کال د پنجاب په چکوال مدرسه کې تدریس شروع کړ، چې د غه مدرسه کې د یو کال لپاره د صدرالمدرسین او هم د دارالافتاء د ریئس په توګه پاتې شو.

ورپسې یې څلور کاله د پېښور په مدارسو کې د تدریس ترڅنګ د افتاء چارې هم پرمخ یوووړې. له دې پس د امریکایي اشغالګرو پرضد دجهادي مبارزې په موخه خپل ټاټوبي[اریوب] ته راستون او دغلته یې له یوې خوا د خالدبن ولید-رض- په دیني مدرسه کې د تدریس لړۍ جاري کړه، او له بله پلوه یې د اریوب او احمدخېلو ولسوالیود نظامي مسؤل[ قاري حسن جان جهادیار ] مرستیال په توګه جهادي فریضه دوامداره وساتله.

دلته یې له یوکال تدریس وروسته د اریوب جامعه نعمانیه کې د یو کال لپاره د مدرس په توګه دنده ترسره او بیا یې دجهادي ملګرو په مشوره د ننګرهار شمسپور سیمې په مدرسه غفوریه کې د تدریس چارو ته اوږه ورکړه، چې هلته یې پرلپسې اووه کاله ښوونیزخدمت وکړ.

د تدریس سربیره یې یو نوښت دا هم وکړ، چې په ننګرهار کې یې د لومړي ځل لپاره دتخصص في الفقه والافتاء درسونو بنسټ کېښود او په زیات شمېر مفتیان صاحبان یې ټولنې ته وړاندې کړل.

**د بېوزلو او یتیمانو لاسنیوی:**

مفتي صاحب د تدریس سربیره د خیریه بنسټ چارې هم په منظم شکل پیل کړې، چې په ننګرهار ، کابل او پکتیا کې یې له بېوزلانو سره بېړنۍ مرسته کوله؛ د خوراکي توکو ترڅنګ د تودوخې او یخنۍ د موسم اړینوموادو کومک، او په خاصه توګه د سلګونو شهیدانو او یتیمانو کورنیو سره نغدي مرسته، چې ډېری بې سرپرستو یتیمانو لپاره یې میاشتنۍ مساعده تهیه کړې وه.

کله چې په ننګرهار کې داعشي فتنه راپیدا کړل شوه او هدف یې د حنفي، جهادي او امارتي علماوو شهیدول وو، ځکه یې څو ځله د مفتي صاحب دشهیدولو ناکامې توطیې طرحه کړې. هماغه وه چې له دې ځایه کابل ته په کډه شو،



هلته یې لنډې موده د تدریس چارې ترسره کړې. د نوموړي حجره او ذوق یې هوډ فولادي کړی و، نو سمدلاسه یې
علمي شوق او ذوق یې هوډ فولادي کړی و، نو سمدلاسه یې د جهان په نامه پوهنتون کې نوم لیکنه وکړه او د محصلینو په سرخېلانو کې په لومړۍ درجه له پوهنتون فارغ شو، ددې سربېره د همدغه پوهنتون استاد او ترڅنګ یې په جامعه خلفاء راشدین کې د تخصص فی الفقه والافتاء استاد او د دارالافتاء رئیس په توګه خدمت پیل کړ.

**تألیفات یې:** مفتي صاحب نه یوازې د تدریس ،جهاد، خیریه چارو او د تبلیغ د ډګر اتل پاتې شوی، بلکې ددې په ترڅ کې یې د قلم او تصنیف سره هم د کلکې علاقې تناوونه ترلي وو. څکه یې په لومړي ځل د میراث په علم کې د سراجۍ شرح «تقریرالاریوبي» په نوم ۳۰۰مخه داسې تالیف او شرحه وکښله، چې علماء او طلباء یې د نورو شروحاتو څخه بالکل مستغني کړل، او له دود هرکلي سره مخ شوه.

**دویم کتاب یې:**« د عُمرې ملګرې» په نوم او دریم یې شرعي لباس ، او څلورم یې د پوهنتون [مونګراف] لیکلی، ددې سربېره یې ګڼ شمېر علمي ، اصلاحي مقالې او په لوی تعداد کې فتواوې کښلې دي.

**تصوف:** مفتي صاحب د تزکیة النفس او روحانیت په لاره ډېرمخته لاړ و، هغه په دې سلسله کې د مفتي اعظم علامه مفتي محمد فرید- رحمه الله- خلیفه مجاز،او د زیات شمېر سالکانو مرشد هم و.

**مسولیتونه یې:** نوموړي نبوي احادیثو له فراغت وروسته ان د ژوند تر وروستۍ شېبې د تدریس لړۍ وغځوله، او ددې ترڅنګ یې په ټول خلوص لاندې مسولیتونه هم انجام کړل:

- ❖ د اسلامي امارت لخوا د ځاځیو ولسوالیو نظامي مرستیال
- ❖ د اریوب ځاځیو کمیسیون مشر
- ❖ په اریوب کې د دارالافتاء مشر
- ❖ پنجاب/ چکوال کې د دارالافتاء مشر
- ❖ ننګرهار/ شمسپور کې د دارالافتاء مشر
- ❖ د مشرقي زون د اهل سنت والجماعت مرستیال
- ❖ دځاځیودیني علماوو اتحادیې مشر
- ❖ د ځاځیوقوم د مرکزي شوریس مشر
- ❖ د خیریه بنسټ[بې وزلو او یتیمانو] مشر
- ❖ د جهان پوهنتون استاذ
- ❖ د جامعة الخلفاءالراشدین[کابل] دارالافتاء مشر

د صلحې ، توري او قلم مفتي، الحاج قلم الدین متوکل علمي، جهادي، دعوتي،روحاني،اصلاحي ډګرونو ته ترسترو خدمتونو وروسته د ۴۳کلنۍ کې د ۱۴۴۱شوال /۲۷ [۲۰۲۰/جون/۱۹م] د جمعې په مبارکه شپه د ورپېښې ناروغۍ له امله، له دې نړېدونکې نړۍ څخه دتل لپاره سترګې پټې کړې. اناالله وانا الیه راجعون. دجنازې مراسم یې په خپل کلي[امېرخېلو]کې ترسره او پلارنۍ هدېره کې خاورو ته وسپارل شو.

روح یې ښاد او یاد یې تل اوسه!



# له كراماتو او الهي نصرتونو ډک جهاد

ليکوال : عبدالله کوچی

یو مجاهد مولوي صیب د سترګو لیدلی حال بیانوو چې یو وخت دولس تنه مسلح ملګري په دوو سراچو موټرو کې په تشکیل روان وو، لاره کې مو دوه هلیکوپټر ولیدل چې زمونږ په طرف را روان وو ملګرو ته مو وویل چې اسلحې په څادرونو پټې کړئ او طیارو ته مه ورګورئ خپله لار وهئ، چې لږ مخته لاړو هلیکوپټرې زیاتې شوې تقریبا دولس داني شوې چې ځینو نیږدې او ځینو یې لرې ګزمې کولې،

ما ملګرو ته وویل چې طیارې بې څه نه ګرځي ممکن امریکایان سیمې ته راغلي وي یا د شپې چاپه وهل شوې او امریکایان لا موجود دي باید احتیاط وکړو

کوشش مې وکړو چې د مخته موټروان سره خبره وکړم تر څو همدلته کوم ځای حصار شو او د لارې مالومات وکړو ، خو د مخکې موټر ډرایور نمبر بند وو په ملګرو مې مخابره کې غږ وکړو مخابره یې هم بنده وه، خو د قسمت معامله وه د تشکیل مزلونه وو ډرایوران عام خلک وو خو ډیر غیرتي او زړور وو ډیر تېز مزل یې کاوو، مونږ چې هرڅومره کوشش وکړو تر څو هغه مخته موټر را ودروو او یا ترې مخته شو خو هغه لار نه راکوله

زمونږ د موټر ډرایور ته مې وویل چې ته لږ پسې تېز شه چې هغوی را ودروو،خو هغه به فکر کاوو چې دوی غواړي له ما مخته شي نو هیڅ لار یې نه راکوله او لا به ګړندی شو، پاس ګڼ شمیر چورلکې او لاندې مونږ په ډیر تېز رفتار دوه ګاډي روان وو

بلاخره چې یوه وړه غونډۍ مخې ته راغله د غونډۍ دواړه طرف ته د کوچیانو کورونه وو او طیارو بیخي په ټیټه ساحه کې پروازونه کول ، مخته موټر چې په کنډو ور واوښت مونږ د همدې کنډو بیخ ته ور ورسیدو، ناګهانه تقریبا پنځوس متري کې امریکایان او ملي اردو په سرک ولاړ دي او لومړنی موټر په ډیر سپیډ کې پرې تیر شو، زمونږ ډرایور وویل چې مولوي صیب اوس څنګه چل کوو بیرته به وګرځو توکل په خدای چې هر څه پیښ شول، ماورته وویل چې ولې هغه بل موټر کې ملګري یواځې ور پریږدو ؟

ډرایور راته وویل چې ښه نو څنګه کوو اوس خو چې دلته ودریږو امریکایان راځي تالاشي ته او یا مو هلته ور غواړي

مجاهد ویل چې زه سخت پریشانه شوم او داسې ځای کې حصار شوو چې د سوچ او فکر موقع هم نه وه چې سړی فکر وکړي،

په دې وخت کې یو سپین ږیری کوچي چې د سرک پر غاړه یې کور وو او هغه د باندې دروازې سره انتظار ناست وو چې کله به امریکایان زمونږ کورته را رسیږي ،تسبیح یې لاس کې وې کله به یې امریکایانو ته کتل او کله مونږ ته، دا چې امریکایان او افغان عسکر بیخي مونږ ته نیږدې ولاړ وو او هغوی مونږ ته او مونږ دوی ته رډ رډ کتل .

سپین ږیری کوچي پوی شو چې دا خو مجاهدین دي او د چاپې منځ کې ګیر شول نو لاندې یې لاس له څادر وایست او اشاره یې وکړه چې زما کور ته موټر د ننه کړئ

مونږ هم بې له ځنډه موټر را تاو کړو او د حجرې دروازې ته مو ودراوو، خو کوچي په خپل ځای غلی ناست وو د حجرې دروازه بنده وه ، سمدلاسه د حجرې دروازه د ننه طرف نه خلاصه شوه که ګورو چې د کور یوه زړه بوډۍ وه غږ یې وکړو چې زامنو زر را د ننه شئ،

موټر مو حجرې ته دننه کړو د چاردیوالي دیوالونه ټیټ وو پاس امریکایانو او عسکرو هم لیدلو او طیارې هم

ډېرې زیاتې تاویدلې مونږ نه له اسلحو سره له موټره کوزیدلای شو او نه مو د طیارو د لاسه چانتې موټر کې ایستلای شوې،ځکه طیارو کې امریکایانو راکتل، په دې وخت کې سپین ږیری بوډا را ننوت او بیغیر پوښتنې او سترې مشې حجرې ته د ننه شو، په کرکې کې یې غږ وکړو چې طالبه طیارو ته ګورئ چې هغه تیریږي ارام ارام چانتې وکاږئ او راښکته شئ،

مونږ هم په ډېر احتیاط او چل ول چانتې لرې کړې ځادرونه مو پرې د پاسه واچول له موټر راښکته شو او حجرې ته دننه شو، قیصه اوږده ده خو را لنډه ووم یې، مجاهد ویل چې کوچي نه مې پښتنه وکړه چې دا څه خبره ده هغه وویل چې بیګا د شپې امریکایان او داخلیان راغلي د فلاني مولوي په کور یې چاپه اچولې و،

دوه دا غټې دوه څرخه طیارې یې کینولي ټول کلی محاصره ده ، دوه سوه څخه زیات امریکایان او عسکر په دا هغې خوا کلي کې تلاشي باندې لګیا دي اوس داده زمونږ کلي ته هم را واوښتل

زما هغه بل موټر ته سخته اندیښنه وه او فکر مې کاوو چې که د توپکو ډزونه وشول نو بس ټول به شهیدان کړي او که ډزونه ونه شول نو بس بیا یې ژوندي ګیر کړي دي ځکه چې دا لار د همغه مولوي د کور په مخ تیره شوې وه د کوم مولوي په کور چې چاپه وه نو د خلاصون یې هیڅ امکان نه وو،

کوچي سپین ږیری زما په وارخطایي پوی شو راته ویې ویل چې ملا صیب انقلاب ده سوچونه مه کوه اوس پیښه ده چې څه الله په تقدیر کې لیکلي وي هغه به کیږي زه وا نه چوې ملګري جنګ ته تیار کړه که امریکایان رانتوتل بس داسې برید پرې وکړئ چې بیا چاپو ته زړه ښه نه کړي خو یوه خبره به درته وکړم مونږ زاړه یو هر څه مو لیدلي که جنګ مو شروع کړو نو کینې به نه په جنګ کې به شاتګ کوئ چې یو تن ژوندی پاتې شئ هم ښه خبره ده ځای پر ځای جنګ کې ټول شهیدانیږئ،

مجاهد ویل چې زه د کوچي ایمان او عقیدې سخت حیران کړم چې په داسې حالاتو کې مسلح مجاهدین کور ته ننویستل او بیا د جنګ اجازه په خپل کور کې ورته کول په ټنونو ایمان غواړي،

خو ما ورته وویل چې حاجي ګله تا دومره غټه قرباني وکړه چې مونږ دې د امریکایانو له مخې کور ته دننه کړو اوس څنګه ستا له کور څخه جنګ شروع کړو، ستا ماشومان او زنانه کله په دغو کافرانو مونږ وژنو، جنګ نه کوو که مونږ ټول همدلته ووژني یا مو ژوندي نیسي- بیا هم ستا له کوره جنګ نه کوو او نه زمونږ غیرت دا اجازه راکوي چې زمونږ په خاطر دې ستا ښځې او ماشومان ووژل شي، او بل زمونږ اسلحه بهر موټر کې پرته ده چې امریکایان راشي نو مونږ بهر وسلې را اخیستلو ته نه پریږدي جنګ نشو کولای او نه یې کوو

په دې وخت کې کوچي ښه غټ چینک شین چای او پریمانه دتناره ګرمه ډوډۍ راوړه ویل ځانونه ښه ورته ماړه کړئ مرګ په مړه خیټه خوند کوي تاسو به د شپې هم مزلونه کړي وي وږې به وی

په دې وخت کې هغه زړه ادې بیا حجرې ته راغله موټر څخه به یې ټوپک راواخیست او په خپله غټه لمن کې به یې تاوو کړو کوټې ته به یې را د ننه کړو په همدې طریقه یې اسلحه او چانتې ټول یو یو مونږ ته را ورسول،

او ویې ویل چې بچیه ژوندي ځانونه په لاس ور نکړي دا ډېر ظالمان دي توپک مو درواخلی ښه زړونه ورسره تش کړئ زمونږ د کور غم مکوئ زمونږ ماشومان او ښځې له دې نازکو طالبانو زیات نه دي،

مونږ دې ټول شهیدان شو پروا نکوي خو دغه کافران چې تاسو ژوندي ونه نیسي

مجاهد ویل چې زه بیخي حیران شوم او ددوی غیرت ژړا را وستله چې یا خدایه ددې ولس زړونه څومره په مجاهد او طالب دردیږي،

د مجاهد په خبره چې ما به بار بار د هغه بل موټر وان نمبر باندې کوشش کاوو چې که زنګ ورته تیر شي او حال یې معلوم کړم

سپین ږیري کوچي بابا بیا راته وویل چې ملاصیب خفګان مکوه چای وخوره ، ماورته وویل چې حاجي صیب ځان ته هیڅ په سوچ کې نه یم هغه بل موټر پسې مې سخته اندیښنه ده هغوی یې لکه چې ژوندي ونیول.

کوچي راته وویل چې نانا هغه ته هیڅ اندیښنه مکوه هغه کې خو ټول ښځې او ماشومان ناست وو کنه هغه مې هم را تـا وول زنانـه ورسره وي، ځکـه امریکایـانو هـم ونـه درول کنه سهار را هیسې یې په دې سرک هیڅوک هم نـه دي پرې ایښي دغه موټر کې ښځې وې ګـوره ویـې هـم نـه دراوو، ما ورته وویل چې حاجي صیب ښځې نـه وې زمـونږ ملګري وو مجاهدین وو،

کوچي بیا په ډېر ټینګار سره راته وویل چې په خدای قسم ښځې پکې وې ماشومان یې پـه غیـږو کـې نیـولي وو سرۍ او شنه ټیکري یې په سر وو ،دغه موټر نـه خـو بیغمـه شـه چـې ستاسـو ملګـري بـه وي ممکـن د تاسـو ملګـري وروسته پاتې شوي وي کوم کلي ته به ور ګرځیدلي وي

زمونږ موټروان ورته وویل چې حاجي صیب هغه زمـا د اکا د زوی فلاني موټر وو مونږ یـو ځـای روان وو زمـونږ ملګري دي

په دې وخت کـې د کـوچي پـه سـترګو کـې اوښـکې راغلې او ویې ویل چې بس هیڅ غم ونکړئ په خدای قسـم د الله مرسته درسره ده او ملائکې مـو حفاظـت تـه راغـلي والله که نه هغو ته او نه تاسو ته هیڅ نقصـان ورسـیږي پـه تاسو د الله ډېر کلک نظر ده،

مونږ نور هم سره حیران شو ملګرو یو بـل تـه وکتـل، په دې وخت کې هغه بل موټروان زنګ راتـه وواهـه مبایـل مې اوکې کړو زیاته غوصه مې ورتـه راغلـې وه ډېـر ګـډوډ ورته وغږیدلم چـې دا طیـارې او امریکایـان دي نـه لیـدل څومره ارنګونه مـو درپسـې ووهـل چـې ودریـږه او تـه نـه دریدلې، موټر وان راته وویل چې ولې ورک شوئ مـوټر مـو خراب شوی که څنګـه؟ مـا ورتـه وویـل چـې نـا مـونږ خـو محاصره یو تاسو چیرته یئ؟

هغـه راتـه وویـل چـې مـونږ خـو فـلاني ځـای تـه را رسیدلي یو تاسو ورک شوئ تاسو تـه مـونږ هـم ودریـدلو، ماورته وویل چې تاسو دا امریکایان نه لیـدل چـې مخـامخ پرې ور روان وې؟ هغه وویل چې امریکایان چیرته دي؟

هغوی د همدغه مولوي د کور په مخ او د امریکایـانو ترمنځ تیر شوي وو خو دوی ټولو نه هیڅ امریکایي لیـدلی وو نه افغان عسکر او نه یې طیارې لیدلې وې.

وروسته په دغو ملګرو کې یـو تـن چـې بیـا وروسـته شهید هم شو راته ویل چې مولوي صیب سهار دې دومـره ایات کرسي راباندې ویلې وه چې امریکایان خو یـې ړانـده کړي وو خو مونږ یې هم ړانده کړي وو، که مونږ چېرتـه د امریکایانو مینځ په دوی سترګې لګیدلې وای ممکن ویـلي مو وای چې ژوندي ګیر شو نـو خامخـا بـه مـو بریـد پـرې کړیوای او مونږ ټول به یې شهیدان کړي وای،

دا لیکنه مې ددې په خاطر وکړه چـې اوسـنی جهـاد په خدای قسـم چـې د زرګونـو داسـې عجـائبو او کرامـاتو ډکه ده چې له املـه یـې مجاهـدین پـه ځـانونو څخه جهاد ډک بمونه تړي او په عـین الیقـین او مشـاهدې سره ځانونـه د الله په دین قربانوي

کوم خلک چې د جهاد کرامت نه مني هغـوی اکـثره هغه سیکولران دي چې عقیدتا کافر شوي او ذهنونه یې له کفري بدبویه افکارو داسـې ډک دي لکـه د ګونګـټ پـوزه چې لـه ګنـدګي ډکـه وي او د بـل هـیڅ شي بـوی نـه شي محسوسولای

همدا کرامات او د دغې سـپیڅلې لارې حقانیـت ده چې جهادي بهیر مـو د لسګونه زرو شـهیدانو او اسـیرانو ورکولو سره سره ورځ تر بلې مخ پرورانډې درومي.

همدا الهي نصرتونه او خارق العاده کرامات دي چې د مسلمه امت د ځوانانو پـه زړونـو کـې د جهـادي جـذبو لمبې لا ژبغړاندې کوي او لکه په اور چې پطـرول شـیندې همداسې مو ځوانان د الهي دیـن قربـاني تـه پـه ډېـره بـې صبرۍ مخ پر وړاندې روان وي

ددې مبارکې او سپیڅلې لارې د حقانیت خوند چـې چا درک کړی ده هغوی بیـا پـه تـش لاس لـه ټـانګونو سره مقابله کوي او په خپلو سینو باندې باروت تړي

همدا وجه ده چې افغانانو په تش لاس او زاړه ټوپـک د یویشتمې پیړۍ بریا خپله کـړه او د نـړۍ زبـر ځواکونـه یې په ګونډو کړل

الهـي ربـه تـه مـو تـر مرګـه پـورې ددې حقـې لارې پیروان او د حق د دې ټولې ملګري کړې او په اخـرت کـې مو هم د همدې مسیر له شهداؤ سره ملګري کړې.



# د لداخ پېښه او د لوی جنګ د راپېښېدو اټکلونه

شهيد زوی

څو ورځې وړاندې دچين اوهند په سرحدي سيمې لداخ کې هندي فوځيان دچين حدودوته ورننوتل چې چين دا پر چينايي فوځيانو حمله وګڼله؛ چينايي فوځ په جوابي عمل کې ديوافسر- په شمول ۲۰ هندي فوځيان ووژل چې ورسره هندي فوځيان شاتګ ته اړ شول.

هند اول دخپلو دري فوځيانو وژل کېدل منلي وو خو بيا يې وويل چې ۱۷ټپي شويو فوځيانو هم دسخت يخ له کبله خپل ژوند له لاسه ورکړ.

دلداخ دپېښې په اړه دچين دباندنيو چارو وزارت له لورې په خپرې شوې اعلامې کې راغلي و چې دپېښې نه دوه ورځې وړاندې هندي فوځيان دوه ځلې دسرحد نه راواوړېدل اوجنګ ته دلمن وهلو په موخه يې دچين په فوځ ډزې هم کړې وې ؛ دچين دولت هند ته خواست کوي چې خپل فوځ منع کړي او دپارونکو کړنو نه لاس په سر شي.

چين په اقتصادي ، نظامي او سياسي لحاظ دنړۍ تر ټولو تېز پرمختګ کونکی هغه هېواد دی چې دا هر اړخيز تېز پر مختګ يې دلويديځې نړۍ اوپه ځانګړي ډول دامريکا لپاره د وېرې سبب شويدی.

دچين نفوس دنړۍ دبل هر هېوادنه لوي دی ؛ستره جغرافيه لري ؛اوس يې په نظامي لحاظ دنړۍ دسترو عسکري طاقتونو سره سيالي برابره شوې او اقتصادي پرمختګ يې له بل هر چاتېز دی

**خوسره له دې هرڅه يې ګاوندي اويا دسيمي بل هېواد ته ضررنه رسېږي ځکه چې چين نه دنورو هېوادونو په کورنيو چاروکې مداخلې کوي او نه هم په اسانه دچا پر ضد نظامي ډګر ته را ووځي بلکې خپل صنعت، زراعت تجارت ته وده ورکوي او دټولې نړۍ سره دښو روابطو له لارې خپلو ارزانو مصنوعاتو ته په نړۍ کې مارکيټونه پيدا کوي.**

چين کې چې نظام کمونستي دی او پخپله ديموکراسۍ ته ژمن هېواد ندی نو د امريکا اونور لويديځ په ځېر چا ته ديموکراسي نه مخې مخې ته کوي او نه دچاپر ضد دنظامي ګام پورته کولولپاره د ديموکراسۍ او دبشرحقوقونه سرغړاوی پلمه کوي.

په چين کې دننه چې ددولت له لورې دچين دمسلمانانو سره کوم ناوړه سلوک کېږي نو لړليک يې ډېر اوږد او خورا له درد او اندېښنو ډک دی.

خو داچې چينايان دکوم مذهب سره تړاو نه لري بلکې قاطع اکثريت يې دهريان دي نو ځکه چينايان

دچـین نـه بېـرون دچـاسره ددیـن او مـذهب پربنسـټ دښـمني نـه کـوي او دنـړۍ مسـلمانان مطمـئن دي چـې چین زموږ دین او کلتور تـه دضرر رسولو ارادې او شـوم پلانونـه نـه لـري او نـه تـرې تراوسـه داسـې کـوم حرکـت ترسترگو شویدی چې په حتمي ډول دچین نه بېـرون پـه اسلام دښمنۍ تعبیر شي.

دا ډېره ښه ده چې دچین بهرنۍ پالیسي دامریکا او نورو لویدیځوالو غاصبو هېوادونـو پـه څېـر نـده ؛کـه یـې بهرنۍ کړنلاره دامریکا او نورو لویـدیځوالو زبـر ځواکونـو کړنلارې تـه ورتـه وای نـو زمـوږ پـه څېـر ورو او کمـزورو هېوادونو سره گاونډیتوب به یې ډېر دخطرونو او اندېښنو ډک او دگاونـډیو پـه شـمول بـه یـې دشرنـه دسـیمې یـو کمزوري هېواد هم خوندي نه وای .

نودنـورو پـه کورنیـو چـارو کـې نـه مـداخلت اوپـر کمزورو هېوادونو نه تجاوز ددې هېواد دمثبت سیاست په زړه پورې اړخ دی .

خو داچې دچین هر اړخیز پرمختـگ لویـدیځ اوپـه ځـانگړي ډول امریکـا تـه دزغـم وړ نـدی او دخپلـو پرمختگونو په وړاندې یې خطربولي نو چین تـه سـتونزې پیداکوي اودچـین گاونـدي هېـواد هنـد نـه پـدې لارکـې زیات کار اخلي ځکه چې هند هم اوس دنړۍ اوخصوصاً دسیمې په سطح یـومهم اقتصـاد او نظامي ځـواک دی ؛ لویه جغرافیه اولوی نفوس لري او د لویدیځ لپاره مهـه دا چې هند دچین سره ۳۴۸۸کلومتره اوږده گډه پوله لـري اودپـولې دحـدودو دتعـین پـه اړه یـې سـتونزه هـم زړه او دومـره جـوره ده چـې ددواړو هېوادونـو تـرمنځ څـوځلې دجنگ رامنځته کېدو سبب شویدی .

ددواړو هېوادونــو تــرمنځ پولــه ډېــره اوږده خــو حدبندي نشته ؛ بس دکوم هېواد تر کنـترول لانـدې چـې کومه سیمه وي هماغه دهغه هېوادملکیت گڼل کېږي .

دپولې دحدبندۍ نه شتون ددواړو هېوادونو تر منځ دځمکې دملکیت په سر د اختلاف ډېر لـوی سبب دی ؛ ددواړو هېوادونـو تـر مـنځ دا اخـتلاف لـه تېـرو ٦٠ کلونوراهیسې راروان دی چې د۱۹٦٢م کال نـه تـر ۲۰۱۷ او اوس د۲۰۲۰م پـورې ددواړو هېوادونـو پـر پولـه دپرتـو فوځونو تر منځ د٥ کوچنو جنگونو درامنځته کېدو سبب شوی .

په ۱۹٦٢م کال کـې پـه رامنځتـه شـوي جنـگ کـې دهند څه دپاسه زرو فوځیانو خپل ژوند له لاسه ورکـړ او نېږدې ۳زره ژوندي ونیـول شـول چـې بیـا چـین دحسـن نیت ښکاره کولو په موخه بې له قید او شرطه ازاد کـړل ؛ ددواړو هېوادونو تـرمنځ پـه رامنځتـه شـویو جنگونـو کـې داجنگ تر ټولو ستر جنگ و چې شاید ددومره تلفاتو نـه ډک جنگ بیا رامنځته نه شي .

پدې جنگ کې چین دهند نه اکسائي چـین نـومي سیمه ونیولـه ؛ هند وایـې دا ددوئ سیمه وه چـې چـین پرې نـاروا قبضـه وکـړه خـو چـین وایـې چـې داسیمه پـه فطري لحاظ دچین برخه ده ؛ پرې دهند قبضه وه چې لـه قبضې یې را وویستل شوه.

دخپلوسرحدي لانجو دحل په موخه دواړو هېوادونو پـه خپلـو کـې سره ۲۲ ناسـتې هـم کړیـدي خـو کـومې نتیجـې تـه سره نـدي رسېدلي او نـه یـې دپـولې دکـومې برخې ستونزه حل شویده .

ددواړو هېوادونـــو داخـــتلاف شـــدت او ددریـــځ سختوالي تـه پـه پـام سره ځنـي خلـک داتـومي جنـگ درامنځته کېدو دخطر خبرې کوي.

خو زما په اند دا وېـره پرځـای نـده ؛ ډېـرو هېوادونو اتوم بمونه جوړ کړي او دخپلـې دفـاع لپـاره یـې لـه ځـان سره ساتلي دي خو پرچا دورغورځولو خطر ترې څوک نه محسوسوي ؛ داتومي جنگونو زمانه ډېره وروسته پاتې ده ؛اوس خلک له ځان سره ډېر احتیاط کوي ؛ ستر طاقتونه دیو بل سره ډېره گوزاره کوي ؛ که روابط ډېر هـم خـراب شي خو یوله بل سره ځان په جنگ کـې نـه اختـه کـوي؛ اوس نړۍ داقتصادي جنگونو پرلور روانه ده ؛ له توپونـو ،

بمونو اوګوليو چلولو پرته په ملکونو اقتصادي حملې کېږي او دهمدې اقتصادي حملو او اقتصاد بربادولو له لارې نظامونه تباه کولی شي او په هېوادونو قبضې هم روانې دي.

نن دهېوادونو بقاپه اقتصاد ده او توليد اوسوداګري داقتصاد بنسټ دی.

هند کې له زرمليونو نه زيات انسانان ژوند کوي ؛ هند په زراعت کې خود کفا دی ، خپل زرمليونه نفوس ته دځينوتازه او وچو مېوو پرته بل هيڅ هم له بهره نه راوړي؛ خو خپله دبرقي سامان آلاتو او موبايلونو ايله ۲۰ سلنه اړتيا پخپله پوره کولی شي ؛ نوره ۸۰ سلنه اړتيا دهند سوداګر دچين نه پوره کوي ؛ دهند نورګاونډيان لکه پاکستان ،بنګله ديش ، برما ،سری لانکا ، بوټان نيپال يوهم داسې ندی چې ددې اړتيا يوه سلنه پوره کړي .

هند خپله دا ټوله اړتيا دچين نه پوره کوي ؛ هند برقي سامانونه او موبايلونه له تايوان ، جاپان او امريکا نه هم راوړای شي مشکل دادی چې يوخو ديادو هېوادونو دمصنوعاتو نرخونه ډېرلوړ وي اوبل له هند نه دلريوالي له امله يې هند ته تر رارسېدلو قيمت دومره زياتېږي چې دهند خلک يې بياداخستلو توان نه لري.

داوسني تاو تريخوالي نه پس ځينو ممتعصبو هندوانو سوداګرو دچين دمصنوعاتو سره دبريکوټ تحريک وچلولوخو دهند دولت ددوئ داحماقت تائيد نکړ او نه په عامو خلکو کې ددوئ دې تحريک ته قبوليت وربه برخه شو.

که بالفرض هند دچين سره تجارتي اړيکې پرې هم کړي دچين پر اقتصاد يې بدې اغېزې نه پرېوځي ځکه چې دچين نور ګاونډيان يانې افغانستان ، پاکستان ، برما ،نيپال ، لاوس ،شمالي کوريا ، بوټان ،ويتنام ، روسيه ، قزاقستان ، کرغيزستان او تاجکستان ټول دچين مصنوعات کاروي؛ دنړۍ په نيمو مارکيټونو کې دچين مصنوعات پلورل کېږي چې دادخلکو مجبوري ده ځکه چې دهر هېواد دخپلو مصنوعاتو په پرتله دچين دمصنوعاتو نرخونه کم وي ځکه خو دنړۍ په مارکيټ دچين قبضه مخ په وړاندې روانه ده او په نېږدې راتلونکي کې چين دنړۍ ترټولو ستر اقتصاد ګرځي .

خو لنډه دا چې دچين او هند تر منځ دلوی جنګ درامنځته کېدو هيڅ وېره نشته ؛ چين خو هسې هم دجنګ نه ځان ساتي او هند هم په رښتيا جنګ نه غواړي.

**اصل خبره داده چې هند دا هرڅه د يوې پاليسی له مخې کوي؛ هند دچين سره دامريکا او نور لويديځ دښمني دځان لپاره ښه چانس ګڼې؛ هند پدې پوه دی چې چين جنګ نه کوي نو لاس ور اچوي اوله دې لارې دامريکا اونور لويديځ نه ډېرې سترې ګټې ترلاسه کوي .**

تاسې وګورئ ! نن په ټولې سيمې کې دامريکا اونور لويديځ تر ټولو ښه روابط دهند سره دي ؛ دهند سره هر ډول ترونونه لاسليک کوي ؛ دملګرو ملتونو ادارې کې يې هر ډول حمايت کوي او په هند او کشمير کې يې په ټولو وحشتونو سترګې پټې کړيدي ، نو داسې ښکاري چې تر څو دامريکا او نورلويديځ نه دهند داګټې ترلاسه کېږي هند به داسې اقدامات کوي چې په ښکاره چين ته دتشويش سبب ګرځي.

# د ذبح (حلالولو) اړوند مسائل

هغه رګونه چې دذبح په مهال يې قطع ضروري ده

پوښتنه : د حيوان په ذبح کولو کې کوم رګونه ضروري دي چې بايدقطع او پرې کړل شي ؟

الحواب - هغه رګونه چې قطع او پرې کول يې ضروري دي أول حلقوم ده،چې پکې ساه چليږي ،

دويم ،مري ده،چې پکي خوراک تيره وي ،

دريم أو څلورم، دوه رګونه دي چې ورته( ودجان (وائي دا دوه رګونه دحيوان د غاړې په طرف کې دي چې پکي جريان دويني وي ،د دغو څلورو رګونوپه پريکولوسره حيوان حلاليږي اوکه يې اکثر دهمدې رګونو پرې کړوهم دامام صاحب رح، په نزد يې ذبح صحيح ده.

اوصا حبين رحمهماالله وائي چې لابدي ده له قطع دحلقوم اودمري ، اويوله ودجانو، څخه دلته صحيح قول دامام رحمه الله ده،

(۱)لما في الهندية المشهور بالعالمګيرية ۲۸۷ /۵ / والعروق التي يقطع في الذکاة اربعة ،الحلقوم ،وهو مجري النفس والمري وهومجري الطعام،والودجان ،وهما عرقان في جا نب الرقبة يجري فيهما الدم ، فان قطع کل الاربعة حلت الذبيحة وان قطع اکثرها فکذلک عند ابي حنيفة رحمه الله تعالی وقالا لابد من قطع الحلقوم والمري واحدالودجين ،والصحيح قول ابي حنيفة رحمه الله لان للاکثر حکم الکل کذا في المضمرات ، (۲)وفي درمختار۴۹۱ /۹ /وعروقه الحلقوم کله وسطه وأعلاه وأسفله أه

مسئله —که دقرباني حيوان قصاب أويا بل شخص ذبح کوي أوخاوند دقرباني ورسره کومک کوي لاس يې له قصاب سره په چاړه لګولی وي دواړه به ضروربسم الله اوالله أکبر،واي که يو دوئ څخه يې ووای بل يې پريږدی دقرباني دغوښی خوراک يې جائز نده ،

(۱)لما في الهندية/ ۳۰۴ .۵ / رجل أراد أن يضحی فوقع صاحب الشاة يده على السکين مع يد القصاب حتى تعاوناعلى الذبح قال الشيخ الامام رحمه الله،يجب على کل واحد منهما التسمية حتى لو ترک أحدهما لايجوز کذا في الظهيرية .

(۲) وفي الدرمختار الجديد/۵۵۱ /۹ /مکتبه حنيفيه ، أذاأراد التضحية فوضع يده مع القصاب في الذبح أوأعانه على الذبح سمى کل واحد وجوباً فلوترک أحدهما أوظن أن تسميته أحدهما تکفي حرمت، والله اعلم بالصواب

مسئله-دزنانه ؤ دلاس ذبحه صحيح ده اوخوراک يې جائزده څوک چې هغه حرامه بولي ګنهکار ده خو دا چې ښځي دذبحې په چارو، ښی نه پوهيږي اوکيدلای شي دزړه دنرموالی له امله يې لاس وربانديي سم ونه خوځيږي نو نن سبا ورته دحلالولوکار سپارل منا سب ندي ، البته دذبح په حلال والی کی يې بيا هم هيڅ شک نشته جائز ده ،

(۱)رسائل مولانا رفعت ،/۱۴۷/۵

(۲) بحواله امدادالمفتين /ج۹۵۷/۲/

پوښتنه :که د قرباني حيوان داهل تشيع (شيعګانو ) څخه يو سړی ذبح کړي ذبح يې جائز ده اوکنه ؟

الجواب، علما ء فرما يې کوم شيعګان چې شيخينو (ابوبکر صديق رضی الله عنه ، او عمر فاروق رضی الله عنه ) ته بد اورد وايي هغوی ځينې علماء مرتد او کافر ان بولي دهغو له حلالې سره دسنې مذهب مسلمان لپاره احتياط لازمي اوحتمي ده ،اصل داده چې په شيعګانو کی بعضې داسی ډلی اوفرقې شته ،چې په اتفاق دعلماء سره کافران دي يودادي چې په حضرت عائشی صديقی رضی الله عنها ، پسې دروغ وايي اوحضرت على کرم الله وجهه ته صفت دالوهيت ثابت وي ، دابوبکررضی الله عنه ، له صحابيت منکر دی او داسی نور ، د مذکوره شيعګانو ذبح حرام، او خوراک يې جائز نه ده ، او دنور و شيعګانو په کفر کی اختلاف ده، د تفصيل لپاره جواهر الفتاوی وګوري !!
والله اعلم بالصواب

اسلام سايټ څخه په مننه



عاکف مهاجر

# طالب بندي خپل مشر ته!

په ټولنیزو رسنیو کې د هغه طالب بندي غبریز کلیپ مې واورید چې کلونه یې د باګرام زندان کې شکنجې او تکلیفونه ګاللي او د حکومت له لوري د ورکړل شوي قید له مخې باید کلونه نور هم هلته پاته شي.

د دغه غبریز کلیپ په اوریدلو سره مې ناګهانه له خولې د سبحان الله الله اکبر کلمه له خولې و وتله او هغه ایت کریمه راته یاد شو چې و یؤثرون علی انفسهم و لوکان بهم خصاصة.

طالب بندي وایي مونږ له باګرام زندان راو وتلو مولوي صاحب نیازمحمد او نور ملګري هم راسره دي ملا غفار دوی ته انتظار یو چې هغوی را و وځي تول به یوځای ځو.

خو د خبرو په جریان کې یوه داسې عجیبه خبره کوي چې د حقیقي اسلامي اخوت یو یادګار ده او د ریښتونې اسلامي ورورولي یوه نمونه ده.

پوهیږې هغه څه وایي!

د افغانیت او اسلامیت نمونه وایي مولوي صاحب نیازمحمد ترابي صیب ته ویل زه به همدلته باګرام کې پاته شم زه به نه وځم که زه لاړ شم د نورو بندیانو کیسه دلته خرابه نه شي.

د بندي له خبرو داسې معلومیږي چې مولوي نیازمحمد باګرام زندان کې دننه د طالب بندیانو یو قسم نمایندګي او سرپرستي کوي.

دا لومړی ځل نه دی چې د طالب بندیانو په اړه داسې خبر اورم هغه ورځ د باګرام څخه راخلاص شوي یو بندي سترې مشې ته ورغلي وو د باګرام د ژوند په اړه مو ترې وپوښتل، ویل یې یو ځل چې امریکا له طالبانو سره د خبرو په جریان کې د بندیانو په سر مذاکرات ټکني کړل مونږ راټول شولو چې خدای مکړه زمونږ د خلاصون له وجې مشران تنزل ونکړي او د اسلامي امت او هیواد لپاره د تاوان څه ورسره ونه مني نو د بندیانو د مسئولینو یو مجلس مو جوړ کړ.

بندي وړاندې ویل چې مونږ ټولو له بندیانو سره تر خبرو وروسته په یوه خوله دا پریکړه وکړه چې مونږ دې تل همدلته پاته شو، اعدام دې شو، خو زمونږ په سر باید تنزل ونه شي.

نوموړي و ویل مونږ د مولوي امین جان صیب په نمایندګي د امارت مسئولینو ته خپل همدغه پیغام پریښود چې رښتیا هم هغه مهال دغه پیغام په رسنیو کې نشر شوی هم وو.

د دغه خبر له اوریدو سره د عبدالله ابن حذافه رضی الله عنه خبره رایاده شوه چې کافر بادشاه له نورو ګڼو وړاندیزونو وروسته ورته وایي زما تندی مچو کړه زه به دې خلاص کړم خو هغه جواب ورکوي، وروسته ورته وایي ښه ستا د قوم اتیا نور اسیران هم درسره خلاصوم خو زما تندی مچو (ښکل) کړه، عبدالله ابن حذافه رضی الله عنه وایي قسم په الله که ما د خپل خلاصون لپاره دا کار کړی وي ما د خپلو اتیا نورو ملګرو د خلاصون لپاره وکړ او تندی مې هم نده ورته ښکل کړی بلکې لاړې مې پرې ور توپ کړلې.

اسلام د همدغسې زلمیو او خوانانو په قربانیو او تکلیفونو تازه ساتل شوی او د اسلام دښمنان هم د دوی له اسلام سره مینې ته حیران دي.

## په هلمند کې د کابل ادارې لخوا د ستر جنایت په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې

د بشرضد او جنګي جنایتونو په دوام، نن سهار شاوخوا ۹ بجې د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ په زاړه بازار کې د کابل ادارې د میونډ قول اردو اړوند د دوهمې لوا څخه د ولسي خلکو د ځارویو د خرڅلاو پر مرکز (ګنج) او ګڼه ګوڼه، توغندیز بریدونه وشول.

په دغه ستر وحشت کې لسګونه تنه ولسي خلک چې ماشومان او سپین ږیري هم پکې دي؛ شهیدان او ټپیان شوي، همدا ډول د عامو خلکو ګڼ شمېر ځاروي هم تلف شوي دي.

اسلامي امارت د مزدور دښمن لخوا په قصدي ډول دومره ستر جنایت ترسره کول؛ په تر ټولو کلکو ټکو غندي او دا کار یو ناورین او بشرضد عمل بولي.

ډېره د تأسف خبره بیا داده چې د کابل ادارې، ارګ او نورو چارواکو د دې پرځای چې د خپل دې لوی وحشت له امله له هلمندي ولس څخه بښنه غوښتې وای او د توغندي ویشتونکو جنایتکارانو د نیولو او مجازات ژمنه یې کړې وای؛ د ټول هلمندي ولس په سترګو کې یې خاورې ور وشیندلې او دغه توغندیز بریدونه یې په ګونګو الفاظو، موټر بم برید معرفي کړل ترڅو دغه پېښه د اسلامي امارت پر مجاهدینو ور واړوي.

په داسې حال کې چې د پېښې له ځایه د عامو خلکو ویډیویې، صوتي او تصویري اسناد ټول د توغندیو د ویشتو ګواهي ورکوي او د دغه بازار په شاوخوا سیمه کې هیڅ کوم نظامي عملیات او جګړه هم نه ده شوې.

خو د کابل ادارې لخوا انکار او د پېښې مسئولیت بلې غاړې ته منسوبول؛ ثابتوي چې د داسې جنایاتو تر شا همیشه د کابل ادارې لاس وي، بیا د دې لپاره چې تر ملامتۍ لاندې رانشي انکار کوي، د واقعیت خلاف پروپاګند خپروي او د خلکو د تیر ایستلو هڅه کوي.

رسنۍ د پېښې ځای ته ورتللی شي، له خلکو څخه معلومات کولای شي او مستند راپورونه خپرولی شي.

قاري محمد یوسف احمدي د اسلامي امارت ویاند

۱۴۴۱/۱۱/۸هـ ق/۱۳۹۹/۴/۹هـ ش

## د ځینو غربي رسنیو د غلطو ادعاوو په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې

ځینو غربي رسنیو راپورونه خپاره کړي چې ګنې د اسلامي امارت مجاهدینو د روسیې له هېواد څخه د امریکایي عسکرو د وژلو لپاره امکانات تر لاسه کول او داسې نور افواهات.

موږ دا ادعا په کلکه ردوو، د اسلامي امارت تیر نولس کلن جهاد د هیڅ استخباراتي ارګان او کوم بهرني هېواد د احسان پوروړی نه دی او نه هم اسلامي امارت د اهدافو په تشخیص کې چاته محتاج دی.

اسلامي امارت په نولس کلن جهاد کې له هغو وسلو، امکاناتو او وسائلو څخه ګټه اخیستې چې لا وختې په افغانستان کې موجود وو او یا یې وخت په وخت له مقابل لوري نه د جنګ په جریان کې په غنیمت نیولي دي. امریکایي قواوو ته تر ټولو زیات زیان هغو ساده پلاستیکي ډبو ور اړولی چې افغانانو په خپلو کورونو کې پخپل لاس له جوړشویو باروتو ډکولې.

دا ډول افواهات د دې لپاره خپریږي چې د امریکایي عسکرو د وتلو په وړاندې خنډونه ایجاد شي، په امریکا کې د سولې طرفدار ذهنیت ضعیف او مشوش کړي او د افغانانو ستره قهرماني او لاسته راوړنه بیګانه جهتونو ته منسوب شي.

موږ خپل ملت او بیا ټولې نړۍ ته اطمینان ورکوو چې اسلامي امارت د هیچا د لاس آله نه ده او نه هم د پردو موخو لپاره استخدامیږي، بلکې د خپل دین، هیواد او علیا ګټو د ساتنې لپاره یې قرباني ورکړې او هرڅه یې پخپل مټ او متانت سره تر لاسه کړي دي.

دا ډول افواهات د اسلامي امارت په دریځ کوم اغېز نشي درلودلای. موږ چې کومه توافقنامه د امریکا له متحده ایالاتو سره لاسلیک کړې په عملي کېدلو کې یې د بشپړې سولې هدف ته رسیدل یقیني بولو او لکه څرنګه چې مو تر اوسه په بشپړه توګه عمل ورباندې کړی په راتلونکې کې هم ورته ژمن یو.

ذبیح الله مجاهد د اسلامي امارت ویندوی

۱۴۴۱/۱۱/۶هـ ق

۱۳۹۹/۴/۷هـ ش ـ ۲۷/٦/۲۰۲۰م



# رسول الله صلی الله علیه وسلم

استاد فضل ولي ناګار

رحمة للعلمين رسول اللّه دی
د رب ستر ایت مبین رسول اللّه دی

پاک قران یې نوم په ښکلې ژبه اخلي
مزمل، طه، یسین رسول اللّه دی

رقیبان یې له لوی شانه منکر نه شول
وایي ټولو کې امین رسول اللّه دی

د محشر په ورځ د حمد بیرغ یې لاس کې
په قدسي انوارو سپین رسول اللّه دی

کاڼي بوټي په سلام، اقصی کړه یاده
دا امام المرسلین رسول اللّه دی

جبراییل له کربلا نه خاوره راوړه
په حسین خپه حزین رسول اللّه دی

چې د آل او د اصحابو مینه وال وي
له هغو قریب قرین رسول اللّه دی

ناګار ځکه له ګناه نه نه ویریږي
چې شفیع المذنبین رسول اللّه دی

د غبرګولي ۲۷مه، ۱۳۹۹ل

Shahamat

## ابراهيمي هوډ

شاعر: مولوي بدرالدين حقاني

د ظلم تاريکو ته سپينه لمره زنده باد
راځه د امارت سپينه لښکره زنده باد

دا پورې د زيارت سپينې کوترې راورې زيرې
بيرغه رپيدو کې دې وزرې راورې زيرې
د شيخ هبة اللّٰه خوږه عسکره زنده باد

دا شرنګ د زولنو ده که برېښنا ده د اسمان
د بدر ملايکې دي که ورونه فدايان
مرحومه حقاني ملا عمره زنده باد

تناکې قدمونه به دې ښکل کړمه جانانه
موقف ابراهيمي کې په شانه شولې له چانه
د قطر فيصله دې برادره زنده باد

موږ هم داسې ولس لکه سندان يو درسره يو
د فن او هنر غرونه عاليشان يو درسره يو
تول نشول بدرالدينه! له خيبره زنده باد